# اسلامي نظام

شيخ تقي الدين النبهاني رح

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي نظام

## د حزب التحریر له خپرونو څخه

لومړی عربي چاپ
۱۳۷۲هـ.ق- ۱۹۵۳م

شپږم عربي چاپ
۱۴۲۲هـ.ق – ۲۰۰۱م

پنځم پښتو چاپ
۱۴۴۱هـ.ق- ۲۰۲۰م

امت کتاب
www.ummatproduction.com
کابل - افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مطالعې وړاندې

ستاسو په لاس کې دغه کتاب، د هغه له اصلي نسخې څخه –چې په عربي ژبه کې کښل شوې– ژباړل شوی دی. هغه څه چې د لیکوال موخه ده، د هغه له اصلي ژبې پرته بشپړ نه شو بیانولی، نو د ژباړل شوي کتاب ستونزو او نیمګړتیاوو ته پام مه کوئ او د لا غوره دقت لپاره يې اصلي نسخې ته مراجعه کولای شئ.

آیتونه د عثماني مصحف له معیار سره سم لیکل شوي او ژباړه یې په مایل لیک د اړوند سورت له ادرس سره او احادیث په عربي ډبل لیک له اړوند ادرس سره لیکل شوي دي. همداراز په ځینو حالتونو کې له ځانګړو نښو څخه ګټه اخیستل شوې ده، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

د ایمان راوړلو طریقه ........ ١
قضا او قدر ........ ١٤
په اسلام کې فکري قیادت........ ٢٣
د اسلامي دعوت څرنګوالی ........ ٦٠
اسلامي فرهنګ او تمدن........ ٦٧
اسلامي نظام........ ٧٢
شرعي حکم ........ ٧٩
د شرعي حکمونو ډولونه ........ ٨٢
سنت ........ ٨٣
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د افعالو پیروي........ ٨٤
د شرعي احکامو تبني ........ ٨٦
دستور او قانون ........ ٨٨
د خلافت دولت دستور ........ ٩٤
اخلاق په اسلام کې ........١٥٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ایمان راوړلو طریقه

انسان چې له ژوند، کایناتو، انسان او د دې نړۍ له پیدا کېدو مخکې او وروسته په اړه فکر کوي، د هغه پر اساس نهضت مومي. نو د انسان په دې فکر کې د بنسټیز، اساسي او هر اړخیز بدلون په راوستو سره د نهضت لپاره باید بل نوی فکر ورکړل شي. ځکه یوازې فکر کولای شي چې انسان ته له څیزونو څخه نوي مفاهیم ورکړي او دغه مفاهیم هلته تمرکز ومومي او انسان له همدغه مفاهیمو سره سم په خپل ژوند کې خپله ناسته پاسته (سلوک) برابروي. همدا ده چې یو انسان له خپل دوست سره، چې له هغه څخه د دوستۍ مفاهیم لري، داسې راشه درشه کوي چې له یوه دښمن او بدي لرونکي سړي سره یې نه شي کولای، ځکه له هغه څخه د کینې مفاهیم لري یا هم له یو نا آشنا سره د هغه د سلوک خلاف عمل کوي، ځکه له هغه څخه هېڅ مفهوم نه لري. نو له همدې امله انساني سلوک د انسان په مفاهیمو پورې تړاو لري او دا زموږ په اراده کې شته، چې د انسان سلوک له ټیټ حالت څخه لوړ او مترقي حالت ته واړوو او دا هله کېدای شي چې لومړی د هغه مفاهیمو ته بدلون ورکړو. الله سبحانه وتعالی په دې هکله فرمایي:

﴿...إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ...﴾ (الرعد: ١١)

***ژباړه:*** *الله د یو قوم حال تر هغه نه بدلوي، ترڅو چې هغوی په خپلو فکرونو او ځانونو کې بدلون رانه ولي.*

د مفاهیمو د بدلولو لپاره یوازې یوه لار شته، چې دنیوي ژوند په اړه فکر رامنځته شي، ترڅو انسان ته له هغه څخه سم او صحیح مفاهیم ورکړل شي. فکر تر هغه له دنیوي ژوند څخه د پایلو د تر لاسه کولو لپاره نه متمرکز کېږي، ترڅو له انسان، ژوند او کایناتو، تر هغه مخکې او وروسته او له مخکې او وروسته سره یې د تړاو په اړه فکر ونه شي او په دې هکله یو هر اړخیز او شامل فکر ورپیدا نه کړي، چې د دغو کایناتو، انسان او ژوند تر شا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه دي. ځکه دا هغه فکري قاعده ده، چې پر هغه له ژوند څخه لاس ته راغلي ټول افکار درېږي او له دغو څيزونو څخه د هر اړخيز فکر ورکول د انسان د لويې غوټې پرانيستل دي. د دې غوټې په پرانيستو سره پاتې نورې غوټې هم پرانيستل کېږي، ځکه نورې غوټې تر دې جزيي او وړې دي. مگر يوازې دغه حل د سمې بيدارۍ او نهضت لامل نه شي کېداى، ترڅو چې سم نه وي، يعنې د انسان له فطرت سره سم وي، عقل ته قناعت او زړه ته ډاډ ورکړي.

خو بيا هم دغه صحيح حل له کايناتو، انسان او ژوند څخه له مستنير فکر پرته ترسره کېدونکى نه برېښي. ځکه خو د نهضت پر لاره تلونکى بايد دغه غوټه تر هر څه وړاندې د مستنير فکر په واسطه پرانيزي، چې دغه حل عقيده ده او دا هغه فکري قاعده ده چې ټول هغه فرعي افکار ورباندې درېږي چې په ژوند کې سلوک او د هغې نظامونه ورڅخه اخيستل کېږي.

اسلام د دې سترې غوټې د پرانيستو تکل کړى او دغه غوټه يې له فطرت سره په همغږۍ، د عقل په قناعت او د زړه په ډاډ پرانيستې او ستونزه يې هواره کړې ده. د دغه حل له عقلي منلو او پر هغه له اقرار کولو او ژبې خوځولو پرته هېڅوک مسلمانېدلى نه شي. له همدې امله اسلام پر يوه اساس ولاړ دى، چې هغه عقيده ده او هغه دا چې د دې کايناتو، انسان، ژوند او ټولو مخلوقاتو تر شا يو پيدا کوونکى، خالق او د لوى ښتن سپېڅلى ذات شته، چې دا هر څه يې ټول پيدا کړي. خالق هر څه له نشت څخه رامنځته کړي او دى واجب الوجود دى، غير مخلوق دى. مگر دا چې خالق دى، نو هېڅکله مخلوق کېداى نه شي او حکم کېږي چې واجب الوجود وي، ځکه هر څه د ده پر وجود ولاړ دي او دى پر هېڅ څېز تکيه نه لري.

د څيزونو لپاره د خالق شتون حتمي دى، ځکه کوم څه چې عقل يې درك کولاى شي، هغه انسان، ژوند او کاينات دي. دا څيزونه ټول محدود، عاجز، ناقص او په خپل وجود او شتون کې بل ته اړ دي. نو انسان محدود دى، ځکه په هر څه کې تر ټاکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library


اندازې پورې وده کوي، له هغه څخه تېرى نه کوي. ژوند ځکه محدود دی، چې يوه فردي پديده ده او په حس سره د دغه ليدنه هم د فرد په واسطه سرته رسېږي، چې دا خپله محدوده ده. کاينات ځکه محدود دي چې دا د کتلو مجموعه ده او هره کتله بيا خپله محدوده ده او د محدودو ځيزونو مجموعه حتما محدوده ده. نو انسان، ژوند او کاينات ټول په قطعي توګه محدود دي.

کله چې موږ محدودو ځيزونو ته ګورو، مومو چې محدود او ټاکل شوی شی ازلي نه وي، بلکې د بل په لاس پيداشوی وي او مخلوق بيا خالق ته اړتيا لري، چې دا بيا هماغه الهي او واجب الوجود ذات دی چې د انسان، کايناتو او ژوند خالق دی. دغه خالق به يا د بل چا مخلوق وي يا به د خپل ځان خالق وي او يا به واجب الوجود او ازلي وي. دا چې د بل چا مخلوق به وي ځکه سمه نه ده، چې دی به بيا محدود وای او محدود بيا د خلقت وړتيا نه لري، که د ځان خالق وي او خپله دی مخلوق هم وي، په عين وخت کې دا هم شونې نه ده. نو دا حتمي ده چې دغه ذات واجب الوجود، ازلي او خالق وي او هغه الله سبحانه وتعالی دی.

هر څوک چې عقل ولري، هغه ځيزونه چې حس کېدای شي، د هغو شتون درک کړي، په دې پوهېږي چې دا هر څه چې دی يېويني، ټول مخلوق او پيدا شوي دي او يوه خالق او پيدا کوونکي ذات ته اړتيا لري. ليدونکی په دې پوهيږي چې دغه توکي ناقص، عاجز او نورو ته اړ دي، نو دا په پوره ډول مخلوق دي. له دې امله دا کافي ده چې په کايناتو، ژوند او انسان کې هر څه ته نظر واچوي او په هغو سره د خالق، مدبر ذات شتون ثابت کړي. نو د کايناتو هر ستوري ته کتل او د ژوند په هر مظهر کې غور کول او په انسان کې د هرې ناحيې موندل، ټول د الله سبحانه وتعالی پر وجود دلالت کوي. ځکه خو قرانکريم هم انسان دغې خوا ته را کاږي، ترڅو خپل ځان، ښکته، پورته او ټول چاپيريال او اړوندو شيانو (انسان، ژوند او کايناتو) ته وګوري او له دې څخه الله سبحانه وتعالی ته ځان ورسوي. کله چې انسان ځيزونو ته ګوري او دا درک کوي چې څنګه يو بل ته اړ دي، نو پوهېږي چې دا يو مدبر خالق لري او هغه په قطعي ډول پيژني. په دې هکله د قرآن کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلگونه آیتونه راغلي دي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُولِي الأَلْبَابِ﴾**

(آل‌عمران: ۱۹۰)

***ژباړه:*** *ربښتيا چې د ځمکې او آسمانونو په پيدايښت او د شپې او ورځې په بدلون کې د عاقلانو او هوښيارانو لپاره ډېرې نښې او دليلونه شته.*

**﴿وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ﴾** (روم: ۲۲)

***ژباړه:*** *د هغه (دشته والي او وجود) له نښو څخه د ځمکې او اسمانونو پيدايښت او هم ستاسې د ژبو او رنګونو بدلون او اختلاف او رنګارنګتوب دی، د عاقلانو لپاره.*

**﴿أَفَلاَ يَنظُرُونَ إِلَى الإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ* وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ* وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ* وَإِلَى الأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ﴾** (الغاشيه: ۱۷- ۲۰)

***ژباړه:*** *آيا اوښ ته نه ګورې څنګه پيدا شوی، آسمان څنګه پورته درول شوی او غرونه څنګه نصب شوي دي او ځمکه څنګه اواره شوې ده.*

**﴿فَلْيَنظُرِ الإِنسَانُ مِمَّ خُلِقَ* خُلِقَ مِن مَّاءٍ دَافِقٍ* يَخْرُجُ مِن بَيْنِ الصُّلْبِ وَالتَّرَائِبِ﴾**

(الطارق: (۵- ۷)

***ژباړه:*** *انسان بايد وګورې چې له څه شي څخه پيدا شوی، له ټوپ وهونکو اوبو څخه چې د ملا او سينې له منځه راوتلي دي.*

**﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾**

(البقره: ۱٦۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


***ژباړه:*** *رښتیا چې د ځمکې او آسمانونو په پیداینښت او د شپې او ورځې بدلول او په بحرونو او دریابونو کې ګرځېدونکې کښتۍ، چې خلکو ته ګټه رسوي او له آسمان څخه را ښکته شوو او د ځمکې ژوندي کوونکې او شنې کوونکې اوبه او د ګرځېدونکو او خوځېدونکو خواره کېدل او د ځمکې او آسمان تر منځ ګرځېدونکې ورېځې ټول د یو عاقل او هوښیار قوم لپاره نښې او دلیلونه دي.*

دا او داسې نور آیاتونه دي، چې انسان را بولي ترڅو خپل ځان، چاپیریال او اړوندو شیانو ته ښه په غور وګوري او د مدبر، خالق او پیداکوونکي ذات الله سبحانه وتعالی شتون ته ځان ورسوي، ترڅو یې پر الله سبحانه وتعالی ایمان د عقل او وضاحت له مخې راسخ او ټینګ شي.

هو! پر مدبر خالق ایمان درلودل د انسان فطري غوښتنه ده، چې د احساساتو له لارې منځ ته راځي. البته دا لار پایلې ته د رسېدو لپاره په امن نه ده او کله چې احساسات یوزاې پرېښودل شي، نو مرکزي موخې ته نه شي رسېدای، ځکه احساسات پخپله ډېر داسې څه له ځان سره په باورونو کې زیاتوي چې حقیقت به نه لري. مګر احساسات د هغه څه په اړه چې ایمان یې ورباندې راوړی، لازمي صفات په تخیل کې راولي، چې په دې ډول سړی په کفر یا ګمراهۍ کې واقع کېږي. هغه که د بتانو عبادت که د خطا او بې اساسه ګروهو یا عقیدو شته والی دی. دا د وجدان له خطا پرته بل څه نه دي. ځکه خو اسلام د ایمان طریقه یوازې انساني احساساتو ته پرېښښوده، ترڅو انسان الله سبحانه وتعالی ته داسې صفات ونه مومي چې د هغه له الوهیت سره ټکر ولري. یا مادي څیزونو کې د تجسد امکان رامنځته کړي یا ده ته د نژدېوالي لپاره د ځینو مادي اشیاوو د عبادت د امکان په اړه تصور وکړي، چې بیا یا د کفر یا شرک او یا هم د ایمان ضد بې بنسټه اوهامو او خرافاتو په لور روان نه شي. د همدې لپاره اسلام د ایمان په طریقه کې له احساساتو سره روښانه عقل کارول هم حتمي کړل او مسلمان ته یې امر وکړ ترڅو پر الله سبحانه وتعالی د ایمان لپاره له خپل روښانه عقل څخه کار واخلي او په عقیده کې یې تقلید منع کړ. له همدې امله یې پر الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحانه وتعالی د ایمان لپاره عقل حکم و گرځاوه. الله تعالی سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ﴾

(آل‌عمران: ۱۹۰)

***ژباړه:*** *رښتيا چې د ځمکې او آسمانونو په پيدايښت او د شپې او ورځې په بدلون کې د عاقلانو او هوښيارانو لپاره ډېرې نښې او دليلونه شته.*

ځکه خو پر هر مسلمان باندې ده چې له تفکير، بحث، ليد او ځيرنې څخه وروسته ايمان راوړي او پر الله سبحانه وتعالی د ايمان لپاره مطلقاً عقل حکم وکړي. په کايناتو کې د فکر کولو لپاره بلنه د دې لپاره ده، ترڅو د هغه سنتونه ورڅخه استنباط شي او د هغه د خالق لوري ته د ايمان راوړلو لپاره د لارښوونې لامل شي. د همدې لپاره دغه خبر په قرانکريم کې په سلگونو ځله په وار وار يادېږي، چې د عاقل انسان بايد له خپلو ځواکونو لکه پوره هوښ، فکر او غور څخه له استفادې وروسته يې ايمان له عقل او څرگندونې څخه سرچينه واخلي او په پلرونواو نيکونو پسې په پټو سترگو له پلټنې او پوهې پرته روان نه شي، ترڅو د هغو د حقيقت او ذاتي ثقه والي په اړه يې چې څېړنه نه وي کړې، ايمان رانه وړي. هو، دا هغه ايمان دی چې اسلام يې غواړي او خلک ورته رابولي، نه د زړو ښځو ايمان. دا ايمان مستنير، مستيقن ايمان بلل کېږي چې په اړه يې ډېره ليدنه کتنه کېږي، بيا ډېر فکر کېږي او بيا د ليدنې او تفکير څخه وروسته د الله سبحانه وتعالی پر لويی او قدرت يقين کېږي.

سره له دې چې پر الله سبحانه وتعالی د ايمان لپاره له عقل څخه گټه اخيستنه واجب ده؛ خو عقل له خپل حس او عقل څخه پورته او لوړ شيان نه شي درک کولای، ځکه انساني عقل د انسان په شان محدود دی، ځواك يې هم محدود دی لکه څنگه يې چې په ټاکلو حدودو کې وده کړې او له هغو حدودو څخه يې تېری نه دی کړی، له همدې امله محدود درك لري. نو ځکه دا حتمي ده چې عقل به د الله سبحانه وتعالی د ذات د درك په هکله تقصير وکړي او د هغه د حقيقت او څرنگوالي د پېژندلو لپاره به عاجز شي. الله سبحانه وتعالی د کايناتو، انسان او ژوندانه تر شا دی او انساني عقل د کايناتو، ژوند او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان له ما وراء څخه حقیقت لاس ته نه شي راوړی، له همدې امله د الله سبحانه وتعالی ذات له موندلو څخه عاجز دی. خو دا هم باید څوک ونه وایي، چې بیا نو څرنګه انسان د خپل عقل له مخې پر الله سبحانه وتعالی ایمان راوړي؟ انسان د الله سبحانه وتعالی پر شتون او یووالي ایمان راوړي او وجود یې د مخلوق (کایناتو، انسان او ژوند) د شتون او ښکلي نظم څخه رابرسېره کېږي، چې عقل بیا په دې شیانو برلاسی دی او له همدې لارې یې خپل خالق پیژندلی او ځان یې ورته رسولی دی، چې هغه الله سبحانه وتعالی دی. ځکه خو د الله سبحانه وتعالی پر وجود ایمان هم عقلي او د عقل په حدودو کې وي؛ خو د الله سبحانه وتعالی د ذات او څرنګوالي پیژندنه یو نه کیدونکی کار دی، ځکه هغه له کایناتو، ژوند او انسان څخه ماوراء دی او دا له عقل څخه هم ماوراء دی، عقل ته له خپل ما وراء څخه ځکه د څه شي د حقیقت درك کول ممکن نه دي، چې هغه له خپل ماوراء څخه عاجز دی او دا باید خپله د ایمان د تقویه کولو لپاره یو بل دلیل او بله ستنه شي، نه د شك له عواملو څخه کوم عامل. کله چې زموږ ایمان هم د عقل او ادراک له لارې منځ ته راځي، نو د هغه د موجودیت په اړه به زموږ ادراك هم تام او بشپړ وي او کله چې زموږ شعور د هغه د وجود په اړه عقل ته نژدې وي، نو زموږ شعور د هغه پر وجود یقیني کېږي او دا هر څه موږ ته د اولوهیت د ټولو صفاتو په اړه بشپړ ادراك او یقیني شعور راکوي. له دې لارې موږ قانع کولای شي چې موږ د الله سبحانه وتعالی د ذات حقیقت نه شو درك کولای، سره له دې چې کلک ورباندې ایمان ولرو. له دې امله واجبه ده چې هغه څه ته تسلیم شو په کومو یې چې موږ خبر کړي یو، په کومو کې چې ادراك ته یې عقل نه رسېږي او نه خپله هغه ته رسېدای شي، دا د انسان طبیعي عجز دی چې انساني عقل نسبي محدودو مقیاسونو ته رسېدای شي، نه د مافوق څیزونو درك ته. حال دا چې دا ادراك داسې مقیاسونو ته اړتیا لري چې غیر محدود او غیر نسبي وي او انسان د هغه خاوند نه دی او نه د هغو څښتن کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما د دې ثبوت چې رسولانو ته ولې اړتیا ده؟ ځکه چې انسان د الله سبحانه وتعالی مخلوق دی او د هغه په فطرت کې یې تدین اېښی دی، چې هغه د غرایزو له جملې څخه یوه غریزه ده. انسان د خپل فطرت او پیدایښت له مخې د خپل رب، خالق، پیداکوونکي او پالونکي ذات عزت، تقدیس او عبادت کوي او له هغه سره اړیکې ټینگوي. دا ډول تقدیس عبادت دی او که د انسان او خالق دغه اړیکه له نظام پرته پرېښودل شي، نو بیا انسان حیران، پرېشانه او د بل شي پر عبادت اخته کېږي. نو اړینه ده چې دا اړیکه د سم نظام له لارې سنبال شي، خو دغه د عبادت نظام بیا د انسان په لاس نه جوړېږي، ځکه هغه د خالق حقیقت نه شي درك کولای، چې خپلمنځي اړیکه ورباندې ټینگه کړي. نو اړینه ده چې دا نظام د الله سبحانه وتعالی له خوا څخه وي. نو له دې امله د دې اړتیا لیدله کېږي چې خالق دغه نظام انسان ته ورسوي، له همدې امله له رسولانو پرته د الله دین خلکو ته نه شي رسېدلی.

دا چې انسان په خپل ژوند کې د خپلو غوښتنو پوره کولو او غریزو مړولو ته اړتیا لري، نو که دغه کار له کوم نظم پرته تر سره شي، نو خامخا به غلطي او خرابي پکې راځي، چې د انسان د بدبختۍ لامل به گرځي. مگر دغه نظام چې د انسان غریزې او عضوي اړتیاوې تنظیموي، د انسان کار هم نه دی، ځکه هغه لا تر اوسه پورې د غرایزو او عضوي اړتیاوو د پوهېدلو لپاره د خپل چاپېریال او طبیعي کمزورۍ ښکار دي او د یو شي په هکله بې طرفه او پاکه وینا نه شي کولای. هرومرو به په هغو کې توپیر، تناقض او اختلاف وي، چې دا خپله د انسان د بد بختۍ لامل کېږي او له دې امله دا ثابتېږي چې نظام هم باید د الله سبحانه وتعالی له لوري وي.

دا چې قرانکریم د لوی څښتن له لوري رېښتینی کتاب دی، ځکه دغه کتاب په عربي ژبه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله موږ ته رارسېدلی دی. نو دا به یا د هغه جوړ شوی او یا هم د کوم بل عرب جوړ شوی کتاب وي او که نه بیا به د الله سبحانه وتعالی کتاب وي او هیڅ امکان نه لري چې له دغو درې واړو څخه دې یو نه وي، ځکه چې هغه عربي او عربي الاسلوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ خبره خو ځکه سمه نه ده، چې قرآنکريم عربانو ته اعلان کوي، که د قرآنکريم مقابله کولای شئ نو همدغسې لس او يا هم يو سورت راوړئ:

﴿...قُلْ فَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ...﴾ (هود: ١٣)

***ژباړه:*** *ورته ووايه [که رښتيا وايئ] تاسو هم د هغه په څېر لس سورتونه راوړئ.*

او يا

﴿...قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّثْلِهِ...﴾ (يونس: ٣٨)

***ژباړه:*** *ورته ووايه [که رښتيا وايئ] تاسو هم د هغه په څېر يو سورت راوړئ.*

خو هغوی له ډېرو هڅو او لالهانديو څخه وروسته بيا هم پاتې راغلل، نو دا د دوی کلام نه دی، ځکه له چلينج راوړلو څخه يې عاجز شول. د محمد صلی الله عليه وسلم له خوا خو ځکه نه دی جوړ شوی، چې هغه هم له يوې خوا يو عربي ژبی انسان و، که ووايي چې هغه يو عبقري و، خو بيا هم بشر او يو عرب و او د دوی له ټولنې څخه يو تن و. نورو چې جوړ نه کړای شو، نو دی به يې څنګه جوړ کړي؟ بله دا چې د هغه ډېر احاديث په صحيح، متواتر او يقيني ډول سره موږ ته رارسېدلې دي؛ خو کله يې چې له قرآنکريم سره پرتله کوو، نو هر يو خپل سبک او اسلوب لري او تر منځ يې هېڅ تړاو او په اسلوب کې تشابه نه پيدا کېږي. حال دا چې محمد صلی الله عليه وسلم به نازل شوی آيت او حديث په يوه وخت کې وايه. د دغو دواړو تر منځ توپير دی، د انسان خبرې که هر څومره متنوع هم شي بيا هم په اسلوب کې ورته والی پيدا کوي، ځکه له هغه څخه صادرېږي. هېڅکله هم د يو ليکوال دوې ليکنې داسې نه شي راتلای. نو په مطلق ډول ثابتېږي چې دا د محمد صلی الله عليه وسلم کلام نه دی، ځکه چې د قرآن او محمد صلی الله عليه وسلم د کلامونو تر منځ صريح توپير شته دی. دا رنګه عربو دعوی کوله چې دا خو محمد صلی الله عليه وسلم له (جبر) نومي نصراني څخه زده کوي او بيا يې موږ ته وايي: خو الله سبحانه وتعالی دا موضوع داسې ردوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُ بَشَرٌ لِّسَانُ الَّذِي يُلْحِدُونَ إِلَيْهِ أَعْجَمِيٌّ وَهَٰذَا لِسَانٌ عَرَبِيٌّ مُّبِينٌ﴾** (النحل: ۱۰۳)

***ژباړه:*** *په تحقيق سره موږ په دې پوهېږو چې دوی وايي چې ده ته دا آيتونه يو بل بشر ورښيي، د هغه سړي ژبه چې دوی ورته ګوته نيسي عجمي دی، خو دا قرانکريم په فصيحه او پاکه عربي ژبه نازل شوی دی.*

له پورتني بحث څخه دا ثابته شوه، چې قرآن کريم نه د عربو کلام دی، نه د محمد صلی الله عليه وسلم. په قطعي توګه د الله سبحانه وتعالی کلام او د هغه چا لپاره چې راوړی يې دی، معجزه ده.

نو دا هم ثابته ده، چې دغه قران محمد صلی الله عليه وسلم راوړی دی، چې د الله سبحانه وتعالی کلام او شريعت دی. د الله سبحانه وتعالی شريعت او کلام له انبياوو او رسولانو پرته بل چا ته نه ورکول کېږي. نو په قطعي ډول سره د عقل له مخې دا ثابتېږي، چې محمد صلی الله عليه وسلم د الله سبحانه وتعالی نبي او رسول دی.

دا په الله سبحانه وتعالی، د محمد صلی الله عليه وسلم په رسالت او د قران کريم په اړه چې د الله سبحانه وتعالی کلام دی، د ايمان عقلي دليل دی.

له دې امله پر الله سبحانه وتعالی ايمان د عقل له لارې راتلای شي او دا اړينه ده چې دا ايمان بايد د عقل له لارې وي. نو پر دغه اساس بايد پر مغيباتو او هر هغه څه چې الله سبحانه وتعالی موږ ته را استولي او ترې خبر کړي يې يو، هغه ومنو او ايمان پرې راوړو. ځکه کله چې موږ پر الله سبحانه وتعالی ايمان راوړو، هغه د الوهيت پر صفاتو موصوف دی او بيا نو د هغه پر ټولو هغو خبرو ايمان راوړو، کومې چې عقل يې درك کولای شي او کومې چې نه شي درك کولای؛ ځکه الله سبحانه وتعالی پر هغو خبر کړي يو. له دې ځايه په مرګ، له مرګ څخه وروسته په ژوند، جنت، دوزخ، حساب او عذاب، ملايکو، پېريانو، شيطانانو او نورو هغه څيزونو چې په قرآنکريم کې يا په يقيني او متواترو حديثونو کې راغلي دي، ايمان راوړو. که څه هم دغه ايمان په ښکاره د اورېدنې او نقل له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښکاري، خو په حقیقت کې دا هم د عقل پر بنسټ ولاړ دی، ځکه چې د ایمان بنسټ یې په عقل ولاړ دی او ثابت شوی دی. په دې ډول پر انسان واجب دي چې ایمان یې د عقل او نقل یا یقیني سمع پر دوو کلکو بنسټونو ولاړ وي، یعنې کوم چې په قرآن کریم او قطعي حدیث چې متواتر دی ثابت شوی وي او پرته له دې دوو لارو (عقل او نص، یعنې کتاب او قطعي سنتو) څخه بل څه په عقیده کې ونه مني، ځکه ایمان پرته له یقین څخه له بل څه څخه نه اخیستل کېږي.

همدارنګه د نړۍ له رامنځته کېدو او پیدایښت څخه وړاندې د الله سبحانه وتعالی پر ذات او د نړۍ له ړنګېدو څخه وروسته د قیامت او آخرت پر ورځ ایمان لرل واجب دي. د الله سبحانه وتعالی اوامر ژوند ته له ژوند څخه مخکې حالت ته تړاو ورکوي او دغه تړاو له خلقت څخه بېل دی او په ژوند کې د انسان د اعمالو محاسبه له ژوند سره تر ژوند د وروسته حالت اړیکه ده او دغه اړیکه له بیا راژوندي کېدو څخه بېله ده. نو دا اړینه ده چې دغه ژوند له مخکې او وروسته سره تړاو ولري او د انسان احوال به له دغه اړیکې سره مقید وي، نو پر انسان واجبېږي چې د الله سبحانه وتعالی له نظامونو سره سم په ژوند کې مخکې ولاړ شي او په دې عقیده ولري چې د قیامت په ورځ به یې د دنیا د اعمالو په اړه ورسره محاسبه کېږي.

له پورتنیو بحثونو څخه د کایناتو او ژوند د ماوراء په اړه مستنیر یا عقلي فکر رامنځته کېږي، همدا راز له ژوند څخه وړاندې او وروسته په اړه چې د مخکې ژوند او وروسته ژوند سره اړیکه مومي. نو له دې امله هغه لویه غوټه پرانستل کېږي او لویې پوښتنې ته د اسلامي عقیدې پر بنسټ ځواب ویل کېږي.

کله چې انسان دغه حل ومومند او ده ته یې د دې امکان ورکړ چې د دنیا له ژوند څخه ریښتیني مفاهیم تر لاسه کړي، چې له دغې عقیدې څخه یې سرچینه اخیستې وي، همدا د مبدا (ایډیولوژۍ) بنسټ جوړوي، له کومې څخه چې د نهضت او پرمختګ طریقه اخیستل کېږي. دا هغه بنسټ دی چې د دغه ایډیولوژۍ فرهنګ ورباندې ولاړ دی او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساس دی چې نظامونه ورڅخه اخیستل کېږي، هغه اساس چې دولت يې وربانديې دربېږي او دا هغه اساس دی چې اسلام وربانديې ولاړ دی، یعنې فکره او طریقه چې هغه اسلامي عقیده ده. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنزَلَ مِن قَبْلُ وَمَن يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا﴾ (النساء: ۱۳٦)

*ژباړه: اې مؤمنانو پر الله، د هغه په رسول او نازل شوو کتابونو ایمان راوړئ او که څوک پر الله د هغه په ملايکو، کتابونو، رسولانو او د آخرت په ورځ کافر کېږي، نو ډېر سخت به بې لارې شوی وي.*

اوس نو ثابته شوه چې باید هر مسلمان پر ټول اسلامي شریعت ایمان ولري او که نه کافر به ګڼل کېږي، ځکه چې شریعت د قرآن کریم او رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارې راغلی. له همدې امله د یوه حکم نه منل داسې دي لکه د ټولو نه منل، یا يې په تفصیل سره غوښ احکام، دا احکام که د عباداتو، معاملاتو، عقوباتو او یا هم له مطعوماتو څخه وي. د بېلګې په توګه د لمانځه نه منل داسې دي لکه د بیعې د حلالوالي او سود د حراموالي یا د غلا د حراموالي نه منل. یعنې د ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ...﴾ (البقره: ۴۳) پر آیت کفر داسې دی لکه پر لاندې آیتونو کفر:

﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا...﴾ (البقره: ۲۷۵)

*ژباړه: الله متعال بیه حلاله کړې او سود يې حرام کړی دی.*

یا

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ (المائده: ۳۸)

*ژباړه: د غله او غلې لاسونه پرې کړئ.*

او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ...﴾** (المائده: ۳)

***ژباړه:*** *مرادره، غوښه، وینه، د خوګ غوښه او هغه څاروي چې د الله متعال له نامه پرته ذبح شوي وي، پر تاسو حرام دي.*

او همدا راز په نورو احکامو. پر شريعت (احکامو) ايمان د عقل په حدودو کې متوقف نه دی، بلکې پر هر مسلمان لازمه ده چې ټولو هغو احکامو ته تسليم شي چې د الله سبحانه وتعالی له لوري راغلي دي. لنډه دا چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾** (النساء: ٦٥)

***ژباړه:*** *اما نه، ستا پر رب مې دې قسم وي چې تر هغه به يې ايمان صحيح نه شي، ترڅو په هره شخړه کې ستا حکم ونه مني، بيا له زړه نه پرې خوښ نه شي او ستا پر پرېکړه په خپلو نفسونو کې هېڅ ستونزه ونه مومي او بشپړ تسليم نه شي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قضا او قدر

الله سبحانه وتعالی په لاندې آیتونو کې فرمایي:

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ أَن تَمُوتَ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ كِتَابًا مُّؤَجَّلًا﴾ (آل عمران: ۱۴۵)

***ژباړه:*** *هېڅوک د الله له امر او ټاکلې نیټې پرته نه شي مړ کېدی.*

﴿ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾ (الاعراف: ۳۴)

***ژباړه:*** *د هر څه لپاره یوه نېټه ده، چې کله راشي بیا نه وروسته کېږي او نه هم مخکې کېږي.*

﴿مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ﴾ (الحدید: ۲۲)

***ژباړه:*** *هېڅ کوم مصیبت ځمکې او تاسو ته زموږ له لیکلو پرته نه شي رسېدلای، دا کار الله ته آسان دی.*

**﴿قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (التوبه: ۵۱)**

*ژباړه: ورته ووایه، موږ ته به هېڅکله د الله له لیکلو پرته بل څه راونه رسېږي، هغه زموږ مرسته کوونکی دی او پر الله باید مؤمنان توکل وکړي.*

﴿...لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾ (السباء: ۳)

***ژباړه:*** *له هغه څخه یوه ذره هم نه په آسمانو کې پټېدای شي او نه په ځمکه کې او ټول واړه او غټ په ښکاره کتاب کې شته دي.*

﴿وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَىٰ أَجَلٌ مُّسَمًّى ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ (الانعام: ۶۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



***ژباړه:*** *هغه ذات چې تاسې د شپې ویده کوي او د ورځې په کارونو مو پوهېږي، بیا مو په ټاکلې نېټه را ژوندي کوي، بیا به هغه ته ورګرځئ او په خپلو کړو به مو خبروي.*

**﴿وَإِن تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِندِكَ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِندِ اللَّهِ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ﴾** (النساء: ۷۸)

***ژباړه:*** *که ښه ور ورسېږي وايي، دا د الله له خوا دي، که بد ور ورسېږي وايي، دا د تا له خوا دي، ورته ووايه هر څه د الله له خوا دي، نو بیا ولې دغه قوم په هېڅ خبره نه پوهېږي.*

دا او دې ته ورته ځینې نور آیتونه ځینې خلک د قضا او قدر په هکله دلیل نیسي او انسان په خپلو ټولو کړو وړو کې مجبور ښیي او وايي چې انسان پر هر څه د الله سبحانه وتعالی د ارادې او خوښې له مخې اړ دی. وايي الله سبحانه وتعالی انسان او د هغه ټول کړه وړه پیدا کړي او د تایید لپاره یې د الله سبحانه وتعالی دا قول راوړي چې فرمايي:

**﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾** (الصافات: ۹۶)

***ژباړه:*** *الله تاسې او څه چې عمل کوئ پیدا کړي یاست.*

همدا راز په نورو احادیثو استدلال کوي، له جملې یې دا حدیث شریف راوړي:

**«نَفَثَ رُوحَ الْقُدُسِ فِي رَوعي لَنْ تمُوتَ نَفسٌ حَتَّى تَسْتَوفىَ رِزْقَهَا وَ أَجَلَهَا وَ مَا قُدِّرَ له»**
(المجمع الکبیر للطبراني: ۷۶۹۴)

***ژباړه:*** *روح القدس (جبراییل) مې زړه ته الهام وکړ، چې هېڅ نفس تر هغه نه مړ کېږي، ترڅو یې رزق یې نه وي پوره شوی، اجل یې نه وي رارسېدلی او تقدیر یې نه وي پوره شوی.*

د قضا او قدر مسئلې په اسلامي مذاهبو کې مهم دور راوستی و، او سخت زور یې اخیستی و، اهل سنتو په دې اړه ویل: انسان هر څه په خپل اختیار کوي او همدغسې حساب هم ورسره کېږي. معتزله وايي: انسان د خپلو کړو وړو خالق او پیدا کوونکی دی او پر همدغه اساس حساب هم ورسره کېږي. جبریه وايي: الله سبحانه وتعالی بنده او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول افعال خلق کوي، نو له همدې امله بنده په افعالو کې اړ دی او کوم اختیار نه لري. هغه د بڼکې غوندې دی چې کومې خوا ته یې الوزوي، هېڅ اختیار نه لري.

د قضا او قدر په مسئله کې په ژوره او کره څېړنه مومو، چې د دې موضوع په باب بحث پر یوه اساسي بنسټ ولاړ دی. دا بنسټ د انسان پر فعل له دې زاویې بحث نه کوي، چې فعل انسان پخپله خلق کړی که الله سبحانه وتعالی؟ دغه راز د الله سبحانه وتعالی پر علم هم بحث نه کوي چې ایا هغه سبحانه وتعالی له مخکې دا علم لري چې انسان به څه تر سره کړي یا دا چې د الله متعال علم انسان احاطه کړی که نه؟ همدارنگه د بحث موضوع د الله سبحانه وتعالی اراده هم نه ده، چې د انسان له عمل سره تړاو لري، چې بنده د هغه له ارادې سره سم اعمال ترسره کوي. که داسې شي د الله سبحانه وتعالی اراده د بنده په اراده پورې تړل کیږي، نو اړینه ده چې د الله متعال اراده پکې موجوده ده. پر دې هم بحث نه کوي چې د بنده فعل په لوح محفوظ کې لیکل شوی، بیا نو باید هرومرو هغه ترسره کړي، ځکه په لوح محفوظ کې لیکل شوی.

هو، هغه اساس چې دغه بحث ورڅخه جوړ شوی په مطلق ډول پورتنۍ موضوعگانې نه دي. ځکه د انسان کړه وړه او په هغې باندې ثواب او عذاب په دې خبرو پورې نه دی تړلی، بلکې د موضوع تړاو پر هر شي د الله سبحانه وتعالی د محیط علم شتون او په رامنځته کولو کې یې د هغه اراده ده، چې په ټولو ممکناتو کې راځي او په لوح محفوظ کې د هر څه لیکل یا احتوا ده. دا چې د عمل په ترسره کولو ثواب یا عذاب تر لاسه کیږي بېله موضوع ده، یعنې آیا انسان د خیر او شر په کارونو کې مجبور گرځول شوی او که یې اختیار ورکړی؟ آیا انسان د عمل په سرته رسولو کې اختیار لري او که مجبور دی؟

په افعالو کې له غور او فکر څخه وروسته څرگندیږي، چې د انسان په ژوند او چاپیریال کې چې کوم کارونه ترسره کیږي، هغه په دوو دایرو کې راځي: لومړۍ هغه دایره ده چې بشپړه د ده په واك کې ده او د واك تر څنگ په ځینو اعمالو کې محض اختیار لري او دویمه هغه ده چې مکمله د ده له اختیاره بهر ده، پر ده تسلط لري او هیڅ لاس نه پکې لري، که له ده څخه صادریږي او که ورپېښیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه افعال چې انسان د هغه په موجوديت او ايجاد کې هېڅ واک نه لري په دوه ډوله دي: يو هغه چې د کايناتو له نظام سره سم منځ ته راځي. دويم هغه چې د کايناتو له نظام سره سم منځ ته نه راځي او هم د ده له واک څخه بهر دي. لومړی ډول هغه دي چې د کايناتو له نظام سره سم رامنځته کېږي، هغو ته انسان سر ټيټوي او په بدلون کې يې څه نه شي کولای. دا پر انسان جبراً دوران کوي، ځکه له کايناتو او ژوند سره د يوه ځانګړي نظام سره سم چې هېڅ وخت بدلون او توپير نه پکې راځي، حرکت کوي. مثلا د کايناتو او ژوند چارې، چې انسان هېڅ بدلون نه شي پکې راوستلای او نه ورسره مخالفت کولای شي. نو د دې دايرې اعمال د انسان له ارادې وتلې او دی پکې مجبور دی، بلکې اختيار نه لري. انسان دنيا ته له خپلې ارادې پرته راغلی او بېرته به له خپلې ارادې پرته ورڅخه ځي او يا دا چې انسان چې په خپل جسم سره په هوا کې نه شي الوتلی او نه د اوبو پر سر په خپل طبيعي حالت سم تګ کولی شي، يا د خپلو سترګو لپاره رنګ نه شي خلق کولی، نه د خپل سر شکل جوړولی شي، نه د خپل جسم حجم ټاکلی شي. دا ټول الله سبحانه وتعالی جوړ کړي دي، پرته له دې چې د مخلوق بنده کوم اغيز او يا کوم تړاو پکې وي. الله سبحانه وتعالی هغه ذات دی چې د کايناتو نظام يې پيدا کړی او د شتون لپاره يې منظم کړی او کاينات داسې پکې څرخي چې د ده له امر څخه سرغړونه نه شي کولی.

دويم ډول هغه افعال چې د انسان په قدرت کې نه دي، دفع کولی يې نه شي او د کايناتو له نظام سره هم سمون نه لري. يا له انسان څخه صادرېږي او يا په انسان جبراً تپل کېږي او په مطلق ډول يې د دفعې توان نه لري. لکه يو څوک چې د ديوال له سره پر بل چا راولوېږي او هغه مړ شي يا که څوک ښکار کوي او د مرغه پر ځای سهواً بل څوک ووژني يا د موټر او اورګاډي د ټکر او چپه کېدو له امله خلک مړه شي او يا د کومې ستونزې له مخې الوتکه راولوېږي او سپرلي يې مړه شي، چې دا ټول د انسان له واکه بهر دي او د انساني امکاناتو په واسطه نه شي تلافي کېدای او داسې نور. دا ټول له انسانه صادرېږي او يا پر ده، د ده له ارادې پرته ور واقع کېږي. دا د ده په واک کې نه دي او په هغه دايره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې داخلېږي چې پر ده تسلط لري. دغو ټولوته قضا ويل کېږي، ځکه يوازې الله سبحانه وتعالی په دې هکله قضا، فيصله او پرېکړه کړې ده او بل هېڅوک لاس نه پکې لري. ځکه خو په دې هکله له انسان سره حساب هم نه کېږي. که د انسان لپاره گټه او يا ضرر هم ولري، که ښه يې بولي او که بد، دا د انسان د تفسير له مخې دي. خو پر خير او شر، گټه او تاوان يې له الله سبحانه وتعالی پرته بل څوک نه پوهېږي، ځکه انسان نه لاس پکې لري، نه ترې خبر دی، نه يې کيفيت ورته معلوم دی او په مطلقه توگه يې نه جلبولی، نه يې دفع کولی او نه يې هم څه کولی شي. پر انسان يوازې دا ده چې پر دې قضا ايمان راوړي او ووايي چې دا د الله سبحانه وتعالی له لوري دي.

قدر بيا دې ته وايي چې ټول هغه کړه وړه چې د انسان په واک کې دي او که نه دي، که کاينات دي، که ژوند دی او که انسان، الله سبحانه وتعالی د دغو څيزونو لپاره ټاکلي خواص خلق کړي دي او په ټاکلې اندازې سره يې پيدا کړي دي او هر چا ته يې د هغه له فطرت او پيدايښت سره سم په ټاکلې اندازه ځانگړي خويونه او واکونه ورکړي دي، چې هېڅکله هم ترې سرغړاوی نه شي کولای لکه په اور کې يې د سوځولو، په لرگي کې يې د سوځېدلو او په چاقو کې يې د پرې کولو خاصيت خلق کړی دی او دا ټول يې د وجود يا هستۍ له نظم سره سم منظم گرځولي دي، چې هېڅکله هم تخلف نه کوي.

که کله هم له خپل خوی او خاصيت څخه سرغړاوی کوي، نو الله سبحانه وتعالی د هغه خاصيت سلب کړی دی. بيا به دا ډول څيز نه گڼل کېږي او يو خارق العاده کار يا د الله سبحانه وتعالی د رسولانو او انبياوو معجزې بلل کېږي. لکه څنگه چې په څيزونو کې الله سبحانه وتعالی خاصيتونه ايښي، همدا راز يې د انسان په ختې او فطرت کې هم څه خويونه، خاصيتونه، غوښتنې او غريزې ايښې دي، لکه د نوعې د پايښت په غريزه کې يې جنسي ميل، په عضوي اړتياوو کې د لوږې او تندې اړتيا يا دې ته ورته خواص ايښي، چې د وجود له نظام سره سمون لري. نو دغه ټاکل شوي خاصيتونه الله سبحانه وتعالی په څيزونو، غريزو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او عضوي اړتیاوو کې چې په انسان کې شته دي، ابښي دي چې دا قدر نومېږي. الله سبحانه وتعالی څیزونه، غریزې او عضوي اړتیاوې خلق کړې او خاصیتونه یې پکې مقدر کړي دي، نه دا د بنده له خوا دي، نه مطلق اغېز پرې لري، نه کوم رول پکې لري. پر انسان یوازې دا لازمه ده چې ایمان ورباندې ولري، ځکه دا هر څه له خاصیتونو سره یو ځای الله سبحانه وتعالی پیدا کړي دي. د دې په وسیله انسان کولای شي چې ښه یا بد، ګټور او یا زیانمن کارونه ترسره کړي. نو که دغه کار د الله سبحانه وتعالی له امر سره سم وي ښه، خیر او ګټه بلل کېږي او که د هغه د امر خلاف وي، نو شر، بد او تاوان بلل کېږي. برابره ده که څیزونه د خواصو له مخې کاروي او که غریزې او عضوي اړتیاوې پوره کوي. که د الله سبحانه وتعالی له اوامرو سره سمې یې پوره کړي او یا یې وکاروي، هغه خیر دي او که د هغه سبحانه وتعالی د اوامرو په مخالفت کې یې وکاروي او یا یې پوره کړي، نو ورته شر دي.

مسلمان باید پوه شي چې کوم افعال چې د انسان له واکه بهر دي، هغه د الله سبحانه وتعالی له خوا دي، هغه که خیر وي او که شر او همدارنګه د هر شي، عضوي غوښتنو او غریزو، هر ډول خوی او خاصیت دا برابره ده که پایله یې خیر وي او که شر، له دې امله دا په مسلمان باندې حتمي ده چې د خیر او شر پر قضا ایمان ولري، چې دا د الله سبحانه وتعالی له لوري دي. یعنې په دې عقیده ولري چې د انسان له واکه وتلي اعمال د الله سبحانه وتعالی له لوري دي. دغه‌راز د قدر په خیر او شر ایمان ولري، ځکه باید په دې عقیده ولري چې په طبیعت کې د شیانو خواص د الله سبحانه وتعالی له لوري دي، برابره خبره ده، که پایله یې خیر وي او که شر، مخلوق انسان هېڅ اغېز نه پکې لري. نو د انسان اجل، رزق او نفس ټول د الله سبحانه وتعالی له خوا دي، لکه جنسي غوښتنه او د تملک غوښتنه د نوعې او پایښت په غریزو کې شته، لوږه او تنده په عضوي غوښتنو کې شته دي، دا ټول د الله سبحانه وتعالی له لوري دي.

دا د ټولو شیانو د خواصو او د هغو افعالو په اړه وو، چې پر انسان تسلط لري. اما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



افعال چې انسان تسلط پرې لري، په هغو کې انسان له هغه نظام سره چې د ځان لپاره یې اختیاروي، بشپړ اختیار لري، هغه که د خپل واک او اختیار په دایره کې هر څه له شریعت سره سموي او که مخالفت ورسره کوي. په دې دایره کې هغه اعمال دي چې له انسانه صادرېږي، د هغه په اراده کې دي، هغه که خوراک، څښاک، یا تګ راتګ کوي، خپله یې کوي او که یې نه کوي هم خپله اراده یې ده. که په اور سوځول او که په چاقو پرې کول کوي، د نوعې د پایښت غریزې له مخې که ځان مړوي او مالدار کوي یې، یا یې وږی کوي، کله چې وغواړي همغسې کولای شي، مختار عمل کوي، په خپل اختیار له هغه عمل څخه ډډه کولای شي، له همدې امله په دې دایره کې له ټولو اعمالو څخه پوښتل کېږي.

نو د څیزونو، غریزو او عضوي اړتیاوو خاصیتونه الله سبحانه وتعالی مقدر کړي او له هغوی سره یې لازمي ګرځولي دي، دا هغه څه دي چې د فعل په پایله کې اغېز لري، خو خپله خاصیت عمل نه شي کولای، بلکې انسان د دغه په فعل کې اغېز لري او کله یې چې استعمالوي عمل ورڅخه منځته راځي، لکه جنسي غوښتنه چې د نوعې په غریزه کې شته ده، د خیر او شر دواړو وړتیا هم لري. د لوږې رفع کول هم یو ډول عضوي غوښتنه ده، چې دا هم د خیر او شر دواړو وړتیا لري. نو دا چې د خیر له مخې یې عملي کوي او که د شر، دا هم انسان دی نه غریزه او عضوي غوښتنه. نو ځکه الله سبحانه وتعالی انسان ته عقل، ادراک، تمیز او پوهه ورکړې ده او د ښه او بد، خیر او شر دواړه لارې یې ورښودلې دي.

﴿**وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ**﴾ (البلد: ١٠)

***ژباړه:*** *هغه ته مو دوې لارې ورښودلې دي.*

په انسان کې یې د فجور او تقوا ادراک ځای پر ځای کړی دی.

﴿**فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا**﴾ (الشمس: ٨)

***ژباړه:*** *بیا یې هغه ته فجور او تقوا (خیر او شر) ورالهام کړي دي.*

نو کله چې انسان خپلې غریزې او عضوي غوښتنې د الله سبحانه وتعالی له اوامرو

(c) ketabton.com: The Digital Library


او نواهیو سره سمې پوره کوي، ښه کار کوي او د تقوی لور ته ځي او که د هغه د اوامرو او نواهیو خلاف یې ترسره کوي، په کږه ځي، د فجور لوري ته مخه کوي. نو په دغو ټولو اعمالو کې انسان خیر او شر ترسره کوي او هم په انسان خیر او شر ترسره کیږي. پر همدغه اساس دا افعال په هغه دایره کې دي چې انسانورباندې تسلط لري، نو حساب هم ورسره کیږي، ځکه دغه کارونه دی له اړتیا پرته په خپلواکه توګه ترسره کوي، نو ثواب او عذاب ورکول کیږي. ځکه غریزې، عضوي غوښتنې او د هغوی خاصیتونه د الله سبحانه وتعالی له لوري دي او د خیر او شر وړتیا یې هم د الله سبحانه وتعالی له خوا ده؛ خو الله سبحانه وتعالی الزامي کړې نه ده چې دا به ترسره کوي. برابره خبره ده چې په هغه الله سبحانه وتعالی راضي کیږي او که ناراضه کیږي، یعنې خیر او شر، دا خاصیتونه د دې لپاره په دغه څیزونو کې کېښودل شوي دي ترڅو یې فاعل له خپلې خوښې سره سم وکارولی شي. دا انسان دی چې په وسیله یې عمل ترسره کوي او یا یې د خیر لور ته بیایي او یا هم د شر لور ته. الله سبحانه وتعالی چې کله انسان پیدا کړ، غریزې او عضوي غوښتنې یې ورته پیدا کړې، نو عقل، پوهه، تمیز او ادراک یې هم ورکړل، ترڅو یو عمل ترسره کړي او یا یې پریږدي، د عمل په کولو او نه کولو یې مجبور نه یو ګرځولي، د څیزونو، غریزو او عضوي اړتیاوو خواص یې هم داسې ونه ټاکل چې په فعل او ترك سره څوك مجبور کړي. له همدغه امله یې انسان د یوه فعل په کولو او نه کولو کې مختار کړ، دا صلاحیت یې ټول د عقل له مخې ورکړ او د شرعي مکلفیت اساس یې هم وګرځاوه. د خیر په ترسره کولو یې ثواب ورته وټاکه، ځکه عقل ته یې د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو د عملي کولو اختیار ورکړ. د شر په سرته رسولو یې عذاب ورته وټاکه، ځکه د ده عقل یې مختار کړ چې د هغه په واسطه حرام تشخیص او که د غریزو او عضوي اړتیاوو له مخې یې د الله سبحانه وتعالی د اوامرو خلاف عمل وکړ، نو په دې برخه کې د الله سبحانه وتعالی جزا حق او عدل ده، ځکه انسان د دغو کارونو په ترسره کولو کې مختار و او مجبور نه و. قضا او قدر په دې هکله هیڅ ګرم نه دي، بلکې مسئله دا ده چې بنده په خپل اختیار عمل ترسره کړ، ځکه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴾ (المدثر: ٣٨)

***ژباړه:*** *هر څوک په خپلو کړو وړو ګرو دی.*

خو د الله سبحانه وتعالی علم او پوهه څوک پر دې نه مجبوروي چې يا دې ښه وکړي يا بد. د هغه سبحانه وتعالی علم په دې دی چې انسان به په خپل اختيار سره دغه عمل ترسره کوي او د انسان د کړنې لپاره د الله سبحانه وتعالی علم اساس او علت نه دی، بلکې د هغه علم ازلي دی چې انسان به دغه چاره ترسره کوي او په لوح محفوظ کې ليکل يوازې دا معنی لري چې د الله سبحانه وتعالی علم پر هر څه محيط دی.

د الله سبحانه وتعالی د ارادې معنی دا ده، چې د الله سبحانه وتعالی اراده هم بنده نه مجبوروي چې يوڅه ترسره کړي، بلکې هر څه په خپلې ارادې سره ترسره کوي. نه دا چې دی بل څوک مجبوروي، بلکې دی په خپل ملك کې هغه څه کوي د کوم څه چې اراده لري، يعنې د کايناتو په نظام کې داسې څه نه ترسره کوي چې هغه له ده څخه په جبر صادر شي.کله چې بنده يو کار کوي، کولی يې هم شي او الله سبحانه وتعالی يې هم په هماغه وخت نه ترې اړوي او مختار يې پرېږدي. نو دغه کار د الله سبحانه وتعالی په اراده و، خو ورباندې مجبور هم نه و. داسې يوه اراده د ده په کار کې وه چې دی يې په عمل مجبور کړی نه و.

دلته نو قضا او قدر په انسان د خير د ترسره کولو او له شر څخه د ځان ساتلو هڅه کوي او په دې يې پوهوي چې الله سبحانه وتعالی د انسان څارونکی او حساب کوونکی دی، انسان ته يې د چارو د کولو او نه کولو اختيار ورکړی. که په اعمالو کې يې اختيار ښه نه ګڼلی نو بيا يې ولې انسان ته شديد عذاب ټاکه؟ نو دلته هر صادق مومن د قضا او قدر حقيقت موندلی شي او په حقيقي ډول دا پېژني چې الله سبحانه وتعالی انسان ته عقل او اختيار دوه لوی نعمتونه ورکړي. نو ځکه د انسان سخت مراقبت کوي، له الله سبحانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتعالی څخه سخت ویرېږي، د هغه سبحانه وتعالی اوامر پر ځای کوي او له نواهیو څخه یې ځان ساتي، ترڅو د الله سبحانه وتعالی له عذاب څخه ځان وساتي او د جنتونو په مینې او تمې سره یا تر دې هم لوړ مطلب لپاره یعنې د الله سبحانه وتعالی د خوښې او رضا لپاره هڅه او هاند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اسلام کې فکري قیادت

کله چې د خلکو فکر منحط شي، نو د خلکو تر منځ د وطنپالنې اړیکه راپيدا کيږي، ځکه دوی په مشترکه سیمه کې اوسيږي او په هماغه سیمه پورې تړلي وي. نو د بقا غریزه يې د ځان دفاع ته هڅوي او د هغې سيمې دفاع هم وربانديې تحميلوي، چې دوی پکې اوسيږي یا له هغې ځمکې څخه چې ژوند وربانديې کوي، د وطنپالنې اړیکه رامنځته کيږي، چې ډېره بې ګټې او بېکاره اړیکه ده، انسان ډېر وروسته پاتې کوي. دا اړیکه په ځارويو او مرغانو کې شته، همدا راز په انسانانو کې هم شته او د عاطفې له مخې منځ ته راځي. هغه مهال پيدا کيږي، چې کله د دوی پر ځمکه یا وطن پردی څوک یرغل وکړي او غلبه وربانديې وکړي، د وطن د سولې او ثبات پر مهال هېڅ نشته، خو له دغه نیواک او تېري څخه له خلاصېدو وروسته، کله چې پردي یرغلګر وشړل شي، د دې اړیکې عمل هم پای ته رسيږي، ځکه چې دا بې ګټې او ټيټه اړیکه ده.

کله چې فکر تنګ شي، د انسانانو تر منځ د قومپالنې اړیکه رامنځته کيږي، دغه په پراخ شکل یوه عایلي (نسبي) اړیکه ده. په دې کې انسان د خپلې بقا او پایښت د غریزې په لمسون خپله مشري غواړي او دا په یوه فکري پست او ناوړه انسان کې په انفرادي توګه رامنځته کيږي. کله يې چې په دې اړه پوهه زیاته شي، د مشرۍ مینه يې هم زیاتيږي. نو لومړی د خپلې کورنۍ، بیا قوم مشري غواړي. بیا دغه فکر له ده سره په افقي ډول وده کوي او دا درک کوي، چې لومړی په وطن کې د خپل قوم مشري غواړي، کله يې چې په خپل وطن کې دغه مشري تر لاسه کړه، بیا پر نورو د خپلې مشرۍ هڅه کوي. له همدې کبله بیا په کورنۍ کې د سیادت د تر لاسه کولو لپاره خپلمنځي شخړې را منځته کيږي، تر هغې چې مشري یو کس تر لاسه کړي او د نورو پر وړاندې نصرت پیداکړي، بیا پر نورو کورنیو د خپلې کورنۍ د مشرۍ لپاره هڅو ته دوام ورکوي. کله چې پر قوم یا پر نورو بېلابېلو کورنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ځان او یا خپلې کورنۍ مشري ومني، بیا د دغو کورنیو تر منځ د مشرۍ او لوړوالي پر سر په ژوندانه کې یو له بل سره دښمنۍ راپورته کېږي، ترهغې چې د قوم مشري یوې کورنۍ او یا د څو بېلابېلو کورنیو د خلکو یوې ډلې ته په لاس ورشي، بیا د دغه قوم او نورو اقوامو تر منځ په ژوند کې د مشرۍ او لوړوالي پر سر دښمنۍ رامنځته کېږي او د دغو اړیکو پر خاوندانو دا عصبیت برلاسی مومي، پر دوی نفسي غوښتنې غلبه کوي او ځینې د دوی په ځینو نورو برلاسي کېږي. له دې امله دغه اړیکه غیر انساني ده، ځکه دا اړیکه که د بهرنیو دښمنیو لامل نه شي نو د خپلمنځي او کورنیو دښمنیو رامنځته کوونکې ده.

د دریو لاملونو له مخې دغه اړیکه فاسده ده: لومړی، ډېره ناوړه او ټیټه اړیکه ده، ځکه یو انسان له بل سره نه شي نښلولی او د پرمختګ پر لور یې نه شي روانولی. دویم، دا یوه عاطفي اړیکه ده، چې د بقا له غریزې څخه سرچینه اخلي او د نفس دفاع کوي. عاطفي اړیکه ډېر تغیر او تبدیل مومي او په همیشني ډول د یوه انسان له بل انسان سره د تړلو لپاره غوره نه ده. درېیم، دا یوه لنډمهاله اړیکه ده، چې د دفاع پر مهال رامنځته کېږي او د ثبات پر مهال چې د انسان اصلي حالت دی، دغه اړیکه هېڅ نشته. نو له همدې امله د انسانانو تر منځ د تړاو وړتیا نه لري.

همدا راز قومي اړیکه هم د درېیو لاملونو له مخې فاسده ګڼل کېږي: لومړی دا چې قبیلوي اړیکه ده او انسان له بل سره د پرمختګ په لاره کې نه شي تړلی. دویم دا چې یوه عاطفي اړیکه ده، چې د پایښت له غریزې څخه سرچینه اخلي او د مخکښۍ او سیادت مینه پنځوي او درېیم دا چې غیر انساني اړیکه ده، ځکه د دوستۍ پر ځای د چوکۍ پر سر دښمني را منځ ته کوي. نو له دې امله د انسانانو تر منځ د تړاو اړیکه نه شي کېدای.

همدارنګه له هغه فاسدو اړیکو څخه چې شتون یې د خلکو تر منځ د اړیکې په توګه متصور دی، مصلحتپالنه او روحي اړیکه ده. روحي اړیکه هغه اړیکه ده چې هېڅ داسې نظام نه لري چې سرچینه ترې واخلي. د مصلحتپالنې اړیکه یوه لنډ مهاله اړیکه ده، چې انسانان نه شي سره تړلی، ځکه دا د لویو ګټو د لاس ته راوړلو لپاره جوړجاړی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصلحت د ترجیح پر مهال یې شتون ناشونی کېږي. کله چې مصلحت تر لاسه شو او یا له منځه لاړ، دغه اړیکه هم له منځه ځي او ورباندې راټول شوي انسانان یو له بل څخه پاشل کېږي، ځکه دا د مصلحت له ختمېدو سره سمه پای ته رسېږي. نو ځکه دغه اړیکه د هغې خاوندانو ته ډېره خطرناکه ده.

بل ناوړه تړاو روحي اړیکه ده، چې هېڅ داسې نظام نه لري چې سرچینه ورڅخه واخلي، د ژوند په ډګر کې نه، بلکې د تدین پر مهال رامنځته کېږي. نو ځکه یوه جزیي غیر عملي اړیکه ده، له همدې امله د دې وړتیا نه لري چې د انسانانو تر منځ د هغوی د ژوند په چارو کې د یوې اړیکې په څېر پاتې شي. مثلاً د نصرانیت عقیده په اروپا کې د ولسونو د تړاو اړیکه نه شي کېدای، سره له دې چې ټول نصرانیان دي، ځکه دا یوه روحي اړیکه ده، چې هېڅ نظام نه لري.

لنډه دا چې دغه ټولې پورتنۍ اړیکې شنډې، بېکاره او بې اساسه دي، ځکه د انسانانو تر منځ په ژوند د پرمختګ لپاره د تړاو لامل نه شي کېدای او د انسانانو لپاره په ژوند کې د کار وړ او د پرمختګ لپاره یوازینۍ اړیکه هغه عقلي عقیده ده چې نظام ترې جوړېږي او دا مبدئي (ایډیالوژیکه) اړیکه ده.

مبداء (ایډیالوژي) هغه عقلي عقیده ده، چې نظام سرچینه ورڅخه اخلي او عقیده د کایناتو، انسان، ژوند، له ژونده مخکې، وروسته او له ژوند څخه مخکې او وروسته سره اړیکې په اړه ټولیز فکر دی. هغه نظام چې له دغې عقیدې څخه سرچینه اخلي، د انسانانو د ستونزو د هواري لارې چارې دي او د دغو حل لارو د اجرا کیفیت، د عقیدې ټینګه ساتنه او د مبداء د لېږدونې کیفیت بیانوي. نو د اجرا د کیفیت، د عقیدې د ساتنې او د دعوت د لېږد لپاره طریقه لري او طریقه بلله کېږي او له دې پرته خپله عقیده او نورې حللارې فکره بلل کېږي. نو ځکه مبداء (ایډیالوژي) فکره او طریقه ده.

مبداء (ایډیالوژي) اړینه ده چې د یوه شخص په ذهن کې راپیدا شي، یا د الله سبحانه وتعالی په وحې سره، چې په رسولو او تبلیغ یې ورته امر کېږي. یا د عبقریت په واسطه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په يوه شخص کې را پيدا کېږي. نو هغه مبداء (ايډيالوژي) چې د انسان په ذهن کې د وحې له لارې رامنځته شي سمه ده، ځکه د کايناتو، ژوندانه او انسان د خالق له لوري ده او هغه الله سبحانه وتعالی دی او دا قطعي مبداء (ايډيالوژي) ده. هغه مبداء چې د يوه شخص په ذهن کې د عبقريت په واسطه رامنځته کېږي، باطله مبداء (ايډيالوژي) ده، ځکه له هغه محدود عقل څخه رامنځته شوې، چې پر ټول وجود احاطه نه لري. د انسان فهم د تنظيم لپاره له هغه چاپيريال سره په ټکر کې کېږي، چې انسان ژوند پکې کوي. اختلاف، تناقض او توپير رامنځته کوي، ځکه له چاپېريال څخه داسې نظام اخلي چې د انسان د بدبختۍ لامل کېږي. نو ځکه هغه مبداء يا ايډيالوژي چې د شخص په ذهن کې رامنځته کېږي، د هغې عقيده او هغه نظام چې ورڅخه اخيستل شوی، دواړه باطل دي.

له همدې امله د مبداء بنسټ له کايناتو، انسان او ژوند څخه ټوليزه او کلي فکره ده، دا طريقه ده چې مبداء په ټولنه او ژوند کې د هغې په واسطه شتون مومي او عملي کېږي او دا د دې فکرې لپاره يو لازمي امر دی، چې مبداء يې بايد ولري. دا چې کلي فکره بايد اساس او بنسټ جوړ کړي، هغه عقيده ده، فکري قاعده ده، فکري قيادت دی او په همدې اساس انسان فکري تګلاره جوړوي چې په دې سره ټول افکار بناء کېږي او هم يې د ژوندانه د ستونزو حل ورڅخه سرچينه اخلي او د طريقې شتون يو حتمي او اړين امر دی. هغه نظام چې له عقيدې څخه سرچينه اخلي او د معالجو د اجرا کيفيت، د عقيدې د ساتنې کيفيت او د مبداء د لېږدولو لپاره د دعوت او بلنې د کيفيت بيان پکې نه وي تضمين شوی، نو دا خو بيا يوه پوچه، خيالي، فرضي او تشه فلسفه بلل کېږي، چې د کتابونو په منځ کې د پاڼو پر مخ به مسجله پرته وي، خو په ژوند کې به يې هېڅ اغېز نه وي. له همدې امله له يوې رښتينې عقيدې، د ستونزو له حل او د هغې د پلي کېدو له لارې (طريقې) پرته مبداء (ايډيالوژي) نه شي جوړېدای. يوازې په دې چې يوه مبداء عقيده او نظام ولري د هغې پر صحت دلالت نه کوي، بلکې يوازې پر دې دلالت کوي چې دا يوه مبداء ده او پر بل څه دلالت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه چې د مبداء پر صحت او بطلان دلالت کوي، هغه د مبداء عقیده ده، چې صحیح ده که باطله، ځکه عقیده هغه فکري قاعده ده، چې ټول افکار وربانديې ولاړ دي، چې ټول لرلیدونه ټاکي، د هرې ستونزې حل په کې شتون لري او د هر څه طریقه پکې روښانه وي. که دغه فکري قاعده سمه وي، نو مبداء به هم صحیح وي او که فکري قاعده یې باطله وي، نو مبداء هم له بنسټه باطله ده.

فکري قاعده، چې کله د انسان له فطرت سره سمون ولري او پر عقل ولاړه وي، نو دا قاعده سمه ده او کله چې د انسان له فطرت سره مخالفه وي او پر عقل نه وي ولاړه، نو باطله قاعده بلل کېږي. له انساني فطرت سره د فکري قاعدې د سمون معنا دا ده، چې د مدبر خالق عبادت او هغه ته احتیاج د انسان په فطرت کې اړتیا ده او هغه ذات ته باید د اړتیا له مخې سر ټیټ کړي. یا په بل عبارت د تدین له غریزې سره سمون ولري او پر عقل ولاړه وي، په دې معنی، چې پر حل وسط او ماده نه وي ولاړه.

که موږ نړۍ ته هراړخیز نظر وکړو، تر دریو ایډیالوژیو ډېرې پکې نشو موندلای: پانګوالي، اشتراکیت یا سوسیالیزم او اسلام، لومړۍ دوې ایډیالوژۍ یو دولت یا څو دولتونه لري، چې دغه ایډیالوژۍ نورې نړۍ ته لېږدوي. دریمه هغه هېڅ دولت نه لري، چې نړۍ ته یې ولېږدوي، یوازې افراد یې په ولسونو کې لېږدوي، سره له دې په نړیواله توګه د ځمکې په کره کې شتون لري.

پانګوالي، له ژوند څخه د دین د بېلتون پر اساس ولاړه ده او دغه فکره یې عقیده جوړوي، همدا یې فکري قیادت دی، همدغه یې فکري قاعده ده، د دې فکري قاعدې له مخې انسان د ځان لپاره خپله خپل د ژوندانه نظام جوړوي. له دې امله د انساني آزادیو له ساتنې پرته یې بله چاره نشته، هغه د عقیدې آزادي، د بیان آزادي، د ملکیت آزادي او شخصي آزادۍ دي. د ملکیت له آزادۍ څخه یې پانګوالي اقتصادي نظام رامنځته کړی، له همدې امله پانګوالي د دې ایډیالوژۍ مهمه او ډېره برخه جوړوي او دا هم د دې ایډیالوژۍ له عقیدې څخه اخیستل شوې ده. له همدې امله دغې ایډیولوژۍ یا مبداء ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


پانگوالي ويله کېږي، ځکه چې هر څه د هغې د ډېرې او ښکاره برخې په نوم نومول کېږي.

خو هغه ډيموکراسي چې دغه ايډيالوژي يا مبداء يې له ځان سره لري، له دې امله رامنځته شوې ده چې انسان ځان ته خپله نظام جوړوي، له همدې امله امت د ځواك مصدر دی، نظامونه وضع کوي، حاکم په اجاره نيسي، ترڅو پر دوی حکم وچلوي. کله چې امت اراده وکړي همغه مهال حکم ورڅخه اخلي، هغه نظام وضع کوي چې غواړي يې، ځکه حکم د ولس او حاکم تر منځ يو اجاره يي عقد دی، ترڅو په هغه نظام باندې حکم وکړي چې ولس ورته وضع کړی دی.

سره له دې چې ډيموکراسي د پانگوالۍ له مبداء څخه ده، د هغې تر اقتصادي نظام څخه پکې لويه او متبارزه نه ده، ځکه په لويديځ کې اقتصادي نظام پر حکومتولۍ اغېز لري او د پانگوالو لپاره يې سر ټيټ کړی او غاړه يې ورته ايښې ده. آن تر دې چې پانگوال د دوی د هغو خاورو اصلي حکام او چارواکي دي کومو چې پانگوالي ايډيالوژۍ ته غاړه ايښې ده. همدا راز ډيموکراسي يوازې په همدې مبداء پورې تړلې نه ده، ځکه بل خوا ته کمونيستان هم د ډيموکراسۍ نارې وهي او امت ته د حکم پر ورکولو گويا دي، ځکه نو تر ټولو دقيقه دا ده چې دا مبداء بايد پر پانگوالۍ اطلاق شي.

د دغې مبداء په را منځته کېدو کې اصلاً په اروپا او روسيه کې د قيصرانو او شاهانو له خوا دين د ولسونو د غولولو، ظلم، وينې تويونې لپاره د يوې وسيلې په توگه وکارول شو، دوی به له روحانيونو څخه د دغه کار لپاره د وسيلې په توگه کار اخيست. نو د دې سختې مبارزې په ترڅ کې داسې فيلسوفان او پوهان منځته راغلل، چې ځينو له يوه سره له دين څخه انکار وکړ، خو بلې ډلې که څه هم له دين څخه انکار ونه کړ، خو له ژوند څخه يې د دين د بيلتون غږ پورته کړ. آن تر دې چې د ډېرو فلاسفهوو او مفکرينو نظر په دې يوه گونې فکره باندې ودرېد، چې نور به دين له ژوند څخه بېل وي، په پايله کې يې په طبيعي ډول دين له دولت څخه بېل کړ. نظر په دې ودرېد چې پر دين به نور د اعتراف او انکار بحث نه کېږي، په بحث کې د دې د وجوب حصر راغی چې دين له ژوند څخه بېل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا فکره د روحانیونو او له دین څخه د منکرانو یا روڼ اندو تر منځ یوه منځنۍ لاره بلل کېږي. روحانیونو اراده درلوده چې هر څه باید د دین په نامه د دوی تابع وي او له دین څخه منکرانو یا روڼ اندو له روحانیونو څخه خلاصون غوښت، دوی له دین څخه انکار نه کاوه؛ خو په ژوند کې یې د لاسوهنې حق نه ورکاوه او دین یې له ژونده بېل کړ. دغه عقیده دوی ته هغه فکري قاعده وګرځېده، چې ټول افکار یې ورباندې درېدل، د هغې پر بنسټ یې فکري لیدلوری او له ژوند څخه یې انسان ته لرلید ټاکه، د ژوند ټولې ستونزې یې پرې حلولې او دا هغه فکري قیادت دی چې غرب یې نړۍ ته لېږدوي او نړیوال ورته رابولي.

له ژوند څخه د دین د بېلتون عقیده پر دې یو ضمني اعتراف دی، چې د دین په نامه هم یو شی شته دي، یعنې د کایناتو، انسان او ژوندانه لپاره یو خالق شته، د آخرت ورځ شته، ځکه د دین اصل او ماهیت د یوه دین په توګه همدغه دی، چې دغه منل بیا له کایناتو، انسان، ژوندانه او له ژوندانه څخه مخکې او وروسته په خپله د یوې فکرې ورکول دي، ځکه چې دغه د دین وجود نه نفي کوي، بلکې کله چې یې له ژوندانه څخه بېلوي، ضمناً یې په وجود اعتراف هم کوي. څو په پایله کې د دین موجودیت ثابت کړي او دا فکره ورکړي، چې دغه ژوند له مخکې او وروسته له ژوند سره هېڅ تړاو نه لري، دا مهال د دین او ژوند د بېلتون خبره کوي، چې دین یوازې د خالق او فرد تر منځ اړیکه ده. له دې امله (له ژوند څخه د دین د بېلتون) عقیده په شامل مفهوم سره، له کایناتو، انسان او ژوند څخه کلي فکره کېږي او له همدې ځایه پانګوالي مبداء یا ایډیولوژي لکه څنګه چې څرګنده شوه، د نورو ایډیالوژیو په څېر یوه ایډیالوژي ده.

خو اشتراکیت او کمونېزم بیا داسې ګڼي، چې ژوند، انسان او ټول کاینات یوازې ماده دي، چې دغه ماده د دې شیانو اصل او بنسټ بلل کېږي او د مادې له بشپړوالي او پرمختګ څخه هر شی منځته راغلي. د مادې تر شا بیا هېڅ مطلق څیز نشته او دغه ماده په خپله ازلي او قدیمه ده، هېچا نه ده پیدا کړې، په خپله منځته راغلې، یعنې واجب الوجود ده. له همدې امله څیزونه د خالق مخلوق نه ګڼي، یعنې په څیزونو کې له ټولې روحي

(c) ketabton.com: The Digital Library


برخې څخه انکار کوي او داسې تعبيروي چې د هغه پر وجود اعتراف ژوند ته خطر دی، له همدې امله دين د خلکو او ملتونو تباه کوونکي توکي يا افيون بولي او له عملي کولو څخه يې خلک منع کوي. دوی له مادې پرته د نورو شيانو پر وجود باندې ايمان نه لري. آن فکر هم پر دماغ د مادې انعکاس بولي، ماده د فکر اصل ګڼي، د هر څه بنسټ يې بولي، لنډه دا چې ماده او د مادې بشپړوالی او پرمختګ هر څه رامنځته کوي. نو د دې پوهې له کبله دوی د خالق شتون نه مني او ماده يو ازلي شی بولي، له ژوندانه مخکې او وروسته له هر شي انکار کوي او له ژوند پرته پر بل څه اعتراف نه کوي.

د انسان، کايناتو او ژوندانه په اړه د بنسټيز ليد په اړه د دغو دواړو ايډيالوژيو پر خپلمنځي اختلاف سربېره پر دې متفق دي، چې د انسان لوړ ارزښتونه او لوړې موخې هغه دي، چې انسان يې پخپله ځان ته ټاکي. نېکمرغي او سعادت دا دی چې څومره سړی له بدني څيزونو څخه په ډېره پيمانه برخمن وي، ځکه د دوی په نظر همدا د نېکبختۍ وسيله ده، بلکې په خپله همدا نېکمرغي هم ده. دواړې ايډيولوژۍ دا مني، چې انسان ته بايد په دغه لار کې هر ډول شخصي آزادي ورکړل شي، ترڅو په څيزونو کې داسې تصرف وکړي، څنګه يې چې زړه غواړي او اراده يې لري، تر هغې چې په خپلو کړو وړو کې نېکمرغيويني. نو له همدې امله دا دواړه مفکورې يا ايډيولوژۍ شخصي کړه وړه او شخصي آزادۍ سپېڅلې بولي.

خو دا دواړې مبداوې په خپل منځ کې د فرد يا وګړي او ټولني يا اجتماع په اړه ځانګړي ليدونه لري او د دوی لارې سره بېلوي. پانګوالي يوه فردي مبدأ ده، چې له نظره يې ټولنه يوازې د وګړو مجموعه او ټولګه ده. ټولنې ته د دويم نظر په سترګه نه ګوري، بلکې فرد ته خپل نظر ځانګړی کوي. له همدې امله دا واجبوي چې د فرد لپاره آزادۍ تضمين کړي. له همدغه ځايه د عقيدې آزادي يو له هغه څه څخه وګرځول شوه چې په تقدس ورته قايل وو، همدا راز اقتصادي آزادي مقدسه ده. پر دغو آزاديو د هغوی د فلسفو له مخې تقيد نه کوي، بلکې د دولت له مخې وربانديې تقيد کوي چې دغه آزادۍ يې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تضمین کړې دي او دولت دغه مقیدوالي د قانون په ټینګښت او د پوځیانو په زور عملي کوي. مګر دولت په دې کې یوازې د وسیلې رول لري، نه د هدف، له همدې امله په پایله کې سیادت د افرادو دی نه د ټولنې. نو په همدې بنسټ پانګوالي ایډیالوژي خپل فکري قیادت له ژوند څخه د دین د بېلوالي پر فکر لېږدوي، د هغه پر اساس د هغه په نظامونو باندې حکم کوي، خلک ورته رابولي او هڅه کوي ترڅو په هر ځای کې یې پلې کړي.

خو اشتراکیت – چې کمونېزم یې یوه برخه ده- داسې مبدأ یا ایډیولوژي ده، چې ټولنه د بشر او له طبیعت سره د هغه د اړیکو عامه مجموعه بولي، دا حتمي او محدودې اړیکې دي، چې دوی ورته په حتمي او عضوي ډول غاړه ږدي. دا مجموعه ټوله یو شی ده: طبیعت، انسان، او اړیکې ټول یو شی دي، یو له بل څخه بېل اجزاء نه دي. نو انسان طبیعت د خپل شخصیت یو اړخ بولي، دا هغه اړخ دی چې په خپل ذات کې یې له ځان سره لري. له همدې امله انسان پرمختګ نه شي کولای خو چې د شخصیت په دغه اړخ پورې یې اړیکه پیدا کړې وي او هغه طبیعت دی، ځکه له طبیعت سره اړیکه له خپل نفس سره د څیز اړیکه ده. له همدې امله ټولنه یوه واحده مجموعه ده چې ټوله په ټولیز ډول واحد پرمختګ کوي او فرد د دغه پرمختګ په پیروۍ داسې دوران ورپسې کوي لکه نټ چې په ټایر پسې تاوېږي. پر همدغه اساس د دوی په نزد د فرد لپاره نه عقیدوي او نه اقتصادي آزادي شته. نو عقیده په هغه څه پورې مقیده ده چې دولت یې اراده لري، اقتصاد هم په هغه څه پورې تړلی دی چې دولت یې اراده لري. نو ځکه دولت هم د هغه څه یوه برخه ده چې مبداء یې سپېڅلی ګڼي. له دغې مادي فلسفې څخه یې د ژوند نظامونه راوتلي دي، اقتصادي نظام یې لومړنی اساس ګرځولی او هغه د ټولو نظامونو لپاره عام مظهر دی.

نو له دې کبله اشتراکي یا له هغه څخه کمونیستي مبداء یو فکري قیادت لېږدوي، چې هغه مادي قیادت او مادي پرمختګ دی او پر بنسټ یې نظامونه جوړوي، دعوت ورته کوي او هڅه کوي چې په هر ځای کې یې پلې کړي.

خو اسلام بیا دا بیانوي چې د دغه طبیعت، انسان او ژوند تر شا خالق او پیدا کوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ذات شته، چې دا هر څه یوازې ده پیدا کړي دي، هغه الله سبحانه وتعالی دی. نو ځکه یې د الله سبحانه وتعالی پر وجود ایمان د اعتقاد بنسټ دی. همدغې عقیدې بیا روحي ناحیه ورته ټاکلې ده، هغه دا چې انسان، ژوند او طبیعت د یوه خالق مخلوق بلل دي، نو له همدې کبله یې له طبیعت سره تړاو په دې صفت دی چې د خالق مخلوق دی او دا په طبیعت کې روحي ناحیه ده. او د ژوند اړیکه له خالق سره په دې اساس چې د خالق مخلوق دی، په ژوند کې روحي ناحیه ده. د مخلوق انسان اړیکه له خالق سره په انسان کې روحي ناحیه ده، له همدې ځایه روح له الله سبحانه وتعالی سره د انسان د اړیکې موندل دی.

پر الله سبحانه وتعالی ایمان دا واجبوي چې پر محمد صلی الله علیه وسلم، د هغه په رسالت او نبوت، دا چې قرآن کریم د الله سبحانه وتعالی کلام دی، له ایمان سره نژدې شي. نو پر ټولو هغو څیزونو چې محمد صلی الله علیه وسلم راوړي دي، ایمان واجبیږي. له همدې امله اسلامي عقیده حکم کوي چې له ژوند څخه په مخکې، چې الله سبحانه وتعالی دی، ایمان راوړي او پریکړه کوي چې پر راتلونکي ژوند هم ایمان راوړي، چې هغه د قیامت ورځ ده او انسان د دنیا په دغه ژوند کې د الله سبحانه وتعالی پر امرونو او نواهیو پورې مقید دی. دا د ژوند له مخکې او وروسته سره اړیکه ده، د دغو اوامرو په سرته رسولو او له نواهیو څخه د ځان ساتنې څخه پر پیروۍ او محاسبه مقید دی او دا د ژوند له مابعد سره اړیکه ده. له همدې امله پر مسلمان حتمي ده چې د اعمالو د سرته رسولو پر مهال له الله سبحانه وتعالی سره اړیکه درك کړي. نو اعمال به د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهیو سره سم ترسره کوي. همدا د روح او مادې د یو ځای کولو په معنی ده او د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو له مخې عمل کول هغه موخه ده چې د الله سبحانه وتعالی رضا او خوښي بلل کیږي. مقصوده موخه ورڅخه هغه ارزښت دی چې عمل یې رامنځته کوي.

نو له دې کبله د ټولنې د ساتنې لپاره لوړې موخې د انسان په لاس نه شي جوړېدای، بلکې هغه د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي دي، هغه ثابتې موخې چې نه بدلون مومي او نه پرمختګ کوي. نو د انسان د نوعې، عقل، انساني کرامت، نفس، فردي ملکیت، دین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن او دولت ساتنه، د ټولنې د ساتنې لپاره لوړې موخې دي، چې بدلون او پرمختګ ورسره نه شي یو ځای کېدای. نو د دغو ثابتو موخو د ساتنې لپاره یې حدود او عقوبات وټاکل او د دغو موخو ساتنه او عملي کول واجب وګڼل شول، ځکه دا د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي دي، نه د دې له امله چې دوی مادي ارزښتونه را منځته کوي. پر همدغه اساس مسلمان او اسلامي دولت خپل ټول اعمال د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو سره سم ترسره کوي، ځکه دا هغه څه دي چې د انسان ټولې چارې تنظیموي. د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهیو سره سم عمل کول، مسلمان ته اطمېنان او ډاډ رامنځته کوي او ځکه نو سعادت د جسد اشباع او هغه ته متاع ورکول نه دي، بلکې د الله سبحانه وتعالی راضي کول دي.

مګر عضوي اړتیاوې او غریزې هم اسلام داسې تنظیم کړې دي، چې ټولې اړتیاوې یې اشباع کوي؛لوږه، د نوعې غریزه، د تدین غریزه او یا دې ته ورته نور حاجات. مګر داسې نه چې ځینې د ځینو نورو پر ځای مړې کړي، نه د ځینو په محرومیت او ځینو په مړښت او یا په ټولو دا ډول اطلاق، بلکې ټولې یې تنظیم کړې دي او ټولې یې د یوه دقیق نظام له مخې مړې کړې دي، چې انسان ته یې سوکالي او ډاډ ورکړی او د غریزو او د حیواني درك له پلوه یې د انسان او حیوان تر منځ توپیر راوستی دی.

د دغه تنظیم د تضمین لپاره، اسلام ټولنې د کُل په اعتبار ګوري نه د برخو او اجزاوو په څېر او فرد ته د دغه جماعت د یوه نه بېلېدونکي جز په اعتبار ګوري. مګر د هغه جزئیت له جماعت څخه داسې نه دی لکه د نټ جزئیت په ټایر کې، بلکې انسان له کُل څخه یو جز دی، لکه لاس چې د جسم یو جز دی. له دې امله اسلام فرد د جماعت د یوه جز په صفت معنی کړی دی، نه داسې فرد چې له ټولنې څخه بېل وي. په داسې توګه چې انسان د دغه ټولې په محافظت کې مرستندوی واقع شي، په ورته وخت کې یې په جماعت کې بللی، نه د داسې کُل په څېر چې اجزا ونه لري، بلکې داسې کل چې له اجزاوو څخه جوړ شوی وي، لکه افراد چې د جز په څېر ټولنې د ساتنې لامل شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَثَلُ القَائِمِ عَلَي حُدُودِ اللهِ والوَاقِعِ فِيهَا كَمَثَلِ قَومٍ استَهَمُوا عَلَي سَفِينَةٍ فَأَصَابَ بَعضُهُم أَصَابَ بَعضُهُم أَعلاهَا وبَضُهُم أَسفَلَهَاَ، فَكَانَ الَّذِينَ في أَسفَلِهَا إِذَا استَقَوا مِنَ المَاءِ مَرُّوا عَلَي مَن فَوقَهُم، فَقَالُوا: لَو أَنَّا خَرَقنَا في نَصِيبِنَا خَرقاً ولَم نُؤذِ مَن فَوقَنَا، فَإِن تَرَكُوهُم وَ مَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعَاً، وَ إِن أَخَذُوا عَلَي أَيدِيهِم نَجَوا و نَجَوا جَمِيعَاً.»** (رواه البخاري)

***ژباړه:*** *د هغه چا مثال چې د الله حدود قایموي او د هغه چا چې په هغو کې واقع وي، د هغه قوم په څېر دی چې پر کښتۍ پچه واچوي، نو یو شمېر ته پورتنۍ برخه ورسېږي او نورو ته ښکتنۍ برخه. کله چې د لاندینۍ برخې افراد اوبه اخلي، نو د پورتنۍ برخې له لارې تېرېږي، ځکه نو دوی وایي، که موږ په خپله برخه کې (د اوبو اخیستلو لپاره) سورې وکړو، د پورتنۍ برخې خلک به هم له تکلیف څخه خلاص شي. که د دوی د دغه کار مخه ونه نیسي، نو ټول به هلاك شي او که یې له دغه عمل څخه منع کړل، دوی او نور ټول وګړي به له هلاکت څخه وژغورل شي.*

همدغه د فرد او ټولنې په اړه لید او نظر دی، چې ټولنې ته ځانګړی مفهوم ورببښي، ځکه دا خلك د جماعت اجزا دي، اړینه ده چې دوی باید داسې افکار ولري ترڅو یې یو له بل سره وتړي. د هغو له مخې به ژوند کوي، دوی به واحد احساسات ولري، چې له هغو څخه به اغېزمن وي او د هغو له مخې به هڅول کېږي او دوی به واحد نظام ولري، چې د ټولو د ژوند ستونزې یې ورحل کړې دي.

له همدې ځایه اجتماع یا ټولنه له انسان، افکارو، احساساتو او نظامونو څخه جوړه شوې ده. او انسان هم په ژوند کې پر دغو افکارو، احساساتو او نظامونو مقید دی. له دې امله مسلمان د ژوند په هر څه کې پر اسلام مقید دی او دی مطلقې آزادۍ نه لري.

نو د مسلمان عقیده د اسلام په حدودو کې مقیده ده، نه مطلقه. له همدې امله ارتداد یې لویه ګناه بلل کېږي، که له ارتداد څخه وانه وړي، د قتل مستحق کېږي. شخصي ناحیه هم د اسلام په نظام پورې تړلې ده، له همدې امله زنا هغه ګناه ده چې له مهربانۍ پرته، له تشهیر سره مجازات کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿...وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (النور: ۲)

***ژباړه:*** *ترڅو د دوی دواړو عذاب یوه ډله مومنان ووینی.*

همدارنگه د شرابو څښل یو لوی جرم دی چې څښونکي ته یې سزا ورکول کېږي، پر نورو خلکو تېری کول هم یو جرم دی، چې د جرم د نوعیت له مخې لکه قذف، قتل او دې ته ورته نور جرمونه، بېلابېلې سزاگانې لري. اقتصادي ناحیه هم په شرع او هغو اسبابو پورې مقیده ده چې تملك یې فرد ته مباح گرځولی دی او د دغه فردي ملکیت په حقیقت سره شارع کولی شي چې هغه ته له هغه عین څخه د گټې اخیستلو اجازه ورکړي. له دغو قیدونو څخه وتل جرم بلل کېږي چې د نوعیت په توپیر سره توپیر مومي لکه غلا، غصب او دې ته ورته نور. د دې لپاره اړینه ده چې دولت موجود وي او دغه جماعت او فرد به ساتي، نظام به په ټولنه پلي کوي. دغه راز اړینه ده چې د قبولې کړې مبداء اغېز یې موجود وي، ترڅو خلك په خپله په طبیعي ډول نظام وساتي. له همدې امله مبداء هغه څه ده چې دوی ورپورې تړلي دي او ساتي یې او دولت یې پلی کوونکی دی. د دې لپاره سیادت د شرعې دی نه د دولت او امت، که سلطه د امت شي او مظهر یې په دولت کې وي، نو د تنفیذ طریقه یې نظام دی، چې دولت بلل کېږي. که پر فرد اعتماد له الله سبحانه وتعالی څخه د مومن په تقوا و، ترڅو اسلامي احکام عملي کړي، نو دولت ته اړینه ده چې هغه تشریع وکړي چې دولت یې عملي کوي او د مومن فرد لپاره باید داسې توجیه شي، ترڅو اسلام له الله سبحانه وتعالی څخه په تقوا عملي کړي. له همدې ځایه اسلام عقیده او نظامونه دي، د اسلام مبداء فکره او طریقه ده، چې د همدغې فکرې له جنسه ده. نظام یې هم له همدغې عقیدې څخه سرچینه اخیستې ده، فرهنگ یې هم په ژوند کې ټاکلې چوکاټ لري. د دعوت په لېږدولو کې یې طریقه دا ده چې دولت یې باید عملي کړي، ترڅو فکري قیادت نړۍ ته ورسوي او همدا د اسلامي نظام د فهم لپاره بنسټ شي او عمل ورباندې وکړي. عمل هم باید په ټولنه کې وي په داسې ډول چې پر اسلامي نظام حکم وشي، اسلامي دعوت خپور کړي، ځکه د اسلامي نظام پلي کول پر غیر مسلمانانو د دعوت عملي طریقه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ده، په تحقیق سره د دا ډول پلي کولو لوی اغېز د دغه لویې ګرد چاپېره اسلامي نړۍ په رامنځته کولو کې موجود و.

لنډه دا چې په نړۍ کې درې ایډیالوژۍ یا مبداء ګانې شته دي: پانګوالي، اشتراکیت چې له هغه څخه کمونېزم نشأت کړی او درېیمه یې اسلام ده. دغه هره ایډیالوژي ځانګړې عقیده لري، چې نظامونه یې ورڅخه جوړ شوي دي، دوی په ژوند کې د انسان د اعمالو لپاره مقیاس او معیار لري، له ټولنې څخه ځانګړی نظر او لید لوری او د نظام د تنفیذ لپاره ځانګړې طریقه لري.

خو د کمونیزم مبداء د عقیدې له پلوه داسې ده، چې ماده د اشیاوو اصل بولي، د دوی په نظر ټول شیان د مادې له پرمختګ او پراختیا څخه لاس ته راغلي دي. پانګوالي مبداء بیا وایي، چې باید دین له ژوند څخه جلا کړي، په پایله کې دین له دولت څخه بېلېږي. نو پانګوال دا بحث نه کوي چې آیا خالق شته او که نه، بلکې دوی دا بحث کوي چې خالق په ژوند کې هیڅ دخالت نه لري، برابره ده که د هغه ذات په شتون اعتراف وکړي او که انکار. له دې امله دوی ته د خالق د شتون منونکي او منکر په عقیده کې سره برابر دي، او هغه له ژوند څخه د دین بېلتون دی.

خو اسلام وایي چې الله سبحانه وتعالی د ټولو موجوداتو پیدا کوونکی او خالق دی او همدغه الله سبحانه وتعالی نبیان او رسولان له خپل دین سره انسانانو ته را استولي دي او دی به د قیامت په ورځ له انسانونو سره د کړو وړو حساب کوي. نو له دې امله د دوی عقیده پر الله سبحانه وتعالی، د هغه پر پرښتو، کتابونو، رسولانو او د آخرت پر ورځ او د قضا او قدر په خیر او شر چې د الله سبحانه وتعالی له لوري دی، پر دغو ټولو ایمان درلودل دي.

له عقیدې څخه د نظام او قانون د را ایستلو په هکله کمونېزم وایي، چې نظام باید د تولید له وسایلو څخه واخیستل شي، ځکه په یوه ټولنه کې کېدای شي چې تبر د تولید وسیله وي، له همدې څخه د غوڅولو نظام اخیستل کېږي او کله چې ټولنه د پانګوالی مرحلې ته پرمختګ وکړي نو آله یا ماشین د انتاج او تولید وسیله کېږي. له همدې څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانګوالی نظام اخلي، نو د دوی نظام له مادي پرمختګ څخه اخيستل کېږي. اما د پانګوالی مبداء وايي کله چې انسان دين له ژوند څخه بېل کړ، نو ورته اړينه ده چې د ځان لپاره د ژوند له ذات څخه نظام جوړ کړي. نو دوی نظام له هغو واقعيتونو څخه جوړوي چې د ځان لپاره يې وضع کړي دي. اما اسلام وايي چې الله سبحانه وتعالی دوی ته په ژوند کې نظام برابر کړی او محمد صلی الله عليه وسلم يې د دغه نظام د رسالت لپاره رالېږلی دی. نو لازمه او واجب ده چې انسان د هغه له مخې عمل وکړي، ستونزې وڅېړي او د حل لپاره يې له کتاب او سنتو څخه احکام استنباط کړي.

اما په ژوندانه کې د اعمالو د معيار او مقياس په هکله بيا کمونېزم وايي چې همدغه ماديت يعنې مادي نظام د ژوند معيار دی او څومره چې پرمختګ کوي هومره معيار هم ورسره پرمختګ کوي. پانګوالي مبداء بيا په ژوندانه کې د اعمالو معيار منفعت يا ګټه بولي، چې په وسيله يې اعمال اندازه کېږي او پر همدغه اساس عمل کوي. اسلام په ژوندانه کې د اعمالو معيار حلال او حرام بولي، يعنې د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي، چې پر حلالو عمل کېږي او حرام پرېښودل کېږي، چې هېڅ تغيير او بدلون نه مني او نه پکې منفعت کوم لاس لري، بلکې يوازې شريعت پکې حاکم ګرځول کېږي.

اما ټولنې ته په کتو سره کمونيزم داسې انګيري چې ټولنه له ځمکې، توليدي وسايلو، طبيعت او انسان څخه د يوې عامې مجموعې په څېر جوړه شوې ده، چې دا ټول بيا له يوه څيز څخه جوړ شوي او هغه ماده ده، چې د طبيعت له پرمختګ سره انسان هم پرمختګ کوي، بيا ټوله ټولنه هم ورسره پرمخ ځي. له همدې امله ټولنې مادي پرمختګ ته غاړه ږدي او انسان يوازې بايد تناقضات ومومي، چې دغه پرمختګ بېړنی کړي او کله چې ټولنه پرمختګ وکړي، د هغې په پرمختګ سره وګړی هم پرمختګ کوي. نو داسې له هغې سره دوران کوي لکه نټ په ټاير کې.

پانګوالي مبداء وايي چې ټولنه له وګړو څخه جوړه شوې ده، کله چې د وګړي چارې تنظيم شي، نو د ټولنې چارې هم تنظيمېږي. نو له همدې امله اړينه ده چې يوازې وګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته پام وکړي، نو دولت د وګړي لپاره کار کوي، له همدغه امله پانګوالي فردي مبداء ده.

خو اسلام د ټولنې اساس عقيده بولي، چې افکار او احساسات له ځان سره لېږدوي، نظامونه ورڅخه سرچينه اخلي. نو دا مهال اسلامي افکار او احساسات رنګ پيدا کوي، پر خلکو اسلامي نظام پلی کېږي، اسلامي ټولنه جوړېږي. له همدغه امله ټولنه له انسان، افکارو، احساساتو او نظامونو څخه جوړه شوې ده. انسان يوازې له بل انسان سره ټولی يا جماعت جوړوي، بلکې ټولنه نه شي جوړولای مګر په هغو افکارو چې انسان يې له ځان سره لېږدوي، په هغو احساساتو چې له انسان سره شته او په هغو نظامونو چې ورباندې پلي کېږي، ځکه هغه څه چې د يوه انسان او بل انسان تر منځ اړيکه پيدا کوي هغه مصلحت دی، نو که په همدغه مصلحت سره افکار متحد شول او يا هم احساسات متحد شول نو رضا او غضب يې هم متحد کېږي او که هغه نظام چې د دوی ستونزې ورحلوي سره متحد او يو شي، نو د يوه انسان اړيکه له بل انسان سره رامنځته شوه. که افکار يې د مصلحت په اړه مختلف شول يا يې احساساتو توپير پيدا کړ، رضا او غضب يې نه شي سره متحد کېدای او که په هغه نظام کې چې د دوی ستونزې ورحلوي، توپير رامنځته شو، د دوی تر منځ اړيکه نه شي رامنځته کېدای، نو وروسته ټولنه نه شي رامنځته کېدای، ځکه ټولنه له انسان، افکارو، احساساتو او نظامونو څخه جوړه شوې ده، چې د دوی تر منځ اړيکه او تړاو رامنځته کوي او جماعت يا ټولی پر ټاکلې ټولنه بدلوي.

نو اوس که ټول خلک مسلمانان وي، خو افکار يې پانګوالي او ډيموکراسي وي او احساسات يې روحي، کهنوتي او وطني وي او هغه نظام چې پر دوی پلی کېږي، پانګوالي او ډيموکراسي وي، نو دا ټولنه غير اسلامي ټولنه بلل کېږي، که ډېری اهل يې مسلمانان هم وي.

اما کمونيستي مبداء يا ايديولوژي د کمونيستي نظام د پلي کېدو له پلوه، يوازې دولت د لښکر په زور او د قانون په ځواك سره نظام پلی کوي او له فرد او ټولنې څخه چارې اخلي، چې دا نظام ته پرمختګ ورکوي. پانګوالي مبداء بيا دولت د آزاديو څارونکی او چمتو کوونکی بولي، کله چې يو وګړی د بل پر آزادۍ تېری وکړي، نو دولت د دغه تېري مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیسي، ځکه دولت د آزادیو د تضمین لپاره رامنځته شوی. خو که یو فرد د بل پر آزادۍ تېری ونه کړي، خو حقوق یې واخلي او یا یې وغولوي، مګر د هغه په خوښۍ سره، دې ته تېری نه ویل کېږي، په دې کې دولت لاسوهنه نه کوي، نو له همدې امله دولت د آزادیو د تضمین لپاره موجود دی.

خو اسلام وایي، چې نظام به مومن وګړی د خپل ایمان او له الله سبحانه وتعالی څخه د تقوا له مخې نافذوي او دولت به یې د ټولي یا جماعت د عدالت په شعور پلی کوي، امت به له حاکم سره د امربالمعروف او نهی عن المنکر په وسیله مرسته کوي او د دولت به په ځواك او سلطه نظام نافذوي. دولت د جماعت او ټولي چارې سنبالوي او د فرد چارې تر هغه نه سنبالوي، ترڅو چې هغه یې له سرپرستۍ څخه عاجز نه شي، دغه نظام (د حلالرو ټولګه) بدلون او اوښتون نه مني. کله چې د اجتهادونو پایلې ډېرې شي، نو دولت د شرعي احکامو د تبني صلاحیت لري.

د اسلام د مبداء فکري قیادت د انسان له فطرت سره سم دی، هغه په ژوروالي سره آسانه او د عملي کېدو وړ دی، د انسان زړه او عقل یې ژر درک کولی شي، ځکه تدین په انسان کې فطري دی او هر انسان په فطرت سره متدین دی او د هېڅ ځواک په وسیله له ده څخه دا فطرت نه شي اخیستل کېدای، ځکه هغه د یو انسان په بنسټ کې نغښتی. نو انسان په خپل طبیعت کې احساسوي چې دا ناقص دی او دلته تر دې بشپړ ځواك هم شته او دغه ځواك د تقدیس وړ دی، تدین د مدبر خالق لپاره د اړتیا د احساس دی، هغه هم د انسان په تکوین کې د طبیعي عجز څخه رامنځته کېدونکی دی، هغه ثابته غریزه ده چې ټاکلې مرجع لري او هغه تقدیس دی. له همدې امله انسانان په ټولو عصرونو کې متدین وو او د یو څه عبادت به یې کاوه؛ د انسان، افلاکو، ډبرو، حیوان، اور او دې ته ورته څیزونو عبادت به یې کاوه. کله چې اسلام له خپلې عقیدې سره یو ځای راغی، د دې لپاره چې انسانیت د مخلوقاتو له عبادت څخه د هغه الله سبحانه وتعالی د عبادت لوري ته وباسي، چې هر څه یې پیدا کړي دي. کله چې مادي مبداء ظهور وکړ او د الله سبحانه وتعالی له وجود او

(c) ketabton.com: The Digital Library


روح څخه یې انکار کاوه، ونه توانېده چې دغه طبیعي تدین له منځه یوسي، بلکې د انسان تصور یې تر دې نور هم ځواکمن کړ. تقدیس یې هم همدغه ځواك ته ور کړه کړ، دا ټول یې د ځواك تصور ته په مبداء او د هغې لېږد ته ورولېږدول، د هغه تقدیس یې یوازې دغه دواړو ته ورکړ، لکه چې شا ته ګرځېدلي وي او د خلکو تقدیس یې د الله سبحانه وتعالی له عبادت څخه د بنده ګانو عبادت ته ور نقل کړ. د الله سبحانه وتعالی د آیتونو تقدیس یې د مخلوقاتو کلام ته ورکړ، نو دا ډول رجعیت په دې کې و. خو بیا هم ونه توانېدل چې د تدین فطرت له منځه یوسي، بلکې په غلطۍ سره یې په رجعي ډول وګرځاوه. له همدې امله د دوی فکري قیادت د انسان له طبیعت سره مخالف و او قیادت یې سلبي و. له همدې ځایه د سوسیالیزم فکري قیادت له فطري پلوه وروسته پاتې کېدونکی و، بلکې دوی ورته د ورړو، ډار شوو او زیانمو پام یې ځان ته اړاوه، وروسته پاتې کېدونکو، په ژوند کې ناکامو، کینه کښو او د شاذو عقلونو خاوندانو یې پیروي کوله. کله چې دوی د هغې ډیالیکټیکي نظریې په اړه خبرې او بحث کوي، چې فساد او بطلان یې په عقل او حس دواړو مشاهده کېږي؛ مفکرین بلل کېږي. د ځواك او قوت په واسطه یې خلك خپلې مبداء ته تابع کول، له همدې امله یې تنګي، غوسه او غم را منځته کړ او داسې پاڅونونه او حرکتونه را پیدا شول، چې تخریب او پرېشاني یې تر ټولو مهم وسایل وو.

همدا راز د پانګوالي مبداء فکري قیادت د انسان د فطرت مخالف دی چې هغه فطرت تدین دی، ځکه د تدین فطرت په تقدیس او په ژوند کې د انسان د اعمالو په تدبیر کې راښکارېږي، ځکه انسان چې کله دغه تدبیر کوي نو تناقض او اختلاف پکې له ورایه ښکارېږي او دا یې د عجز نښه ده. له همدې امله دا اړینه چې دین باید د انسان په ژوند کې د هغه د اعمالو مدبر وي. نو له ژوند څخه د دین لرې کول د انساني فطرت خلاف عمل دی، ځکه په ژوند کې د دین معنی دا نه ده، چې دنیوي اعمال عبادات وګرځوي؛ بلکې په ژوند کې د دین معنی دا ده چې د الله سبحانه وتعالی له خوا امر شوی نظام هغه نظام دی چې انسان خپلې ورځنۍ ستونزې وربانډې هوارې کړي. دا نظام له هغې عقیدې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوتلی چې د انسان د فطرت لپاره مقرره شوې، نو له هغه څخه لرې کول او د داسې نظام اخيستل چې له هغې عقيدې څخه راوتلی وي چې د تدين له غريزې سره سمون نه مومي؛ د انسان د فطرت مخالف دی. له همدې امله د پانګوالی فکري قيادت له فطري پلوه ناکام او وروسته پاتې کوونکی دی، ځکه هغه د دين او ژوند په بيلتون او له ژوند څخه د تدين په لرې والي سره يو سلبي قيادت دی او دغه مسئله يې د الله سبحانه وتعالی د امر کړل شوي نظام د انساني ستونزو له حل څخه په لرې والي سره فردي موضوع ګرځولې ده.

اسلامي فکري قيادت له دې امله چې عقل يې پر الله سبحانه وتعالی د ايمان راوړو لپاره اساس ګرځولی دی، يو ايجابي قيادت دی، کله چې طبيعت، انسان او ژوند ته نظر وشي، په جزم او قاطعيت سره د الله سبحانه وتعالی وجود ته رسېږي چې دا ټول مخلوقات يې پيدا کړي دي، انسان ته دا ټاکي چې په خپل فطرت د هغه له مطلق کمال څخه بحث کوي. هغسې مطلق کمال چې نه په انسان، طبيعت او ژوند کې را منځته کېدای شي، بلکې عقل يې هغه ته لارښود کېږي، نو دا درك کوي او ايمان ورباندې راوړي.

اما کمونيستي فکري قيادت پر ماديت ولاړ دی، نه پر عقل، که دوی ته عقل ورسېږي، نو له فکر څخه وړاندې د مادې د شتون په ويلو او د هرڅيز لپاره د مادې په اصل ګرځولو سره، مادي دی. اما پانګوالي فکري قيادت پر هغه منځني حل ولاړ دی چې دوی ته له يوې پرلپسې نزاع او کشمکش څخه چې څو پيړۍ يې د کليسا د خلکو او د فکر د خاوندانو تر منځ دوام درلود، رامنځته شوی او پايله يې دا وه چې دين له دولت څخه بېل کړي. له دې امله پانګوالي او کمونيستي فکري قيادتونه شنډ دي، چې دواړه له فطرت سره په ټکر کې دي او پر عقل نه دي ولاړ.

لنډه دا چې يوازې اسلامي فکري قيادت سم او صحيح قيادت دی او نور ټول فاسد او بې معنی قيادتونه دي، ځکه اسلامي فکري قيادت پر عقل ولاړ دی، حال دا چې نور فکري قيادتونه پر عقل نه دي ولاړ. دا هغه فکري قيادت دی چې د انسان له فطرت سره موافق دی، په ځواب کې يې ويل کېږي چې نور فکري قيادتونه له انساني فطرت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف دي. دا ځکه چې کمونيستي فکري قيادت پر عقل نه بلکې پر ماديت ولاړ دی، ځکه چې ماده له فکر څخه مخکې کوي، په دې معني چې له عقل څخه هم مخکینۍ ده. له همدې امله کله چې ماده پر دماغ انعکاس کوي، نو فکر را منځته کوي، نو په هغه څه کې انسان فکر کوي چې پر مغز يې انعکاس کړی وي. اما پر دماغ د مادې له انعکاس څخه وړاندې فکر نه شي رامنځته کېدای، له همدې امله هر څيز پر ماده ولاړ دی، نو د کمونېزم د عقيدې اساس يعنې کمونيستي فکري قيادت مادي دی نه فکر.

خو دا خبره د دوو لاملونو له امله ناسمه ده: لومړی دا چې د مادې او دماغ تر منځ هېڅ ډول انعکاس نه شي رامنځته کېدای، نه دماغ پر ماده منعکس کېږي او نه ماده پر دماغ، ځکه پر يوه څيز انعکاس، په هغه کې د انعکاس د قابليت شتون ته اړتيا لري، لکه هینداره، چې د انعکاس قابليت ته اړتيا لري، چې دا نه په دماغ او نه په مادي واقعيت کې وجود لري. د مادې او دماغ تر منځ مطلق انعکاس نه رامنځته کېږي، ځکه ماده پر دماغ انعکاس نه کوي او نه ورانتقالېږي، بلکې احساس پر ماده دماغ ته د حواسو په واسطه انتقالېږي، نه د دماغ انعکاس پر ماده او دا د مادې حس کول دي، په دې کې د حواسو له مخې د عين او غير تر منځ توپير نشته. نو له لمس کولو، بويولو، خوند څکلو، اورېدلو څخه داسې احساس رامنځته کېږي لکه له ليدلو څخه چې رامنځته کېږي. دلته ځکه دا له څيزونو څخه لاسته راځي، نه پر دماغ د مادې له انعکاس څخه، دا د څيزونو احساس کول دي. نو انسان د پنځه گونو حواسو په واسطه څيزونه حس کوي، بلکې پر دماغ يې څيزونه انعکاس نه کوي.

دويم دا چې يوازې له حس څخه فکر منځ ته نه راځي، بلکې يوازې حس ورڅخه منځ ته راځي، يعنې د واقعيت احساس که يو احساس له بل احساس يا ميليون احساساتو سره يو ځای شي، بيا هم همغه احساس په لاس راځي. څومره چې د احساس د ډولونو شمېر زيات شي، له هغو څخه يوازې احساس لاس ته راځي، مطلق فکر ورڅخه لاس ته نه شي راتلای، بلکې اړينه ده چې پخواني معلومات شتون ولري، ترڅو د هغو په واسطه حس شوی واقعيت تفسير شي، تر دې چې فکر ورڅخه منځ ته راشي. که موږ اوسني انسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سرياني كتاب وركړو او له ده سره د سريانۍ په اړه هېڅ معلومات نه وي، حس يې په ليدلو او لمس كولو سره پر كتاب واقع كېږي. دا حس كه ميليون ځله هم تكرار كړي، هېڅ امكان نشته چې يوه كلمه ورڅخه درك كړي، تر دې چې د سرياني ژبې په اړه معلومات وركړل شي. كله يې چې د سرياني ژبې په اړه معلومات ومونډل، همدا مهال فكر كول پيلوي او درك كوي يې. همدا راز كه موږ د هغه ماشوم چې احساس ورسره شته، خو هېڅ معلومات نه لري، له مخې سره يوه-يوه ټوټه طلا، مس او ډبره كېږدو، ټول احساسات يې د دغو څيزونو په حس كې شريك كړو، نو هېڅ امكان نشته چې درك يې كړي، هر څومره كه دغه احساسات متنوع او تكرار هم شي. مګر كله چې په دې اړه معلومات وركړل شي او حس يې كړي، نو له معلوماتو څخه په ګټې اخيستنې سره يې درك كوي. كه دغه ماشوم لوى شي، شل كلنۍ ته ورسېږي او هېڅ معلومات تر لاسه نه كړي، نو دى داسې پاتېږي لكه په لومړۍ ورځ چې و، چې يوازې څيزونه يې احساس كول. نو كه هر څومره يې دماغ هم لوى هم شي، درك كولى يې نه شي، ځكه هغه څه چې درك ته يې تياروي دماغ نه دى، بلكې پخواني معلومات دي سره له دماغه او سره له هغه واقعيته چې حس كوي يې، چې دا د عقلي ادراك له مخې دي. اما د شعوري ادراك له مخې بيا له غريزو او عضوي اړتياوو څخه منځ ته راځي، چې حيوان يې هم درك كولاى شي. د انسان درك له انسان سره هم منځ ته راځي، نو د منې او ډبرې د وركړې له تكرار څخه جوتېږي، چې منه خوړل كېږي او ډبره نه خوړل كېږي، لكه خر چې پوهېږي چې وربشې خوړل كېږي او خاورې نه خوړل كېږي. دغه توپير او تميز نه فكر دى او نه ادراك، بلكې دا د غريزو او عضوي اړتياوو ځواب او اشباع ده او دا د انسان په څېر له حيوان سره هم شته. له همدې امله امكان نه لري چې تر هغې فكر رامنځته شي، ترڅو چې د واقعيت د احساس په اړه پخواني معلومات د حواسو په واسطه په دماغ كې رامنځته نه شي.

نو پر عقل، فكر او ادراك د حواسو په واسطه دماغ ته د واقعيت د حس انتقال دى او د پخوانيو معلوماتو شتون دى چې د هغه په واسطه هغه واقعيت تفسير كېداى شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پر همدغه اساس کمونیستي فکري قیادت ناسم او فاسد دی، ځکه پر عقل نه دی ولاړ، لکه د دوی پر وړاندې چې د عقل او فکر معنی فاسده ده.

همدا راز د پانګوالۍ فکري قیادت پر منځني حل ولاړ دی، چې د کلیسا د مسوولینو او مفکرینو تر منځ رامنځته شوی دی. د دوی تر منځ له خونړیو مبارزو څخه وروسته، چې څو پېړۍ یې د روحانیونو او مفکرینو تر منځ دوام وکړ، یوه منځني حل ته ورسېدل او دین یې له ژوند څخه بېل کړ، یعنې د دین په شتون یې ضمني اعتراف وکړ او له ژوند څخه یې بېل کړ. له همدې امله دا فکري قیادت پر عقل نه دی ولاړ، بلکې دا یو راضي کوونکی حل یا منځنی حل دی.

له همدې امله د منځني حل فکره له دوی سره د یوه اصل او بنسټ په څیر مومو، دوی د منځني حل په واسطه د حق او باطل، ایمان او کفر، نور او تیارې تر منځ نژدې والی راولي. سره له دې چې منځنی حل هېڅ شتون نه لري، ځکه مسئله دا ده چې یا به حق وي او یا باطل یا ایمان او یا کفر یا نور او یا تیارې؛ مګر هغه منځنی حل چې خپلې عقیدې او فکري قیادت یې وربانديې ولاړ دی، دوی یې له حق، ایمان او نور څخه لرې کړي دي. له همدې امله یې فکري قیادت فاسد دی ځکه چې پر عقل نه دی ولاړ.

اما اسلامي فکري قیادت پر عقل ولاړ دی، ځکه پر مسلمان فرض کوي چې د الله سبحانه وتعالی پر وجود، د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر نبوت او پر قرآن کریم د عقل له مخې ایمان راوړي. دغه راز پر مغیباتو ایمان وربانديې فرض کوي، ځکه دا له هغه څه څخه منځ ته راځي چې شتون یې پر عقل ثابت شوی دی، لکه قرآن او متواتر حدیث، ځکه نو دا فکري قیادت پر عقل ولاړ دی.

دا له عقلي پلوه وو، له فطري پلوه هم اسلامي فکري قیادت له انساني فطرت سره موافق دی، ځکه چې مسلمانان د دین پر شتون ایمان لري، په ژوند کې یې اړین او واجبي بولي او د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو له مخې ژوند کوي. تدین فطري دی ځکه دا یوه غریزه ده، چې ځانګړې رجع لري او هغه هم تقدیس او سپېڅلتیا ده او د دې رجع له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو غریزو څخه توپیر لري، ځکه دا د ټاکلې غریزې لپاره یوه طبیعي رجع ده، له همدغه ځایه پر دین ایمان رامنځته کېږي او دا اړینه کېږي چې په ژوند کې د انسان اعمال د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهیو سره سم ترسره شي، چې دا هم غریزې دي او له فطرت سره موافقې دي، له همدې امله انسان ته ځواب ورکوي.

دا د کمونیستي او پانګوالي فکري قیادتونو پر خلاف ده ځکه دا دواړه فکري قیادتونه له فطرت سره مخالف دي او کمونیستي فکري قیادت په مطلق ډول د دین له شتون څخه انکار کوي، څوك چې وربانديې اعتراف کوي له هغه سره جګړه کوي، نو دا له فطرت سره په ټکر کې دی. پانګوالي فکري قیادت بیا نه پر دین اعتراف کوي او نه انکار ورڅخه کوي. یوازې له دین څخه انکار او پر هغه نه اعتراف د دوی د بحث موضوع نه ده، بلکې دا وايي چې دین باید له ژوند څخه بېل وي. دوی اراده لري چې ژوند باید یوازې ګټه وي چې دین هېڅ رول پکې ونه لري او دا له فطرت سره په ټکر او له فطرت څخه لرې دی. له همدې امله له انساني فطرت سره په ټکر کې دی.

له همدې ځایه یوازې اسلامي فکري قیادت مناسب دی، ځکه چې له انساني فطرت او عقل سره سمون لري او له دغه پرته نور ټول باطل دي. پر همدغه اساس یوازې اسلامي فکري قیادت سم او یوازې همدا بریالی هم دی.

اوس یوه مسئله پاتې شوه، هغه دا چې آیا مسلمانانو اسلام عملي کړی دی؟ یا دوی اسلامي عقیده منلې وه او نور احکام او نظامونه یې پلي کړي دي!؟ دې ته ځواب دا دی چې له هغه وخته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته ورسېد، تر ۱۳۳۶هـ.ق یا ۱۹۱۸م کال پورې چې اسلامي دولت د استعمار په لاس سقوط وکړ، مسلمانانو صرف اسلام په ټولو عصرونو کې پلی کړ او دا تطبیق شامل او هر اړخیز و، آن تر دې چې په دغه تطبیق کې د بریالیتوب تر وروستیو حدودو پورې ورسېدل.

څه چې اسلام تطبیقوي هغه دولت دی، څوک چې په دولت کې نظام پلی کوي دوه کسان دي: لومړی یې قاضي دی، چې د خلکو تر منځ دښمنۍ فیصله کوي او دویم

(c) ketabton.com: The Digital Library


حاکم دی چې د خلکو تر منځ حکم کوي. د قاضي په باب په تواتر سره دا نقل شوی، چې قاضيانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې راهیسې په استانبول کې د خلافت تر پایه پورې د خلکو تر منځ د شخړو او دښمنيو فیصلې د شرعي شریفې د احکامو له مخې د ژوند په ټولو برخو کې حل وفصل کړې دي. برابره ده هغه که یوازې د مسلمانانو تر منځ وې او که د مسلمانانو او نامسلمانانو تر منځ. هغه محکمه چې د خلکو تر منځ به یې ټولې دښمنۍ په حقوقو، جزاء، شخصي احوالو او نورو برخو کې فیصله کولې، یوه محکمه وه چې یوازې په اسلامي شرع یې حکم کاوه. هېڅوك داسې روایت نه لري، چې هېڅ کومه قضیه یې دې د اسلامي شریعت له احکامو پرته فیصله شوې وي او یا داسې محکمه چې په اسلامي خاورو کې یې دې له اسلام پرته حکم کړی وي، مخکې له دې چې محکمې د استعمار له اغېز څخه په شرعي او نظامي محکمو باندې ووېشل شوې. پر دې تر ټولو نېږدې او ستر دلیل د شرعي محکمو سجلونه دي چې په پخوانیو ښارونو کې محفوظ دي، لکه په قدس، بغداد، دمشق، مصر، استانبول او نورو ښارونو کې، دا یو یقیني دلیل دی، چې قاضیانو به یوازې اسلامي شریعت پلی کاوه.

ان تر دې چې غیر مسلمانانو، یهودي او نصاراوو به اسلامي فقه لوسته او تألیفات به یې پکې کول، لکه سلیم الباز د مجلې شارح او نور هغه چې په اسلامي فقه کې یې په وروستیو عصرونو کې تالیفات کړي دي. اما کوم قوانین چې ور دننه شول، هغه د علماوو د فتواګانو سره سم داخل شول، چې د اسلام له احکامو سره مخالفت نه لري، چې په همدې اساس په ۱۲۷۵هـ/ ۱۸۵۷م کال کې عثماني جزایي قانون او په ۱۲۷۶هـ کال چې له ۱۸۵۸م کال سره سمون لري، د حقوقو او سوداګرۍ قوانین ورداخل شول. بیا په ۱۲۸۸هـ/ ۱۸۷۰م کې محکمې دوه ډوله شوې، شرعي او نظامي محکمې او هرې یوې ته ځانګړي نظامونه جوړ کړای شول. بیا په ۱۲۹۵هـ/ ۱۸۷۷م کې د نظامي محکمو د جوړښت لایحه جوړه شوه. په ۱۲۹۶هـ کې د حقوقي او جزايي محکمو د اصولو قانون وضع شو. کله چې داسې علما ونه موندل شول چې دولت ته د مدني قانون د ادخال جواز ورکړي، نو د معاملاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون يې وضع کړ او مدني قانون يې لرې کړ او دا په ۱۲۸٦هـ کې ترسره شول. نو دا ټول قوانين داسې وضع شول لکه هغه احکام چې اسلام ورته اجازه ورکوي او د عمل لپاره وضع نه شول، مگر کله يې چې د هغه د اجازې لپاره فتوا واخيسته، وروسته له هغې چې شيخ الاسلام ورته اجازه ورکړه، لکه چې له صادرو شوو نښو څخه څرگند شول. که څه هم استعمار له ۱۹۱۸ م کال يعنې له هغه وخت راهيسې چې ځينې خاورې يې لاندې کړې، په حقوقي او جزايي مسايلو کې يې په شريعت فيصلې نه کولې، خو بيا هم په هغو دولتونو کې چې که څه هم د استعمار زور پرې اغېز کړی و، خو لښکرې يې نه وې ور داخلې شوې، لکه حجاز، نجد، يمن او افغانستان تر نژدې وخته پورې پکې په اسلامي فقه فيصلې کېدې. که څه هم اوسمهال په دغو هېوادونو کې حکام اسلام نه پلی کوي، خو سره له دې موږ وينو چې اسلام په قضايي سيستم کې پلی شوی، د اسلامي دولت په ټولو عصرونو کې بل څه نه دي پلي شوي.

د حاکم په وسيله د اسلام تطبيق په پنځو ځايونو کې تمثيلېږي:

د ټولنې په اړوندو شرعي احکامو، په اقتصاد، تعليم، بهرني سياست او د حکومت په نظام کې. په اسلامي دولت کې دا پنځه واړه څيزونه پلي شوي دي. پاتې شو د ښځو او نارينه وو اجتماعي نظام او د دوی تر منځ علاقه او قانون، نو دا خو تر اوسه د استعمار او کفريه قوانينو په وجود کې هم اسلامي دي او بل شی نه دي پلي شوي.

اما ټولنيز نظام، چې د ښځې او نر تر منځ اړيکې ټاکي او نور ټول هغه څه چې په دغه اړيکه مرتب دي، يعنې د شخصيت احوال، نو دا ټول لا تر اوسه پلي کېږي، سره له دې چې استعمار او د کفر حکم هم شتون لري، آن تر ننه پورې له اسلامي اجتماعي نظام پرته بل څه نه دي پلي شوي. اما اقتصادي نظام په دوو برخو کې تمثيلېږي: لومړی له عامو وگړو څخه د خلکو د ستونزو د حل په موخه د مال اخيستو کيفيت، دويم د هماغه مال وېشل دي. د اخيستو کيفيت يې دا دی، چې زکات له مالونو، ځمکو، څارويو څخه د عبادت په اعتبار اخيستل کېږي او يوازې په هغه اتو ډلو باندې وېشل کېږي، چې په قرآن کريم

(c) ketabton.com: The Digital Library


کې يې يادونه شوې ده او د دولت په چارو کې هېڅ نه لګول کېږي، مګر د شريعت له حکم سره سم د دولت او امت د چارو د پرمختګ لپاره مالونه اخيستل کېږي، نو په ځمکه خراج، له غير مسلمانانو څخه جزيه او د بهرنۍ او کورنۍ سوداګرۍ له سوداګرو څخه ګمرکي محصلونه هم اخيستل کېږي، هېڅ مال له اسلامي شريعت پرته نه تر لاسه کېږي. اما د مال وېش د عاجز لپاره په نفقه، د بې عقل او مبذر لپاره په ګوښه کولو او همدارنګه به هغوی ته وصي ټاکل کېږي، دوی به په هر ښار کې په ځانګړو ځايونو کې اوسېدل، د حج په لاره کې، د فقير، مسکين او مسافر لپاره د ډوډۍ ورکول، د دغو ټولو آثارو لا تر اوسه د مسلمانانو په ښارونو کې تر سترګو کېږي. په يوه جمله کې چې د مال وېش د اسلامي شريعت له مخې ترسره کېده او هېڅ د بل څه له مخې نه وېشل کېده او هغه څه چې په دې برخه کې تقصير ليدل شوی، هغه هم د شريعت پرېښودل او ناوړه تطبيق دی نه هم د شريعت نه پلي کول.

اما د تعليم سياست هم د اسلام پر اساس ترسره کېده، د تعليم په منهجونو کې اسلامي ثقافت بنسټ او اساس و. د پرديو ثقافت به ترکومه ځايه چې د اسلام خلاف و نه اخيستل کېده. اما د مدرسو د پرانيستو په برخه کې چې کوم تقصير تر سترګو کېده، هغه هم د عثماني خلافت په وروستيو کې و، چې په ټولو اسلامي خاورو کې يو ډول و، چې د فکري انحطاط لامل شوې او پايله يې نن ته رسېږي. اما په نورو عصرونو کې دا په نړۍ کې مشهوره وه، چې يوازې اسلامي خاورې د علماوو او متعلمينو په سترګو کې وې، د قرطبې، بغداد، دمشق، سکندريې او قاهرې پوهنتونونو په نړۍ کې د تعليم په خپرېدا کې لوی اغيز درلود.

په بهرني سياست کې هم دولت پر اسلامي بنسټ ولاړ و، نو اسلامي دولت له نورو دولتونو سره خپلې اړيکې د اسلام پر اساس ټينګولې، ټولو هېوادونو هم هغه ته د يوه اسلامي دولت په سترګه کتل. بهرنۍ اړيکې يې ټولې د اسلام او مسلمانانو د مصلحت پر اساس د دې له مخې چې دوی مسلمانان يادېدل ټينګولې. د اسلامي دولت بهرنی سياست،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي سیاست و، چې نړیوال شهرت یې موندلی و او دا ډېره روښانه ده او کومو دلایلو ته اړتیا نه لري.

د اسلام د حکومتولۍ نظام پر اتو ادارو یا جهازونو ولاړ و:

خلیفه د دولت رییس، تفویضي مرستیال، تنفیذي مرستیال، د جهاد امیر، والیان، قضاء، دولتي مصالح، د امت مجلس. دا ټول جهازونه موجود وو، پر مسلمانانو هېڅ داسې دوره نه ده تېره شوې، چې دوی خلیفه نه درلود، خو وروسته له هغه چې کافر استعمارگر مصطفي کمال په کرغېړنو لاسونو په ۱۳٤۲هـ/ ۱۹۲٤م کال کې خلافت ړنگ شو، دوی بې خلیفه شول. خو تر دې مخکې د مسلمانانو خلیفه په دایمي ډول موجود و، یو خلیفه تر هغې نه لرې کېده ترڅو به یې چې پر ځای بل نه و راغلی، آن د کمزورۍ په عصرونو او خورا ناوړه شرایطو کې هم مسلمانانو خلیفه درلود.

کله به چې خلیفه رامنځته شو، نو هلته به اسلامي دولت هم رامنځته کېده، ځکه اسلامي دولت په خپله خلیفه دی. د خلیفه مرستیالان هم په ټولو عصرونو کې موجود وو، دوی به په حکم او تنفیذ کې د خلیفه مرستیالان وو، مگر دوی وزیران نه وو. سره له دې چې د عباسي خلافت په وخت کې دوی ته وزیران ویل کېدل؛ خو په حقیقت کې دوی هم معاونین او مرستیالان وو. دوی د اوسني دیموکرات نظام په څېر د وزارت هېڅ ډول صفت نه درلود، بلکې د خلیفه له خوا یې په حکم او تنفیذ کې د هغه په تفویض سره مرستیالي کوله، خو واک او واگې به ټول له خلیفه سره وو. اما والیان، قاضیان او د دولت د مصالحو شتون ثابت دی. کله به چې کفارو کوم هېواد ونیو، نو چارې به بیا بل ډول شوې، په ټولو چارو کې به یې والیان، قاضیان، د دولت مصالح او د دولت لوړپوړي کسان وو، چې دا هېڅ دلیل ته اړتیا نه لري. اما د جهاد امیر به د اسلامي پوځ چارې سنبالولې، هغه هم په دې اعتبار سره چې دا یو اسلامي لښکر دی او تل به یې په ذهن کې دې خبرې ځای نیولی و، چې اسلامي پوځ هېڅکله هم ماتې نه خوري. اما د امت د مجلس کړنو ته له راشده خلفاوو څخه وروسته دومره پاملرنه ونه شوه، لامل یې دا دی چې دا د حکم له

(c) ketabton.com: The Digital Library


جهازونو او قواعدو څخه دي. نو شورا په راعي باندې د رعيت حق دی، که يې دا چاره سرته ونه رسوله نو تقصير يې وکړ، مګر حکم بيا هم اسلامي دی. ځکه شورا د نظر د اخيستلو لپاره ده، نه د حکم کولو لپاره، چې دا د ډيموکراسۍ د پارلمانونو د وکيلانو پر خلاف ده، ځکه دوی د ولس واك تمثيلوي، چې د پانګوالی په حکومتي نظام کې بنسټيزه قاعده ده. خو په اسلام کې سيادت د شرعې دی. له دې څخه جوتېږي چې حکومتي نظام هم د اسلام له مخې پلی شوی.

همدارنګه د خليفه د بيعت د مسئلې په هکله، په قطعي ډول په خلافت کې وراثت نشته، يعنې وراثت په دولت کې مقرر حکم نه شي کېدای، چې حکم تر لاسه کړي، يعنې د دولت رياست په وراثتي ډول واخلي، لکه څنګه چې نن په شاهي نظام کې اخيستل کېږي. په دولت کې مقرر حکم دا و چې د حکم د تر لاسه کولو لپاره بيعت دی، چې په ځينو عصرونو کې به له مسلمانانو څخه اخيستل کېده لږ څه وروسته د اهل حل و عقد په واسطه بيعت کېده او په وروستۍ (انحطاط) دوره کې د شيخ الاسلام په واسطه ترسره کېده. بيعت د اسلامي دولت په ټولو عصرونو کې عملي شوی، ځکه هېڅ خليفه له بيعت پرته نه دی منصوب شوی، له بيعت پرته په مطلق وراثت سره هم نه دی نصب شوی، هېڅ داسې روايت او پېښه نشته چې خليفه له بيعت پرته په وراثت سره ټاکل شوی وي. په ځينو مواردو کې په بيعت اخيستنه کې سرغړونه هم شوې، يعنې خليفه به له خلکو څخه په خپل ژوند کې د خپل زوی، ورور، د کاکا زوی او يا د کورنۍ بل غړي ته بيعت اخيست او د خليفه له وفات وروسته به خليفه کېده، چې دا عمل د بيعت د پلي کولو ناوړه ډول او سرغړونه ده او هېڅکله وراثت او وليعهدي نه بلل کېږي. لکه څنګه چې په ډيموکراسۍ کې د پارلماني ټاکنو د نظام ناوړه تطبيق، انتصاب نه بلکې ټاکنې نومول کېږي، سره له دې چې که په ټاکنو کې هغه کسان هم بريالي شي چې حکومت يې اراده لري. له همدې امله په دې ټولو کې موږ وينو چې اسلامي نظام په عملي ډول پلي شوی دی او د اسلامي دولت په ټولو عصرونو کې له اسلام پرته بل څه نه دي پلي شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما د اسلامي رهبرۍ بریالیتوب عملي وو، یعنې بریالیتوب یې بېساري و، چې دوه دلیلونه لري:

لومړی دا چې اسلامي فکري قیادت عربي ټولنه د وروسته پاتې والي، کورني تعصب، د تیاره جهل له تروږمیو څخه د یوې فکري بیدارۍ په لور ولېږدوله، چې د اسلام په نور سره ځلېده او رڼا یې په عربو پورې منحصره نه شوه، بلکې په ټوله نړۍ کې عامه شوه. نو مسلمانان د ځمکې په کره کې تیت شول او اسلام یې نړۍ ته ولېږداوه او پر فارس، عراق، شام، مصر او شمالي افریقا یې حکومت وکړ. چې دغه هر ولس له نورو قومونو څخه ځانګړي قومیتونه درلودل، ځانګړې ژبې یې درلودې؛ فارسي قومیت په فارس کې په شام کې له رومي قومیت سره توپیر درلود، همدا راز قبطي قومیت په مصر کې د شمالي افریقا له بربري قومیت سره توپیر درلود، د دوی دودونه، تقلیدونه او دینونه ټول سره متفاوت وو. کله چې د اسلامي حکومت ترسیورې لاندې راغلل، پر اسلام پوه شول، آن تر دې چې ټول په اسلام مشرف شول، ټول یو امت وګرځېدل، چې هغه اسلامي امت دی. له همدې امله د اسلامي فکري قیادت بریالیتوب د دغه ولسونو او قومونو په ویښتابه کې بېساري و، سره له دې چې د مواصلاتو وسیله یې اوښه او اوښ و او د خپراوي وسایل یې ژبه او قلم و.

خو د فتوحاتو موخه د ځواك او زور ماتول او لرې کول، د مادي موانعو ماتول وو، ترڅو د خلکو تر منځ هغه لارې پرانیزي چې عقل به ورته ښودې، فطرت به هم ورته حیرانېده، نو له همدې امله د الله سبحانه وتعالی په دین کې پوځ پوځ کسان داخل شول. اما ظالمانه فتح د فاتح او مفتوح، غالب او مغلوب تر منځ فاصله رامنځته کوي. لسګونه کاله پر شرق د غرب استعمار شته، خو ورباندې بریالی کېږي نه، بلکې ډېر ورڅخه لرې دي. که د دوی د ګمراه کوونکي ثقافت اغېزې او د مزدورانو ظلم او زیاتي له منځه لاړ شي، نو بېرته د اسلام دایرې، د هغه مبداء او نظام ته ګرځېدل د سترګو له رپ څخه هم اسانه دي... او راګرځو نو وایو: چې د اسلامي فکري قیادت بریالیتوب د دغه ولسونو په ویښولو کې ب ساري و، دغه ولسونه تر نن ورځې پورې مسلمان دي، سره له دې چې استعمار په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library


چټلۍ او مکر سره د هغوی د عقایدو په فساد او افکارو په مسمومولو بوخت دی. ژر ده چې دا سیوری به ورباندې خپور شي، د قیامت تر اقامې پورې به اسلامي امت سره یو وي. هېڅ په مطلق ډول داسې نه ده پېښه شوې چې کوم ولس اسلام قبول کړی وي، له اسلامه بېرته وګرځي.

د اندلس مسلمانان د نصراني تفتیشي محکمو لخوا د دوی د کورونو سوځولو او د جلادانو په غوځوونکو لاسونو پوپنا شول، دارنګه د بخارا، ققفاز او ترکستان پر مسلمانانو هم هغسې ټکه راغله لکه په کومو چې پخوا راغلې وه؛ خو بیا هم د دغو ولسونو اسلام او د دوی یو امت او یو موټی ګرځېدل او پر خپلو عقیدو د دوی د حرص شدت، د اسلامي نظام په پلي کولو کې د اسلامي فکري قیادت او اسلامي دولت د بریالیتوب ښکارندوی دي.

دویم امر چې د اسلامي فکري قیادت پر بریالیتوب دلالت کوي، هغه دا چې اسلامي امت په نړۍ کې د فرهنګ، تمدن، ثقافت او علم په ډګرونو کې تر ټولو لوړ امت وګرځېد، اسلامي دولت په نړۍ کې تر ټولو لوی دولت وګرځېد، چې دوولس پېړۍ یې دوام وکړ: له اوومې میلادي پېړۍ څخه د اتلسمې میلادي پېړۍ تر نیمایي پورې یوازې همدا د نړۍ ستر دولت و. د دغه مودې په اوږدو کې د امتونو تر منځ ځلېدونکی لمر و، دا ټول د دغه قیادت پر بریالیتوب دلالت کوي او پر خلکو د اسلام د عقیدې او نظام د تطبیق بریالیتوب ښیي.

کله چې اسلامي دولت او اسلامي امت د دغه فکري قیادت له لیرد څخه بې برخې شول او کله یې چې اسلام ته دعوت پرېښود، د اسلام په پوهه او پلي کولو کې یې تقصیر وکړ، د امتونو تر منځ وروسته پاتې راغی.

ځکه خو موږ وایو چې یوازې دغه اسلامي فکري قیادت صالح دی او اړین دی چې نړۍ ته ولېږدول شي. کله چې هغه اسلامي دولت تاسیس شي چې دغه قیادت نړۍ ته لېږدوي، نو ژر ده چې دغه قیادت به د تېر په څېر اوس بیا بریالی شي.

مخکې مو وویل چې اسلام هغه دین دی چې له هغه څخه راوتلي نظامونه له انساني فطرت سره موافق دي. له دې امله انسان یو ماشیني موجود نه دی، چې نظام بې له کوم توپیره په دقیقو هندسي مقیاسونو تطبیق کړي، بلکې انسان یو اجتماعي موجود دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړتياوې يې متفاوتې دي، نظام هم د يوه اجتماعي موجود په صفت پلى کوي. له يوې خوا طبيعي ده چې اسلام انسانان يو له بل سره نږدې کوي، مساوي کوي يې نه، خو په ورته مهال کې ټولو ته ډاډ تضمين کړي. له بل پلوه دا هم طبيعي ده چې ځينې خلک د دغه نظام له پلي کولو سره مخالفت کوي، له همدې امله اړينه ده چې په ټولنه کې به فاسقان او فاجران، کافران او منافقان، مرتدان او ملحدان شتون لري. مگر له ټولنې څخه تعبير هغه مجموعه ده چې افکار، احساسات، نظامونه او خلك پکې راځي، نو هغه ټولنه اسلامي ټولنه بلله کېږي چې اسلام ورباندې پلى کېږي او دغه څيزونه پکې اسلامي وي.

د دې ادعا دليل دا دى چې هېڅوك نظام داسې نه شي پلى کولى لکه رسول الله صلى الله عليه وسلم چې اسلامي نظام پلى کړ؛ سره له دې چې د ده په وختونو کې هم کفار او منافقان، فاسقان او فاجران، مرتدان او ملحدان موجود وو ، خو هېڅوک له دې پرته بل څه نه شي ويلى، چې اسلام په بشپړه توگه پلى شوى او ټولنه بشپړه اسلامي وه. بلکې دغه تطبيق هم د هغه انسان له خوا و چې هغه يو ټولنيز موجود و، نه صناعي يا توليدي.

يوازې اسلام دى چې په مدينه منوره کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر استوگنې وروسته بيا د استعمار په وسيله د اسلامي هېوادونو تر اشغالولو پورې پر اسلامي امت پر عربو او غير عربو بشپړ تطبيق شو. وروسته پانگوالي نظام د هغه ځايناستى شو.

پر دغه اساس اسلام په عملي ډول له لومړي هجري کاله تر ۱۳۳۶ پورې چې له ۱۹۱۸م کال سره سمون لري، پلى شوى دى او پر اسلامي امت د دغه وخت په اوږدو کې له اسلام پرته بل هېڅ نظام نه دى پلى شوى.

آن تر دې چې مسلمانانو عربي ژبې ته فلسفه، علوم او بېلابېل اجنبي ثقافتونه وژباړل، مگر دوى هېڅکله د نورو ملتونو تشريع، قانون او نظام ونه ژباړه، نه د عمل او نه د تدريس لپاره. مگر خلکو اسلام د يوه نظام په څېر په ښه او بد ډول پلى کړ، چې دې هم د دولت په قوت او ضعف، د دغه فکري قيادت په دقيق فهم او د فهم په نشت، د لېږد په قوت او په هغه کې په سستۍ پورې اړه درلوده. له همدې امله د اسلام ناسم تطبيق په ځينو وختونو کې اسلامي ټولنه له وروسته والي سره مخ کړه، خو له هغې څخه هېڅکله هېڅ نظام لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه شو، ځکه د هغه پلي کېدل د بشر په واسطه وو، خو ناوړه تطبيق په دې معنی نه دی چې اسلام نه دی پلی شوی، بلکې په قاطعيت سره اسلام پلی شوی دی، هېڅ نورې مبداوې او نظامونه نه دي پلي شوي. کله چې له تطبيق څخه موخه د هغه قوانينو او نظامونو پلي کول وي چې دولت يې پر عمل امر کوي، اسلامي دولت په دې برخه کې له اسلام پرته بل هېڅ نه دي پلي کړي. ټول هغه څه چې ورڅخه لاسته راغلي، دا دي چې ځينو حکامو د اسلام ځينې نظامونه ناسم تطبيق کړي دي. کله چې موږ د اسلام تطبيق له تاريخ څخه اخلو، بايد دوو څيزونو ته پام وکړو:

لومړی دا اړينه ده چې دغه تاريخ بايد د اسلام له کينه کښو دښمنانو څخه نه، بلکې له پوره تحقيق او څېړنې وروسته خپله له مسلمانانو څخه واخلو، ترڅو د اسلام ناوړه څېره وانه خلو، بلکې سمه څېره يې تر لاسه کړو. دويم دا جايز نه ده، چې پر ټولنه د ځينو افرادو له تاريخ څخه شمولي قياس وکړو، نه د ټولنې د يوې برخې تاريخ په ټوله ټولنه قياس کړو، دا تېروتنه ده چې مثلاً ټول اموي عصر د يزيد له تاريخ څخه وګورو يا د عباسي عصر تاريخ د ځينو عباسي خلفاوو له بعضو پيښو څخه واخلو. همدا راز دا جايزه نه ده چې د عباسي عصر پر ټولنه له الاغاني کتاب څخه چې د ليونيانو، شاعرانو او اديبانو خبرونه پکې تاليف شوي دي، حکم او پرېکړه وکړو يا د تصوف او هغه ته ورته کتابونو څخه پرېکړه وکړو. که داسې وکړو نو په دغه عصر باندې د فسق او فجور يا زهد او انعزال د عصر پرېکړه کوو، بلکې اړينه ده چې د ټولنې ټول اړخونه په پوره ډول مطالعه او څېړو. د اسلامي ټولنې تاريخ په هېڅ عصر کې نه دی ليکل شوی، څه چې ليکل شوي دي هغه هم د چارواکو او ځينو متنفذينو اخبار دي، هغه چا چې دا اخبار ليکلي هغوی هم موثق خلک نه وو، دوی يا مدح کوونکي او يا هم بد ويونکي وو، څه چې دوی ليکلي له تصفيې پرته د منلو وړ نه دي.

کله چې اسلامي ټولنه پر دغه اساس ولولو، يعنې د ټولو اړخونو په دقيقه څېړنه سره يې مطالعه کړو، د ټولو ټولنو غوره ټولنه يې مومو، ځکه دا ټولنه په لومړۍ، دويمه او درېيمه پېړۍ کې همداسې وه، بيا په نورو پېړيو کې آن د دوولسمې هجري پېړۍ تر نيمايي پورې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ټولنې په ټولو عصرونو کې دا مومو چې اسلام پکې پلی شوی، آن د عثماني دولت تر پایه پورې، چې اسلامي دولت ورته ویل کېده. له همدې امله بیا هم باید په پام کې وي، چې له تاریخ څخه د فقهې او نظام د سرچینې په توګه کار اخیستل جواز نه لري، بلکې نظام له خپلو فقهي سرچینو څخه اخیستل کېږي نه له تاریخ څخه، ځکه تاریخ د هغې مصدر نه دی. نو که غواړو چې د کمونېزم نظام وپېژنو، هغه د روسیې له تاریخ څخه نه اخلو، بلکې د کمونیزم د مبداء له خپلو کتابونو څخه یې اخلو او که وغواړو چې پر انګلیسي فقه یا قوانینو پوه شو، د انګلستان له تاریخ څخه یې نه اخلو، بلکې له انګلیسي فقهې (د قانون جوړونې له کتابونو) یې اخلو. همدارنګه د هر نظام او قانون د پېژندلو لپاره همدا طریقه کاروو.

اسلام داسې مبداء ده چې عقیده او نظام لري، نو که غواړو چې هغه وپېژنو یا یې واخلو، دا روا نه ده چې تاریخ، د هغه د پېژندنې، د احکامو د استنباط او نه هم د هغه لپاره مطلق مصدر وګرځوو.

مګر د اسلام د پیژندنې د مصدر لپاره یې د اسلامي فقهې کتابونه او د احکامو د استنباط د مصدر لپاره یې تفصیلي دلایل کاروو. له همدې امله دا سمه نه ده چې تاریخ د اسلامي نظام لپاره مصدر وګرځوو، نه د پېژندنې لپاره، نه پر هغه د استدلال لپاره، همدا راز دا هم سمه نه ده چې د عمربن الخطاب، عمربن عبدالعزیز، هارون الرشید او نورو تاریخ د شرعي احکامو لپاره د مرجع په ډول وکاروو، دا کار نه په هغو تاریخي پېښو کې چې له دوی څخه روایت شوې دي او نه په هغه کتابونو کې چې د دوی په تاریخ کې تالیف شوې دي، ترسره کولای شو. که په کومه پېښه کې د عمر رضی الله عنه د رایې پیروي وشي، له دې امله یې پیروي کېږي چې د نوموړي رایه یو شرعي حکم دی چې عمر رضی الله عنه استنباط کړی او پلی کړی یې دی، لکه څنګه چې د هغه احکامو پیروي کېږي، چې امام ابوحنیفه، شافعي، جعفر او دې ته ورته نورو استنباط کړي دي، له دې امله یې پیروي نه کېږي چې هغه یوه تاریخي پېښه ده. له همدې امله د نظام په اخیستلو او پېژندلو کې تاریخ ته هیڅ اړتیا نشته او دا هم له تاریخ څخه نه اخیستل کېږي، چې دا نظام پلی شوی و او

(c) ketabton.com: The Digital Library


که نه، بلکې له فقهې څخه اخیستل کېږي، ځکه د زمانې په هر عصر کې چې څه ستونزې موجودې وې، د نظام په واسطه حل کېدې، نو آن تر دې چې موږ دا پېژنو چې کوم دی هغه نظام چې دغه ستونزې ورباندې حل کېږي؟ موږ په دې اړه تاریخي پېښو ته مراجعه نه کوو، ځکه چې دا موږ ته د اخبار په ډول رالېږدول کېږي، بلکې اړینه ده چې نظام ته مراجعه وکړو چې هغه اسلامي فقه ده او تطبیقېده. دې ته په مراجعې سره موږ هېڅ بل داسې نظام نه شو موندلای چې مسلمانانو دې له نورو څخه اخیستی وي یا داسې کوم نظام چې مسلمانانو په خپل اختیار سره را منځته کړی وي، بلکې مومو چې ټول هغه شرعي احکام دي چې له تفصیلي دلایلو څخه استنباط شوي دي، ځکه مسلمانانو له ضعیفو روایتونو څخه د فقهې د سوچه والي سخت حرص درلود، یعنې له ضعیفو استنباطونو څخه، آن تر دې چې پر ضعیف قول یې عمل منع کړ، حتی که هغه د مطلق مجتهد نظر هم وي.

له دې امله په ټوله اسلامي نړۍ کې له اسلامي فقهې پرته بل تشریعي نص نه پیدا کېږي، څه چې موجود دي هغه یوازې اسلامي فقه ده. نو په اسلامي امت کې له بل نص پرته د واحد فقهي نص شتون پر دې دلالت کوي چې امت په خپل تشریع کې له دغه نص پرته له بل شي څخه کار نه دی اخیستی.

تاریخ ته چې کومه کتنه جواز لري، هغه د پلي کولو د څرنګوالي د لټولو لپاره روا او سمه ده. د دې امکان شته چې تاریخ ځینې سیاسي پېښې ذکر کړي او په هغو کې د پلي کېدو کیفیت وڅېړل شي. مګر دا هم تر هغه روا نه ده، ترڅو چې په دقیقې څېړنې سره خپله له مسلمانانو څخه وانه خیستل شي. د تاریخ لپاره لومړی تاریخي کتابونه، دویم آثار او نښې او دریم روایت د دریو مصادرو یا سرچینو په توګه کاروو. دا سمه نه ده چې تاریخي کتابونه مطلق مصدر وبولو، ځکه په ټولو زمانو کې یې سیاسي ظروفو ته سر ټیټ کړی دی، په دروغو حاشیې ورباندې لیکل شوې دي یا په ټولنه کې د حاکم قشر په پلوۍ لیکل شوي یا د هغه چا په ضد دي چې کیسه ورڅخه کوي او د نورو په زمانو کې لیکل شوي دي. په دې اړه نژدې دلیل په مصر کې د علوي کورنۍ تاریخ دی، چې له ۱۹۵۲م کال څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې يې يو ځلانده تصوير ورکړی، خو له۱۹۵۲ وروسته يې بدلون وموند، تور او د تېر تاريخ برعکس شو. همدا راز زموږ په عصر او يا زموږ څخه مخکې د سياسي پېښو تاريخ. له همدې امله دا سمه نه ده چې د تاريخ لپاره د تاريخ کتابونه د مصدر په توګه وکارول شي، حتی که هغه شخصي يادښتونه هم وي، چې خاوندانو يې خپله ليکلي وي.

اما دويمه سرچينه، آثار او نښې که په پاك او شفاف ډول ولوستل شي، نو له يو څه څخه د يوه تاريخي حقيقت تصوير ورکوي، سره له دې که دا تاريخي تسلسل نه شي جوړولای، مګر د ځينو پېښو پر ثبوت دلالت کوي. د مسلمانانو په خاورو کې د دوی د آثارو او نښو له څېړنې څخه هغه که ودانۍ، وسايل او يا نور څه وي، ټول تاريخي آثار او نښې بلل کېږي. دا پر دې قطعي دلالت کوي چې دا په ټوله اسلامي نړۍ کې نه شي رامنځته کېدای، بلکې د اسلام، اسلامي نظام او يا اسلامي احکامو په واسطه رامنځته شوي، د مسلمانانو ژوند، عيش، په هغو کې تصرف او نور ټول يې له اسلام پرته بل څه نه و.

درېيمه سرچينه يا مصدر (روايت) دا له هغو صحيحو سرچينو څخه ګڼل کېږي چې که روايت يې سم وي، باور وړباندې کېږي. په روايت کې د هغه لارې پيروي کېږي چې د حديث په روايت کې استفاده ترې کېږي. په همدې اسلوب سره تاريخ هم ليکل کېږي. له همدې امله ليدل کېږي چې مسلمانانو د تاليفاتو د پيل پر مهال د روايت طريقه وکاروله، ځکه پخواني تاريخي کتابونه لکه طبري تاريخ، سيرة ابن هشام او دې ته ورته نور کتابونه په همدغه اسلوب تاليف شول.

پر همدغه اساس مسلمانانو ته روا نه ده، چې دوی تاريخ له دا ډول کتابونو، تاليفاتو او سرچينو څخه زده کړي، لکه چې له تاريخي کتابونو څخه د اسلامي نظام د تطبيق د بحث اخيستل روا نه دي. له همدې څخه دا جوتېږي چې په ټولو زمانو کې بل څه نه بلکې يوازې اسلام پر اسلامي امت پلی شوی دی.

پرته له دې چې کله لومړۍ نړيواله جګړه د متحدينو په برلاسۍ پای ته ورسېده او اللورد اللنبي چې کله بيت المقدس ونيو، ويې ويل: (اوس صليبي جګړې پای ته ورسېدې.)، له دغه مهال راهيسې ښکېلاکګر کفار پر موږ د ژوند په ټولو برخو کې پانګوالي نظام پلی

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوي او غواړي چې د تل لپاره همداسې برلاسي وي. له همدې امله اړينه ده چې دغه فاسد نظام بدلون وموومي، چې د هغه په واسطه ښکېلاك زموږ په هېوادونو کې ځای نيولی او پرته له دې مو هېڅ چاره نشته چې په ټولیزه او تفصیلي توگه یې له ريښو راوباسو، تر دې چې په دې و توانيږو چې اسلامي ژوند ته له سره ورستانه شو.

دا به زموږ سطحي فکري وي چې د خپل نظام پر ځای بل کوم نظام ومنو. دا هم ډېر ټيټ فکر دی، چې گومان وکړو که امت نظام له عقيدې پرته د ستونزې حل وگڼي، نو اړينه ده چې لومړی بايد امت په اسلامي عقيده منگولې ولگوي او بيا له هغې عقيدې څخه منځته راغلی نظام پلی کړي، نو دا مهال د نظام تطبيق او په عقيده منگولې لگول د پرمختگ او ستونزو د هواري لامل کېږي.

دا د هغه امت په اړه وو، چې د مبداء پر بنسټ جوړ شوی وي، خپل دولت هم پر همدغه اساس رامنځته کوي، اما نورو ولسونو او امتونو ته اړينه نه ده چې مبداء ومني او پر ځان يې پلې کړي، بلکې امت ته اړينه ده چې مبداء ومني او نورو ته يې ورسوي، پر هر ولس او امت يې پلې کړي، که مبداء ته غاړه هم نه ږدي، ځکه هغه هم همدارنگه ويښيږي او د عقيدې منلو ته ورجذبيږي. پر هغه چا چې مبداء پلې کېږي، د مبداء منل شرط نه دي، بلکې پر هغه چا چې مبداء پلې کېږي پر هغو مبداء ته غاړه ايښودل اساسي شرط دی.

دا خطر دی چې قوميت او کمونيستي نظام غوره کړو، ځکه چې دا له مادي فکرې څخه بېله نه شي اخيستل کېدای، او دا چې هغه بيا نه اغېز او نه پايله لري، نه له مادي فکرې سره يو ځای اخيستل کېدای شي، ځکه چې هغه سلبي فکره ده چې د انسان له فطرت سره تناقض لري او د دې غوښتنه کوي چې اسلامي امت اسلامي عقيده پرېږدي. دا هم نه ده روا چې موږ سوسياليستي مبداء واخلو او د اسلام روحي ناحيه ولرو، ځکه زموږ اخذ نه له اسلام څخه کېږي او نه له سوسياليزم څخه او دا دواړه يو له بل سره تناقض لري او له هغه څخه چې يې اخلو په هغو کې نقصان رامنځته کېږي، ځکه چې موږ داسې نظام اخلو چې هغه جامد دی او هېڅ روح نه لري. اړينه ده چې اسلام بشپړ له عقيدې او نظامونو سره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای واخيستل شي او کله يې چې دعوت لېږدوو، د هغه فکري قيادت هم بايد ولېږدوو.

نو زموږ د ويښتيا لاره يوه ده او هغه هم چې اسلامي ژوند بېرته راستون کړو. د اسلامي ژوند د راستنولو لپاره د اسلامي دولت له رامنځته کولو پرته بله هېڅ لاره نشته. بايد اسلام بشپړ واخلو: عقيده واخلو چې لويه غوټه مو پرانيزي، په هغې سره مو د ژوند لرليد متمرکز شي، داسې نظام واخلو چې له همدغې عقيدې څخه راوتلى وي، چې اساس يې بايد د الله سبحانه وتعالى کتاب او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت وي او ثروت يې ثقافت وي، هغه هم اسلامي ثقافت، چې له فقهې، حديث، تفسير، ژبې او نورو څخه اخيستل شوى وي.له دې پرته بله لاره نشته، ترڅو اسلام په بشپړه توګه په هر ځای کې ايجاد شي، تر دې چې فکري قيادت امت او دولت ته په ټوليز ډول ولېږدوي، موږ نړۍ ته د دغه فکري قيادت په لېږدولو راپورته شوي يو.

دا د ويښتيا او نهضت لپاره يوازنۍ لاره ده چې د اسلامي ژوند د بېرته راستنولو لپاره اسلامي فکري قيادت ټولو مسلمانانو ته او بيا ټولو خلکو ته د اسلامي دولت له لارې ولېږدول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اسلامي دعوت څرنګوالی

مسلمانان له دې امله وروسته نه دي پاتې چې دوی پر خپل دين منګولې لګولې دي، بلکې هغه وخت د دوی وروسته پاتې والی پيل شو، چې په کومه ورځ يې خپل دين ته شا کړه او په دې برخه کې يې سستي وکړه، پردي فرهنګ او تمدن ته يې غاړه کېښوده، ترڅو د دوی هېوادونو ته دغه پردي ثقافتونه ننوتل. د غرب مفاهيمو هغه مهال د دوی ذهنونه ونيول چې کله يې ذهنونه له اسلامي مخکښ فکر څخه خالي شول. د اسلام له دعوته يې مخ واړاوه او د اسلامي حکمونو په پلي کولو کې لاروکي شول. نو اړينه ده چې يو ځل بيا اسلامي ژوند ته مخه کړي، ترڅو بيا په خپلو پښو ودرېږي او وينښ شي. دا اسلامي ژوند به تر هغه بېرته راستون نه شي، ترڅو چې اسلامي دعوت د مخکښ اسلامي فکر په واسطه ونه رسول شي او په همدغه دعوت سره يو اسلامي دولت جوړ کړي، ترڅو اسلامي مخکښي د اسلام د دعوت په لېږدولو کې را منځته کړي.

دا څرګندونه واجب ده چې د فکري رهبرۍ لېږدونه د اسلامي دعوت په واسطه د مسلمانانو د نهضت لپاره ترسره کېږي او دا ځکه چې يوازې اسلام په نړۍ کې د اصلاح وړتيا لري. حقيقي نهضت له اسلام پرته نه شي رامنځته کېدای، هغه که د مسلمان او يا نامسلمان لپاره وي، بيا واجب ده چې پر همدغه بنسټ دا فکر تر ټولې نړۍ پورې ورسېږي.

دا هم واجب ده چې دعوت بايد نړۍ ته د يوې فکري رهبرۍ په څېر ورسول شي، چې له هغې څخه نظامونه سرچينه واخلي او نور ټول افکار په همدغې فکري رهبرۍ بنا شي او له همدغو افکارو څخه ټول هغه مفاهيم رامنځته شي چې له نړۍ څخه په ليدلوري کې له استثنا پرته اغېزمن وي.

اوس هم بايد اسلامي دعوت د پخوا په څېر تر خلکو ورسول شي. په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې په داسې اقتدا سره چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له لارې د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېښته په اندازه هم په کلیاتو او هم جزیاتو کې کوږ نه شي. له دې پرته چې د وختونو توپیر ته د توپیر په څېر وکتل شي، څکه کوم توپیر چې رامنځته شوی، هغه د وسایلو او اشکالو توپیر دی، اما جوهر او معنی هېڅ توپیر نه دی کړی او هېڅکله به یې و هم نه کړي، که هرڅومره وختونه یو پر بل پسې راشي او ولسونه او لیکې یې توپیر ومومي.

له همدې امله د اسلامي دعوت لېږدونه صراحت او زړورتیا ته اړتیا لري، قوت او فکر غواړي، ترڅو ټول هغه څه له منځه یوسي، چې له فکرې او طریقې سره توپیر لري او بې له دې چې پایلو او اوضاع ته وکتل شي، د نورو فکرونو او دینونو باطلوالی هم په ډاګه شي.

د اسلامي دعوت رسول دا غواړي چې د ولس د موافقې او مخالفت په پام کې نیولو پرته مطلق سیادت له اسلامي ایډیالوژۍ سره وي، هغه که د خلکو له دودونو او یا خوښې سره سم وي که نه او یا یې که خلک ومني او یا یې رد کړي. نو دعوتگر به ولس ته چاپلوسي او غوړه مالي نه کوي. نه به یې له هغو کسانو څخه چې د چارو واګې یې په لاس کې دي، پټوي او نه به یې ورته مجملوي. نه به یې د خلکو له دودونو او تقلیدونو سره همغږي کوي او نه به یې د خلکو په ردولو او منلو فکر کوي؛ بلکې یوازې پر مبدأ به منګولې لګوي، د مبداء له مخې به مسایل روښانه کوي او یوازې خپلې مبداء ته به ارزښت ورکوي. د نورو ایډیالوژیو خاوندانو ته داسې نه ویل کېږي چې په خپلو مبداء ګانو باندې پاتې شئ، بلکې له اکراه پرته باید دې خوا ته را وبلل شي، ترڅو حقې لارې ته راواوړي، څکه دعوت د دې غوښتنه کوي چې سیادت باید یوازې له اسلام سره وي نه له نورو سره:

**﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

(التوبه: ۳۳)

***ژباړه:*** *الله هغه ذات دی چې خپل رسول یې له هدایت او حق دین سره را استولی، ترڅو پر ټولو باطلو دینونو برلاسی شي، که څه هم مشرکان خوښ نه وي.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې نړۍ ته رسالت وړاندې کړ، ټول یې چلنج کړل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومې لارې ته یې چې دعوت کاوه، ایمان یې ورباندې درلود. له سور پوستو او تور پوستو ټولو سره یې د جګړې اعلان وکړ. بې له دې چې د هغوی تقلیدونو، عادتونو، عقیدو، دینونو ته پام او درناوی وکړي او یا یې هم چارواکو او ښارونو ته پاملرنه وکړي. په اسلام یې له خپل رسالت څخه بل هېڅ شي ته پام ونه کړ. لومړی یې په قریشو پیل وکړ، د دوی په خدایانو کې یې عیب پلټنه پیل کړه او د دوی عقاید یې له ننګونې سره مخ کړل او د هغوی عبادت یې د بې عقلانو کار وباله. حال دا چې هغه تر ټولو یوازې کس و، هغه صلی الله علیه وسلم نه کوم تیاری، نه مرستندوی او نه یې هم کومه بله وسله درلوده، یوازې پر اسلام یې عمیق ایمان درلود او خلک یې ورته رابلل. نوموړي د عربو په عادتونو، دودونو، تقلیدونو، دینونو او عقیدو د دوی د چارې منظمې نه کړې او نه یې دوی ته د هغو د یوې برخې د عملي کولو اجازه ورکړه او نه یې هم د هغو په عملي کولو کې له چا سره مراعات وکړ.

په همدې توګه د اسلام دعوتګر باید د ټولنې ناسم دودونه، عادتونه، افکار او مفاهیم وننګوي او تر پوښتنې لاندې یې راولي او حتی ناسم عامه افکار هم باید چلنج کړي؛ که څه هم په دې لاره کې له ستونزو او د هغو کسانو له تعصب او کرکې سره مخ شي چې په ژوره توګه ګمراه وي. د اسلامي دعوت لیږدونه د احکامو د پلي کولو حرص غواړي، ترڅو په بشپړه توګه احکام پلي شي، په هېڅ شي کې تنبلي نه کوي که ډېر واړه هم وي. دعوتګر هېڅ غوړه مالي او اسانتیا نه مني، نه افراط خوښوي او نه تفریط، بلکې امر په بشپړه توګه اخلي او په بیړه یې پای ته رسوي. په حق کې د هېچا شفاعت نه مني، له دې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني ثقیف دا غوښتنه ونه منله چې تر دریو کلونو پورې به د دوی لات بت نه ماتوي او یا دا چې که په اسلام کې داخل شي، نو له لمانځه څخه به بښل کیږي او دا یې هم ورسره ونه منله چې لات ورته د دوو کلونو لپاره او بالاخره د یوې میاشتې لپاره پرېږدي. له دغو ټولو سره یې مخالفت وکړ، مخالفت یې قطعي و، هېڅ شک او آسانتیا پکې نه وه، ځکه انسان که ایمان راوړي او که یې رانه وړي، پایله یې یا جنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده او يا دوزخ، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ورسره ومنله چې د دوی بت لات به خپله نه ماتوي، خو ابوسفيان او مغيره ابن شعبه يې وکيلان کړل ترڅو لاړ شي او د دوی بت مات کړي. هو هېڅکله يې بل څه نه منل يوازې بشپړه عقيده به يې منله او هغسې اجرا به يې منله چې تمه به يې کېده، اما وسيله او د کړنې شکل يې ورسره مانه، ځکه چې هغوی د عقيدې حقيقت ته نه شو رسېدای. نو اسلامي دعوت به خامخا د فکرې د بشپړتيا او کمال د پايښت لپاره هڅه کوله، همدا راز يې د هغې د اجرا په بشپړتيا کې بې له کومې نرمۍ ځخه هڅه کوله، ترڅو فکره او طريقه په بشپړه توګه عملي شي او د دغه کار لپاره به يې له خپلې خوښې سره سم وسايل او اساليب کارول.

اسلامي دعوت غواړي چې هر عمل د يوې ټاکلې موخې لپاره وکاروي، يعنې دعوتګر به تل د دغې موخې تصور کوي، تل به د دغې موخې د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوي، تل به پر خپلو کړنو مواظبت کوي، هېڅ آرام به نه مومي ترڅو يې چې دغه موخه نه وي تر لاسه کړې. له همدې امله دعوتګر يوازې په فکر نه راضي کېږي ترڅو عمل هم ورسره ملګری نه شي، که له فکر سره عمل نه وي يوازې خيالي فلسفه ورته ښکارېږي او همداراز يوازې پر فکر او عمل دواړو هم نه راضي کېږي ترڅو موخه ونه لري، ځکه يوازې يو تاوپېچ حرکت ورته ښکاري چې بالاخره په جمود او نهيلۍ پای ته رسېږي. په دې ټينګار کوي چې عمل فکر ته نژدې وي او دا چې فکر او عمل سره يو ځای وي، ترڅو هغه موخه چې تر لاسه کوي عملي وګوري او د شتون لپاره ځان ورښکاره کړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم په مکه کې فکري قيادت تر خلکو ورساوه، تر هغه چې د مکې په ټولنه کې يې دا ومونده چې دلته اسلام د ټولنې لپاره د يوه نظام په توګه نه شي پلی کېدی. نو د مدينې په ټولنه کې يې کار پيل کړ، بيا يې هلته دولت جوړ کړ، اسلام يې پلی کړ، خپل رسالت يې ورساوه، امت يې دې ته چمتو کړ چې له ده وروسته يې نورې نړۍ ته ورسوي. په هغه لاره يې حرکت وکړ، چې ده صلی الله عليه وسلم ورته رسم کړې وه. له همدې امله کله چې د مسلمانانو خليفه نه وي، د اسلامي دعوت لېږد په بشپړه توګه نه ترسره کېږي. نو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اسلامي ژوند د بېرته جوړولو لپاره باید د اسلامي دولت د جوړښت لپاره ډېره هڅه وشي، ځکه هغه اسلام پلی کوي، رسالت نړۍ ته رسوي. په امت کې د اسلامي ژوند له وروسته اسلامي دولت نړۍ ته د دعوت لېږد پیلوي، چې په اسلامي نړۍ کې له سیمه ییز دعوت څخه پر نړیوال دعوت بدلون مومي.

اسلام ته دعوت د عقایدو له اصلاح او له الله سبحانه وتعالی سره د اړیکې له موندلو او انسانانو ته د دوی د ستونزو د حل له ښودلو پرته نه شي ترسره کېدای، دغه دعوت باید د ژوند په ټولو ډګرونو کې ترسره شي. رسول الله صلی الله علیه وسلم به په مکه کې خلکو ته دغه آیتونه تلاوت کول:

﴿**تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ**﴾ (لهب: ۱)

***ژباړه:*** *هلاک دې شي د ابي لهب دواړه لاسونه او خپله ابي لهب.*

﴿**إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ* وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ قَلِيلاً مَّا تُؤْمِنُونَ**﴾ (الحاقه: ۴۰- ۴۱)

***ژباړه:*** *دا د عزتمند رسول وینا ده، نه د کوم شاعر وینا، خو ډېرکم خلک ایمان راوړي.*

او په مکه کې به یې دا قول هم ورته وایه:

﴿**وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ* الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ* وَإِذَا كَالُوهُمْ أَو وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ**﴾ (المطففین: ۱-۳)

***ژباړه:*** *تباهي ده د کموونکو لپاره کله چې له خلکو نه څه اخلي، نو پوره یې اخلي او کله یې چې ورباندې پلوري، نو کموي یې.*

﴿**إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الأَنْهَارُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ**﴾ (البروج: ۱۱)

***ژباړه:*** *په رېښتیا سره هغه کسان چې ایمان یې راوړی او نېک عمل کوي، د هغوی لپاره جنتونه دي چې ترې لاندې به نهرونه بهېږي او همدغه لوی بریالیتوب دی.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په مدينه منوره کې يې بيا دا ورته تلاوت کاوه:

﴿**وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ...**﴾ (بقره: ۴۳)

***ژباړه:*** *لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ.*

همدا راز دا به يې ورته تلاوت کاوه:

﴿**انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ**﴾ (التوبه: ۴۱)

***ژباړه:*** *که سپک يئ که درانه غزا ته ووځئ او د الله په لاره کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد وکړئ.*

﴿**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَاكْتُبُوهُ**﴾ (البقره: ۲۸۲)

***ژباړه:*** *اې مومنانو کله چې تر ټاکلې مودې پورې پور ورکوئ، نو ويې ليکئ.*

او دا به يې ورته لوست:

﴿**كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ**﴾ (الحشر: ۷)

***ژباړه:*** *ترڅو ستاسې مالدارانو په لاس کې مال او ثروت زيات نه شي.*

او دا به يې وايه:

﴿**لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ**﴾ (الحشر: ۲۰)

***ژباړه:*** *دوزخيان او جنتيان سره برابر نه دي، بلکې جنتيان بريالي دي.*

له همدې امله اسلامي دعوت پرته له دې چې انسانانو ته نظامونه او د دوی د ستونزو د هواري لپاره غوره لارې ورکوي او د ژوند ستونزې يې ورباندې حل کېږي، بل څه نه دی. ځکه چې د اسلامي دعوت د برياليتوب راز په دې کې دی چې د انسان د ژوند ټولې ستونزې د يوه انسان په توګه حل کوي او د هغه په ژوند کې بشپړ بدلون راوړي.

د دغه دعوت داعيان او بلونکي تر هغې پورې دغه مسووليت نه شي ترسره کولی، ترڅو چې په خپلو نفسونو کې د کمال تخم ونه کري او حقيقت پسې هڅه ونه کړي، تل يې ونه لولي، نا آشنا او ناسم ټکي ترې لرې نه کړي او صاف او پاک دين خلکو ته وړاندې نه کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو پاک او صاف افکار چې د بریالیتوب او د بریالیتوب د دوام ضامن دي را څرګند شي.

بیا هم د دعوت دغه بار ته باید په دې نیت اوږه ورکړي چې واجب د واجبو په څېر ادا کړي، ځکه الله سبحانه وتعالی ورباندې مکلف کړي دي او په داسې حال کې یې ومني چې د الله سبحانه وتعالی د خوښۍ زیری ورکوونکي وي، نه دا چې د خپلو کړنو د جزاء غوښتونکي وي، نه له خلکو څخه د شکریې او منندې تمه وکړي، بلکې د الله سبحانه وتعالی له خوښې پرته بل هېڅ شی نه پېژني او نه یې غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي فرهنګ او تمدن

د فرهنګ او مدنیت تر منځ توپیر شته، فرهنګ له ژوند څخه د مفاهیمو مجموعې ته ویل کیږي او مدنیت د محسوسو شیزونو هغه مادي شکلونه دي چې د ژوند په چارو کې کارول کیږي. فرهنګ له ژوند څخه د ځانګړي لرلید څخه منځ ته راځي، په داسې حال کې چې مدنیت خاص او عام دی. نو هغه مدني شکلونه چې له فرهنګ څخه اخیستل کیږي لکه ځینې تماثیل (مجسمې) خاص مدنیت بلل کیږي او هغه مدني شکلونه چې د علم له پرمختګ، تخنیک او پراختیا څخه لاس ته راځي عام مدنیت بلل کیږي او ځینې بیا نړیوال وي لکه علم او تکنالوژي، چې په ځانګړو ملتونو پورې خاص نه وي.

د فرهنګ او مدنیت تر منځ دا ډول بېلتون باید تل داسې وڅېړل شي، لکه د هغه د مدني شکلونو تر منځ چې له فرهنګ او یا هم له علم او ټکنالوژۍ څخه سرچینه اخلي. له دې امله د مدنیت د خپلولو پر مهال د هغه د شکلونو تر منځ توپیر باید وڅېړل شي او همدا راز د فرهنګ او مدنیت تر منځ توپیر هم وموندل شي. نو هغه غربي مدنیت چې له علم او ټکنالوژۍ څخه لاس ته راغلی د هغه په خپلولو کې هېڅ مانع نشته. اما هغه غربي مدنیت چې د غربي ټولنې له فرهنګ څخه سرچینه اخلي، هېڅکله د هغه خپلول جواز نه لري، ځکه غربي فرهنګ او ټولنه له اسلامي فرهنګ او ټولنې سره په بنسټ، له ژوند څخه په تصویر او د انسان د نېکمرغۍ په معنا کې یو له بل سره ټکر لري.

غربي فرهنګ او ټولنه له ژوند څخه د دین د بېلوالي پر بنسټ ولاړه ده او له دې څخه انکار کوي چې دین په ژوند کې کوم اغېز لري، نو له دې ځایه یې له دولت څخه د دین د بېلتون فکره را پنځولې ده او له هغه چا سره چې دین له ژوند څخه بېل بولي په طبیعي توګه شته او په ژوند کې د دین له اغېز څخه منکر دي. نو پر دغه بنسټ ژوند کوي او د ژوند نظام جوړوي. له ژوند څخه یې تصویر هم منفعت او ګټه ده، ځکه دا یې د خپلو اعمالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معيار او مقياس بللی دی. نو له همدې امله ګټه د دوی په نظام او ټولنه کې ښکاره مفهوم ګرځېدلې، ځکه چې دوی له ژوند څخه د منفعت یوازنی تصور لري. له همدې امله دوی ته نېکمرغي دا ده چې یو انسان له اجناسو او متاع څخه اعظمي ګټه پورته کړي او ډېر اسباب او وسایل رامنځته کړي.

په دوی کې روحي ناحیه فردي ده نه ټولیزه، چې یوه ډله کسان یې ولري، هغه د کلیسا او رجال کلیسا په واک کې ده، له همدې امله په غربي فرهنګ کې اخلاقي، روحي او انساني ارزښتونه نشته، هلته یوازې مادي او نفعي ارزښتونه موندل کېږي. پر همدغه بنسټ یې انساني اعمال له دولت څخه پرته په ځینو نورو ارګانونو پورې وتړل، لکه د سره صلیب موسسه، تبشیري رااستول شوې ډلې او دوی له ژوند څخه ټول ارزښتونه له منځه یوووړل، یوازې مادي ارزښت یې پرېښود چې په هغه کې هم سود او ګټه ده. نو غربي فرهنګ او ټولنه له ژوند څخه د مفاهیمو دغه مجموعه لري.

اسلامي فرهنګ او ټولنه په داسې اساس او بنسټ ولاړه ده چې د غربي فرهنګ له اساس سره ټکر لري، له ژوند څخه یې تصویرونه هم له غربي فرهنګ سره توپیر لري، همدا رنګه د سعادت او نېکمرغۍ مفهوم هم د اسلامي فرهنګ او غربي فرهنګ تر منځ بشپړ اختلاف لري. اسلامي فرهنګ پر الله سبحانه وتعالی د ایمان پر بنسټ درېږي او هغه د کایناتو، انسان او ژوند لپاره ټاکلی نظام لري. له همدې امله یې زموږ لارښود حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د اسلام له دین سره را استولی، یعنې اسلامي فرهنګ یا ټولنه د اسلامي عقیدې پر بنسټ ولاړه ده او هغه پر الله سبحانه وتعالی، ملایکو، کتابونو، رسولانو، د آخرت پر ورځ او د خیر او شر پر قضا او قدر ایمان درلودل دي. نو عقیده د اسلامي فرهنګ اساس دی او دغه اساس هم روحي دی.

په اسلامي فرهنګ کې د ژوند تصویر د اسلام په هغه فلسفه کې نغښتی دی، چې له اسلامي عقیدې څخه سرچینه اخلي، پر هغه ژوند او خپلو اعمالو ته دوام ورکوي. دا فلسفه د مادې او روح پر یوځایوالي ټینګار کوي، یعنې اعمال د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو پر بنسټ ترسره کوي او دا له ژوند څخه د تصویر بنسټ جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انساني عمل ماده دی، د عمل د ترسره کولو پر مهال د انسان اړيکه له الله سبحانه وتعالی سره چې دا کار يا حلال دی او يا حرام همدا خپله روح دی. نو په همدې سره د روح او مادې تر منځ يوځايوالی راغی او په همدې باندې د مسلمان اعمال د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهيو سره سم رامنځته شول.

له اوامرو او نواهيو سره سم له عمل کولو څخه موخه د الله سبحانه وتعالی خوښي ده او مطلق منفعت نه دی. اما د يوه عمل ترسره کول د هغه ارزښت او هدف لپاره دي چې سړی يې کړلو ته اقدم کوي او دا ارزښتونه او موخې تر اعمالو پورې فرق کوي.

نو مادي ارزښت اوموخه داسې ده لکه چې يو سوداګر د ګټې لپاره سوداګري کوي، سوداګري يې مادي عمل دی او د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهيو سره سم يې چې ترسره کوي نو موخه يې د الله سبحانه وتعالی خوښي ده او همدغه موخه يې له الله سبحانه وتعالی سره اړيکه پيدا کوي، چې روح بلل کېږي او کوم ارزښت چې له دغه عمل څخه يې ترلاسه کوي هغه ګټه ده او دا هم مادي ده.

روحي ارزښتونه، په لمانځه، زکوة، روژه او حج کې دي. همدا راز صدق، امانت او وفا اخلاقي ارزښتونه دي او همدارنګه د غرق شوي کس ژغورنه او نور انساني ارزښتونه بلل کېږي. انسان د عمل کولو پر مهال دغو ارزښتونو ته پام کوي، ترڅو يې تر لاسه کړي. خو دغه ارزښتونه اعمالو ته لوري او جهت نه ورکوي او عالي موخه هم نه ده، چې هدف وګرځول شي؛ بلکې د عمل ارزښتونه دي، چې د عمل د ډولو په اختلاف سره مختلف کېږي.

سعادت او نېکمرغي د الله سبحانه وتعالی خوښي تر لاسه کول دي، نه د انسان د لوړو مړول. ځکه د انسان ټولې هغه لوږې کومې چې غريزوي دي او يا هم عضوي اړتياوې دي، د انسان د ذات د ساتنې لپاره لازمه وسيله ده او د دغو له مړولو څخه نېکمرغي نه رامنځته کېږي، دا په اسلامي فرهنګ کې د ژوند تصوير دی او دا هغه بنسټ دی چې د ژوند تصوير وربانديې ولاړ دی او همدا د اسلامي فرهنګ بنسټ جوړوي. دا له غربي فرهنګ سره بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختلاف او ټکر لري، نو ټول هغه مدني شکلونه چې له دغه فرهنګ څخه راوځي له هغه مدني شکلونو سره بشپړ ټکر لري، چې له غربي فرهنګ څخه سرچينه اخلي. د بېلګې په ډول تصوير يو مدني شکل دی، غربي فرهنګ د يوې لوڅې ښځې داسې تصوير جوړوي چې ټول فتنه اچوونکي اندامونه يې ښکاري او دا يو مدني شکل ګڼي، له ژوند څخه يې د ښځې په اړه له مفاهېمو سره هم سمون خوري، له همدې امله يې غربيان عزت کوي او يو فني مدني شکل يې بولي او فني قطعه هغه څه دي چې د فن شرطونه پوره کړي؛ خو همدغه تصوير د اسلام له فرهنګ سره متناقض دی او په ژوند کې يې له ښځې څخه د مفاهېمو سره په ټکر کې دی او دې ته هغه ملکيت ويل کېږي چې بايد خوندي وساتل شي. نو له همدې امله دا ډول تصوير منع کوي ځکه چې دا د نوع غريزه اغېزمنوي او بالاخره د اخلاقي ستونزو لامل کېږي.

همداراز که يو مسلمان د يوه کور اراده وکړي چې پکې و اوسېږي، دا هم يو مدني شکل بلل کېږي، نو مسلمان دا په پام کې نيسي چې ښځه يې بايد له بهره ښکاره نه شي، نو دېوال ورڅخه تاووي. دا د يوه غربي خلاف عمل دی او دی د خپل فرهنګ له مخې د دې مراعات نه کوي. همدا راز ټول هغه مدني اشکال لکه، تماثيل او ورته څيزونه چې له غربي فرهنګ څخه اخيستل کېږي. دغه راز هغه جامې چې په کفارو پورې خاصې دي، مسلمان ته يې اغوستل روا نه دي. ځکه چې دا هم له ځان سره يو ځانګړی فرهنګي لرليد لېږدوي، که داسې نه وي نو بيا هغه ټاکلې جامې بلل کېږي نه د کفر پر اعتبار، بلکې هغه د اړتيا او زينت له مخې کاروي او په دې کې بيا عام مدني اشکال راځي چې استعمال يې جايز دی.

هغه مدني شکلونه چې له علم او ټکنالوژۍ څخه لاس ته راغلي دي لکه رسنۍ، طبي او تخنيکي وسايل، ډېکور او دې ته ورته نور شکلونه، دا نړيوال مدني شکلونه دي، چې په اخيستلو کې يې هېڅ ستونزه نشته، ځکه چې دا له فرهنګ څخه نه دي راوتلي او نه په فرهنګ پورې تړاو لري.

نن چې د غربي فرهنګ پر وړاندې کوم نظر په نړۍ کې حاکم شوی، موږ ته دا راښيي چې غربي نړۍ د انسانيت لپاره ډاډ او هوساينه نه شي راوستلای. بلکې د دې پرخلاف دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشري نړۍ د نننۍ بدبختۍ لامل شوي دي او لا هم دوام ورکوي. هغه فرهنگ چې د انساني فطرت پر خلاف د دين او ژوند د بېلتون پر بنسټ ولاړ وي او روحي ناحيې ته په هېڅ ارزښت نه وي قايل او ژوند ورته يوازې په گټه کې متصور وي او په ژوند کې د انسان او انسان تر منځ اړيکه يوازې او يوازې گټه بولي، دا ډول فرهنگ له بدبختۍ پرته بله هېڅ پايله نه لري. نو تر هغه چې دا ډول گټه بنسټ وي، شخړې پکې حتمي دي او په دې لاره کې مبارزه هم طبيعي ده او د بشر تر منځ د اړيکو په ټينگولو باور هم طبيعي دی. نو له همدې امله د دغه فرهنگ اهل طبيعي ښکېلاک کوي، گډوډ اخلاق لري، ځکه چې يوازې گټه د دوی د ژوند بنسټ جوړوي. په طبيعي ډول له ژوند څخه اخلاق د روحي ارزښتونو په څېر منفي کېږي او ژوند د مبارزې، تېري، ښکېلاک او رقابت پر بنسټ دوام مومي. د نننۍ نړۍ د بشر په نفسونو کې چې کومې روحي ستونزې رامنځته شوې دي، دوامدار کشمکش او پرلپسې پېټ شر د غربي فرهنگ پر پايلو ښه دلايل دي. کوم چې په نننۍ نړۍ باندې حکم کوي او همدغه د انساني گواښونو د پايلو لامل شوی دی.

اسلامي فرهنگ ته په کتو سره دا جوتېږي چې له اوومې ميلادي پېړۍ څخه د اتلسمې پېړۍ تر وروستيو پورې هېڅکله مستعمره نه و او حتی په طبيعت کې يې هم استعمار شتون نه درلود، ځکه چې دوی د مسلمانانو او نورو تر منځ توپير نه کاوه، د ټولو ولسونو لپاره يې عدالت تضمين کړی و او د واکمنۍ په دغې اوږده دوره کې دا مسئله پ ثابته ده. دا فرهنگ پر روحي بنسټ ولاړ دی، چې ټول ارزښتونه لکه مادي، روحي، اخلاقي او انساني پکې راټولېږي او تر لاسه کېږي. په ژوند کې تر ټولو درونډ وزن د عقيدې وي. له ژوند څخه يې تصور د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهيو څخه رامنځته شوی وي، د نېکمرغۍ معنی ورته د الله سبحانه وتعالی خوښي وي. دغه اسلامي فرهنگ به يو ځل بيا پر ټولنه حاکم شي لکه څنگه چې پخوا وربانديې حاکم و او همدا به د نړۍ د ستونز کفالت کوي او په ټوليز ډول به انسانانو ته سوکالي او هوساينه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي نظام

اسلام هغه دين دی چې الله سبحانه وتعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه د انسانيت د ټول ژوند د تنظيم او سمون لپاره رالیږلی دی. دغه دين د انسان اړیکې د هغه له رب او خالق، له بل انسان او له خپل ځان سره تنظیموي. له خپل خالق سره د ده اړیکې له عقیدې او عباداتو، له ځان سره یې اړیکې له اخلاقو، خوراکي توکو، ځښاک او جامو او له بل سره يې اړیکې له معاملاتو او عقوباتو څخه عبارت دي.

نو اسلام يوه ایډیولوژي يا مبداء ده، چې د ژوند ټولې چارې سنبالوي، نه لاهوتي دين دی او نه له کهنوتيت سره کوم تړاو لري. اسلام پر ديني استبداد او زورواکۍ يا اوتوکراسي باندې هم پښه اېښې او نه يې مني. له همدې امله په اسلام کې داسې کوم ټولی چې د دين رجال يا د دنيا رجال و بلل شي نشته، بلکې ټول هغه کسان چې اسلام ته غاړه ږدي، يو ډول مسلمانان دي او د دين پر وړاندي ټول يو شی دي. نو په اسلام کې روحاني او دنيايي کسان هم نشته.

په اسلام کې روحي ناحيه دا ده چې توکي او شيان د خالق مخلوق وبلل شي او د هغه په امر يې تدبير کېږي. ځکه که په کايناتو، انسان، ژوند او دې ته اړوندو څیزونو کې ژور نظر واچول شي، نو ليدل کېږي چې انسان دغو ټولو څیزونو ته سخت ناقص، عاجز او اړ دی او همدا مسئله پر دې دلالت کوي چې دا ټول د يوه خالق مخلوق دي او د هغه ذات په امر سره يې تدبير کېږي. انسان بايد چې د نورو په څېر په ژوند کې خپلې غريزې او عضوي غوښتنې د يوه نظام له مخې تنظيم کړي او دا نظام انسان ځکه نه شي جوړولای چې انسان عاجز دی او په کايناتو، ژوند او خپله انسان باندې يې د علم احاطه نشته. ځکه چې د انسان له خوا به د دې په تنظيم کې تفاوت، اختلاف او تناقض وي او همدغه تناقض او توپير به د انسان د بدبختۍ لامل کېږي. له همدې امله دا حتمي کېږي چې نظام بايد د الله سبحانه وتعالی له لوري شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا پر انسان لازمي ده چې خپل اعمال د هغه نظام له مخې تنظيم کړي چې د الله سبحانه وتعالی له لوري څخه دی؛ خو که د ګټې له مخې خپل اعمال د يوه نظام له مخې عملي کړي او هغه په دې اساس نه وي چې دا نظام د الله سبحانه وتعالی له لوري دی، نو په دې کې بيا روحي ناحيه نشته. بلکې هېڅ چاره نشته چې انسان په خپل ژوند کې خپل اعمال د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهيو له مخې تنظيم کړي. يعنې پر دغه اساس چې له الله سبحانه وتعالی سره يې اړيکه درک کړې وي، تر دې چې په اعمالو کې يې روح وموندل شي. يعنې هېڅ لاره نشته چې انسان خپله اړيکه له الله سبحانه وتعالی سره ټينګه نه کړي او پر دغه اساس چې له الله سبحانه وتعالی سره يې داسې اړيکه ټينګه کړې وي چې اعمال د هغه له اوامرو او نواهيو سره سم ترسره کوي، آن تر دې چې د اعمالو د سرته رسولو پر مهال روح ومومي او خپله روح له الله سبحانه وتعالی سره د اړيکې درک کول دي او له مادې سره يې د ګډولو معنی دا ده چې له الله سبحانه وتعالی سره داسې اړيکه درک کړي چې د اعمالو د سرته رسولو پر مهال د هغه اوامر او نواهي پر ځای کړي، يعنې داسې چې دا له الله سبحانه وتعالی سره اړيکه ده، نو عمل ماده ده او د ترسره کولو پر مهال له الله سبحانه وتعالی سره يې اړيکه روح ده، نو کله چې اعمال د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهيو سره سم ترسره شي او له الله سبحانه وتعالی سره اړيکه هم درک شي، همدا د مادې او روح ګډون دی.

پر دغه اساس د غير مسلمان اعمال د شرعي احکامو پر بنسټ نه دي، چې له قرآن او سنتو څخه استنباط شوي دي او روح هم نه لري. دلته د مادې او روح د ګډون مسئله هم نه شي رامنځ ته کېدای، ځکه چې هغه پر اسلام ايمان نه لري. نو له الله سبحانه وتعالی سره اړيکه نه شي ټينګولی، بلکې شرعي احکام يې د داسې نظام په ډول چې خوښ شوی يې دی اخيستي او خپل اعمال يې د هغه له مخې تنظيم کړي دي. د دې پر خلاف مسلمان، چې د هغه اعمال د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهيو له مخې، له الله سبحانه وتعالی سره د اړيکې له درک سره يو ځای سرته رسوي او د هغه موخه له دا ډول عمل څخه يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library


گټه نه، بلکې د الله سبحانه وتعالی خوښې وي. نو له همدې امله په ټولو څيزونو کې روحي ناحيه شتون لري او همدارنګه اعمال د سرته رسولو پر مهال روح لري.

د دې لپاره چې د ټولو لپاره دا موضوع روښانه وي، روحي ناحيه دې ته ويل کيږي چې څيزونه د خالق مخلوق وګڼل شي، ځکه چې پيدا کړي يې دي، يعنې د مخلوق اړيکه له خالق سره او روح د همدغه اړيکې موندل دي، يعنې چې انسان خپله اړيکه له خپل خالق سره درک کړي، همدغه روحي ناحيه او روح دی. يوازې له روح څخه همدا صحيح مفهوم دی او نور ټول په قطعي ډول ناسم دي. نو دا مهال په کايناتو، انسان او ژوند کې ژور نظر کول، انسان سمو پايلو ته رسوي؛ ځکه چې له روح او روحانيت څخه به مو سم مفهوم ترلاسه کړی وي.

ځينو دينونو بيا کاينات په محسوس او مغيب باندې وېشلي دي، انسان يې له روحي پلوه لوړ او د جسد له پلوه ټيټ ګڼلی، په ژوند کې يې مادي او روحي ناحيې سره بېلې کړې دي. دا سمه ده چې محسوس له مغيب سره متعارض دي او روحي لوړوالی له جسدي پستۍ سره نه شي يو ځای کېدلای او ماده له روح څخه بېله ده. نو دغه دواړې ناحيې د دوی پر وړاندې سره بېلې دي، ځکه د دوی په طبيعت کې اساسي توپير او تعارض دی او يو ځانوالی يې ناشونی دی، نو که څوک يوې ته ترجيح ورکوي، د هغې بلې ناحيې وزن کمېږي، له همدې امله د آخرت غوښتونکی بايد روحي ناحيې ته ارزښت ورکړي. له همدې امله په مسيحيت کې دوه ځواکونه را پورته شول: روحي ځواک او دنيايي ځواک (هغه څه چې د قيصر لپاره دي، هغه قيصر ته ورکړئ او څه چې د الله سبحانه وتعالی لپاره دي هغه الله سبحانه وتعالی ته ورکړئ)، نو د دين کسان يې روحي ځواک او کهنوتيان وو او دوی کوښښ کاوه چې دنيايي ځواک يې په لاس کې ولوېږي، ترڅو روحي ځواک ته هلته هم ترجيح ورکړل شي. له دا ډول وېش څخه د دواړو ځواکونو تر منځ شخړه رامنځته شوه، چې په پايله کې رجال دين له روحي ځواک سره مستقل شول او په دنيايي چارو کې به يې لاسوهنه نه کوله، نو دين له ژوند څخه بېل شو، ځکه کهنوتي شو او همدا د دين

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ژوند بیلتون و. د پانگوالی یا کپیټلېزم عقیده همدا ده، د غربي ټولنې او فرهنگ اساس همدا دی او دا هغه فکري قیادت دی، چې غربي استعمار يې له ځان سره نړۍ ته لېږدوي، خلک ورته رابولي، د خپل ثقافت ستنې يې گڼي او پر اسلام د مسلمانانو د عقیدې بنسټ وربانديې لړزوي، ځکه دوی اسلام هم د شمولي قیاس له لارې پر مسیحیت ورقیاس کوي. نو ټول هغه کسان چې د ژوند او دین د بېلتون او د دین او دولت یا سیاست د بېلتون فکر له ځان سره لري او لېږدوي يې، دوی د اجنبي فکر له فکري قیادت سره مخ شوي دي، دوی یا په نېک نیت او یا په بد نیت مزدوران شوي دي او دوی د استعمار مزدوران دي او په اسلام نه پوهېږي.

اما اسلام ټول هغه شیان مادي گڼي چې د حواسو په واسطه درک کېږي او روحي ناحیه يې دا ده چې دغه شیان د خالق مخلوقات دي او روح يې دا دی چې انسان يې له الله سبحانه وتعالی سره اړیکه درک کوي، نو له همدې امله روحي ناحیه له مادي ناحیې څخه بېله نه شي رامنځته کېدای. انسان ځینې عضوي غوښتنې او غریزې لري، چې هغه باید پوره کړي. له غریزو څخه د تدین غریزه چې یوه مدبر خالق موندلو ته انسان اړ کوي او دا هم د انسان طبیعي عجز دی. د دغه غریزو مړول نه روحي ناحیه بلل کېږي او نه مادي، بلکې دا یوازې د غریزو مړول دي. خو کله چې دغه عضوي غوښتنې او غریزې د هغه نظام له مخې مړې شي چې د الله سبحانه وتعالی له لوري دی، نو اساساً دلته له الله سبحانه وتعالی سره اړیکه درک شوې ده او دغه چارې روح لرونکې دي او که د الله سبحانه وتعالی له نظام پرته مړې شي، دا یوازې مادي مړول دي، چې د انسان د بدبختۍ لامل کېږي. که د نوع غریزه له نظام پرته او یا د الله سبحانه وتعالی د نظام مخالفه مړه شي، نو دا د انسان د بدبختۍ لامل کېږي او که د نکاح او هغه نظام له مخې مړه شي چې الله سبحانه وتعالی را استولی دی، یعنې د اسلام د احکامو له مخې ترسره شي، نو نکاح به د انسان لپاره د ډاډ لامل شي. که د تدین غریزه له نظام پرته او یا د الله سبحانه وتعالی د نظام خلاف مړه شي نو انسانان د بتانو او یا نورو انسانانو د عبادت لپاره هڅه کوي، چې دا بیا د شرک او کفر

(c) ketabton.com: The Digital Library


لامل کېږي او که د اسلام د احکامو له مخې مړه شي، نو عبادت بلل کېږي. له همدې امله اړینه ده چې په څیزونو کې روحي ناحیې ته پام وکړو او ټول اعمال د الله سبحانه وتعالی د اوامرو او نواهیو له مخې په داسې حال کې ترسره کړو، چې له الله سبحانه وتعالی سره یې اړیکه درک کړو، نو دا مهال به مو اعمال روح وموميي. له همدې امله په یوه عمل کې دوه شیان نه رامنځته کېږي، بلکې یو څیز شتون لري چې هغه خپله عمل دی، دا چې ته یې یوازې مادي ګڼې او که یې روح لرونکی بولې، دا خپله له عمل څخه لاس ته نه راځي، بلکې دا له اسلامي احکامو څخه لاس ته راځي، چې په اوامرو یې عمل وکړي او له نواهیو څخه یې ډډه وکړي. نو د مسلمان لپاره په جګړه کې د خپل دښمن وژل جهاد بلل کېږي او ثواب وربانديې اخلي، ځکه چې د ده دا عمل د اسلام د احکامو له مخې دی او د معصوم انسان نفس (که مسلمان وي که غیر مسلمان) له کوم حق پرته جرم بلل کېږي او د هغه د عذاب لامل کېږي، ځکه چې د ده دا عمل د اسلام د اوامرو او نواهیو خلاف دی. حال دا چې دواړه عملونه یو ډول دي یعنې قتل دی چې انسان یې ترسره کوي، خو کله چې په روحي توګه ترسره شي قتل عبادت بلل کېږي او که له روح پرته ترسره شي، نو عبادت نه بلل کېږي. نو له همدې امله پر مسلمان دا لازمي شوې چې اعمال یې روح لرونکي وي او د مادې او روح یوځایوالی ممکن امر نه، بلکې واجب امر دی او دا جواز نه لري چې ماده له روح څخه بېله شي او دا هم روا نه ده چې هېڅ عمل دې د الله ﷻ له اوامرو او نواهیو سره سم ترسره نه شي په داسې حال کې چې له الله سبحانه وتعالی سره پر اړیکه باندې ولاړ وي. ځکه نو هغه ټول ردېږي چې روحي ناحیه له مادي ناحیې څخه بېلوي. نو په اسلام کې دیني کسان نشته او نه په اسلام کې داسې دیني سلطه شته چې په کهنوتي معنی باندې ولاړه وي او نه هم کومه دنیایي سلطه شته چې له دین څخه بېله وي، بلکې اسلام داسې دین دی چې دولت لري او هغه شرعي احکام لري، لکه د لمانځه احکام، همدا راز د اسلامي احکامو د اجرا او د دعوت د لېږدولو طریقه لري. نو دا واجبه ده چې ټول هغه څه چې دین په روحي معنی پورې تړي او له سیاست او حکم څخه یې بېلوي لغوه او باطل وګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. نو هغه موسسې چې په روحي ناحیو باندې کار کوي باید لغوه شي. د جوماتونو اداره لغوه کیږي او د هغو اداره د معارف تر ادارې لاندې راځي، شرعي او نظامي محکمې هم لغوه کیږي او یوه واحده قضا ورڅخه جوړیږي، چې له اسلام پرته په بل څه باندې حکم نه کوي، نو د اسلام سلطان یو او واحد سلطان دی.

اسلام عقیده او نظامونه دي، عقیده پر الله سبحانه وتعالی، ملایکو، کتابونو، رسولانو، د آخرت پر ورځ او د قضا او قدر په خیر او شر باندې داسې ایمان چې د الله سبحانه وتعالی له پلوه دي. اسلام عقیده پر عقل باندې بنا کړې ده او هغه څه ده چې عقل یې درک کولای شي، لکه پر الله سبحانه وتعالی، محمد صلی الله علیه وسلم او قرآن کریم ایمان او همدا راز په مغیباتو باندې ولاړه ده، یعنې هغه څه چې په عقل سره نه درک کیږي لکه پر قیامت، ملایکو، جنت او دوزخ ایمان او ورته تسلیمي، خو په داسې شان سره چې د دغو ټولو مصدر په عقل سره ثابت دی چې هغه قرآن کریم او متواتر احادیث دي. له همدې امله اسلام عقل د تکلیف لپاره اساس ګڼلی.

نظامونه هغه شرعي احکام دي چې د انسان چارې ورباندې سمبالیږي او اسلام د انساني ژوند ټولې چارې عامه توګه یې منظموي، یعنې په عامه معنی سره او هغه تفصیلات چې د دغو عامو معناګانو څخه د اجرا پر مهال اخیستل کیږي هغه آزاد پرېږدي. قرآن کریم او حدیث شریف د دې لپاره راغلي چې د انسان لپاره پلن خطونه وکاږي، یعنې عامې معناګانې د انسان د ټولو ستونزو د حل لپاره په داسې شان سره وضع کوي چې هغه یو انسان دی او نور مجتهدینو ته پرېږدي چې له دغو عامو معناګانو څخه هغه جزیي احکام استنباط کړي چې د وخت او مکان په بدلون سره انسانانو ته ستونزې رامنځته کیږي.

اسلام د ستونزو د حل لپاره واحده طریقه لري، هغه داسې چې مجتهد باید لومړی ستونزه وپېژني، معلومات ورباندې حاصل کړي، ترڅو بشپړ ورباندې پوه شي، بیا یې ټول اړوند شرعي نصوص ولټوي، بیا له دغو نصوصو څخه د دغو ستونزو حل استنباط کړي، یعنې د دغو مسایلو لپاره له شرعي دلایلو څخه شرعي حکم استنباط کړي او باید په مطلق

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډول په بله لاره ولاړ نه شي. ځکه کله چې دی دغه ستونزه څېړي نو باید چې د بل څه په اعتبار نه، بلکې د یوې انساني ستونزې په توګه یې باید وڅېړي یا دا چې هغه ستونزه د یوې اقتصادي، اجتماعي، حکمي او بل ډول ستونزې په توګه مطالعه نه کړي، بلکې په دې اعتبار یې باید وڅېړي چې دا داسې مسئله ده چې شرعي حکم ته اړتیا لري، ترڅو په دې اړه د الله سبحانه وتعالی حکم وپېژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرعي حکم

شرعي حکم د شارع هغه وینا ده چې د بنده ګانو په افعالو پورې اړه ولري، هغه کېدای شي قطعي الثبوت وي لکه قرآنکریم او متواتر احادیث، یا لکه غیر متواتر احادیث ظني الثبوت وي. که یو حکم قطعي الثبوت وي، نو ورته ګورو چې قطعي الدلالة هم دی او که څنګه، نو که قطعي الدلالة هم و، دا داسې یو حکم دی چې قطعیت یې تضمیني کېږي، لکه د فرض لمونځونو رکعتونه، څکه دا په متواترو احادیثو کې راغلي دي او یا لکه د سود تحریم او د غله د لاس پرې کول او یا په درو د زاني وهل. دا ټول قطعي احکام دي او صواب په دې کې ټاکل شوی دی او په دې کې له یوه قطعي نظر پرته بل څه نشته.

که د شارع وینا قطعي الثبوت او ظني الدلالة وي، نو حکم هم ظني بلل کېږي، لکه د جزیې آیت شریف، څکه دا قطعي الثبوت دی، خو په دلالة کې ظني دی. حنفیان دا شرط ګڼي چې جزیه ونومول شي او د ورکوونکي ذلت باید د ورکولو پر مهال ورڅخه ظاهر شي. شافعیان یې بیا د جزیې نوم شرط نه بولي، بلکې وایي چې کېدای شي د مضاعف زکوة په نامه واخیستل شي او د ذلت څرګندونه پکې اړینه نه بولي، بلکې دا کافي بولي چې اسلامي احکامو ته یې غاړه اېښې ده.

که د شارع وینا ظني الثبوت وي لکه غیر متواتر حدیث، نو دلته هم حکم ظني بلل کېږي، آن که قطعي الدلالة هم وي لکه د شوال شپږ ورځې روژه نو دا سنت بلل شوې ده. یا هم ظني الدلالة وي لکه د ځمکې د اجاره کولو منع او دا هم سنت ثابته شوې ده.

د شارع له وینا څخه په صحیح اجتهاد سره شرعي حکم پېژندل کېږي. له همدې امله د مجتهدینو اجتهاد د دې لپاره و چې شرعي احکام به یې څرګندول، نو پر هر مجتهد د الله سبحانه وتعالی د حکم حق دی چې اجتهاد پکې وکړي او پر ظن پکې غلبه وکړي.

نو که کوم مکلف ته پوره د اجتهاد اهلیت حاصل شي، په یوه مسئله او یا هم ډېرو مسئلو کې نو په تحقیق سره هغه په دغه حکم کې اجتهاد وکړ او په دې برخه کې ټول متفق

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، چې ده ته له نورو مجتهدينو څخه په هغه احکامو کې چې د ده د ظن خلاف دي تقليد نه دی روا او ده ته د خپل اجتهاد د حکم پرېښودل پرته له لاندينيو څلورو حالاتو څخه نه دي روا:

لومړی: که کله دا ورته معلومه شي چې په کوم دليل چې ده په خپل اجتهاد کې استناد کړی و، هغه کمزوری و او که په دې پوه شي چې د هغه بل مجتهد دليل له ما څخه قوي دی، نو دا مهال پر ده واجب ده چې خپل اجتهاد پرېږدي او هغه حکم عملي کړي چې د اجتهاد لپاره يې په قوي دليل استناد کړی وي.

دويم: کله چې دا ورته ښکاره شي چې هغه بل مجتهد د مسائلو پر اړيکو او واقعيت تر ده ډېر علم لري او په ادله وو کې هم ډېر پوهيږي او له نقلي دلايلو څخه هم ډېر معلومات ولري، نو دا مهال ده ته روا ده چې له خپل اجتهاد څخه تېر شي او د هغه مجتهد تقليد وکړي، چې اجتهاد يې له خپل اجتهاد څخه باوري ورته ښکاره شوی دی.

درېيم: چې داسې يوه رايه را منځته کړي چې د ټولو مسلمانانو له يوې کلمې سره په ټکر کې راشي، نو دا مهال دی بايد د مسلمانانو د مصلحت لپاره له خپل اجتهاد څخه تېر شي او په دغه حالت کې هم ده ته روا ده چې د هغه حکم پيروي وکړي چې د مسلمانانو يووالی ورباندې مصلحت دی او دا ډول پېښه له حضرت عثمان رضی الله عنه سره د بيعت پر مهال وشوه.

څلورم: کله چې خليفه داسې شرعي حکم تبني کړي چې د ده له اجتهاد سره مخالف وي، نو په دغه حالت کې پر ده له خپل اجتهاد څخه پيروي نه واجبيږي او د امام په تبني شوي حکم به عمل کوي، ځکه د صحابه وو اجماع په دې ده چې (اُمر لامام يرفع الخلاف) يعنې د امام امر اختلاف له منځه وړي او امر يې پر مسلمانانو نافذ دی.

خو که څوک د اجتهاد اهليت هم ولري خو اجتهاد نه کوي، ده ته هم روا ده چې له نورو څخه تقليد وکړي، ځکه د صحابه وو اجماع په دې کې ده چې مجتهد ته روا ده چې له نورو مجتهدينو څخه پيروي وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه څوک چې د اجتهاد اهليت ونه لري، هغه مقلد دی او په دوه ډوله دی، متبع او عامي: متبع هغه دی چې په اجتهاد کې يې ځينې معتبر علوم زده کړي وي، هغه د مجتهد داسې تقليد کوي چې دليل يې پېژني. عامي بيا هغه دی چې معتبر علوم يې په اجتهاد کې نه وي حاصل کړي او داسې تقليد کوي چې دليل يې هم نه پېژني. پر عامي د مجتهدينو د اقوالو تقليد لازم دی او هغه احکام چې يو مجتهد يې استنباطوي عامي بايد عمل ورباندې وکړي او دا د ده لپاره شرعي حکم کېږي. نو له دې امله شرعي حکم هغه دی چې هغه مجتهد چې د اجتهاد اهليت ولري، استنباط يې کړي او د عامي لپاره د الله سبحانه وتعالی حکم دی چې مخالفت يې ورته نه دی روا او مجتهد ته يې هم پرته له پورتنيو ذکر شوو حالاتو څخه پيروي حتمي ده. همدا راز د هغه چا په حق کې چې د ده پيروي کوي، هم همدا د الله سبحانه وتعالی حکم دی او مخالفت يې ورته ناروا دی.

مقلد چې کله د ځينو مجتهدينو حکم په يوه موضوع کې عملي کوي، پرېښودل يې بې له دليله ورته جواز نه لري او له هغه پرته د بل مجتهد تقليد په بل حکم کې روا دی، ځکه چې په دې هکله د صحابه کرامو اجماع شوې چې هر عالم ته په ځينو مسئلو کې د تقليد اجازه ورکوي او که کوم مقلد ځانګړی مذهب وټاکي لکه د شافعي مذهب او ووايي چې زه په دغه مذهب يم او پر هغه عمل وکړي، نو په دې اړه تفصيل داسې دی: په ټولو هغو مسئلو کې چې نوموړي تقليد کړی، عمل ورباندې اړين دی او په مطلقه توګه بايد د نورو تقليد ونه کړي او که عملي يې نه کړي او ورسره اړيکه ونه لري نو په دغه مسئلو کې د نورو مجتهدينو تقليد کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شرعي حكمونو ډولونه

شرعي احکام فرض، حرام، مندوب، مکروه او مباح دي او شرعي حکم يا د عمل کولو او يا هم د نه کولو د غوښتنې خطاب دی. که د کولو د غوښتنې خطاب وي، که طلب د فعل جازم او قاطع وي، دا فرض يا واجب دي او دا دواړه په يوه معنی کارېږي.که طلب جازم او قطعي نه وي، نو مندوب ورته وايي. که د نه کولو د غوښتنې خطاب قاطع و، دا حرام او ناروا دي او دا دواړه هم په يوه معنی کارېږي او که د نه کولو د غوښتنې خطاب غير جازم او قطعي وي، نو دې ته کراهيت وايي. له همدې امله د فرضو او واجبو فاعل ستايل کېږي او پرېښودونکی يې بد بلل کېږي او يا دا چې فاعل يې ثواب اخلي او پرېښودونکی يې د عذاب مستحق بلل کېږي. د حرامو سرته رسوونکی بد ګڼل کېږي او د عذاب مستحق کېږي او پرېښودونکی يې ثواب اخلي. مندوب هغه دي چې فاعل يې ثواب اخلي، خو پر پرېښودونکي يې عذاب نشته او مکروه هغه دي چې پرېښودونکي ته يې ثواب دی او يا دا چې پرېښودل يې تر کولو غوره دي او مباح هغه څه دي چې د شارع نقلي دليل پر دې وي چې بنده يې په کړلو او نه کړلو مختار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سنت

سنت په لغت کې لارې ته ویل کېږي او په شرع کې هغه څه ته وايي چې په نفلي ډول له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه را نقل شوي وي، لکه سنت لمونځ چې د فرض لمانځه پر وړاندې سنت نومول کېږي او دايې مطلب نه دی چې فرض د الله سبحانه وتعالی له خوا دي او سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا، بلکې سنت او فرض دواړه د الله سبحانه وتعالی له لوري دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله سبحانه وتعالی مبلغ دی، ځکه چې هغه له هوا او نفس له مخې خبرې نه کوي بلکې ده ته وحي کېږي. نو دا که منقول سنت وي او که منقول نفل، ټول سنت نومول کېږي. لکه چې فرض په فرضي ډول نقل شوي دي، نو فرض نومول کېږي، لکه د سهار د لمانځه دوه رکعته په متواتر ډول له رسول صلی الله علیه وسلم څخه فرض را نقل شوي دي او دوه رکعته د سهار د لمانځه سنت په متواتر ډول نفل را نقل شوي دي او دا دواړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري، نه بلکې د الله سبحانه وتعالی له لوري څخه دي. نو په عباداتو کې امر یا فرض وي او یا نفل او په نورو برخو کې یا فرض وي یا مندوب او یا مباح. نو نفل هم پخپله مندوب دي، یوازې نفل نومول شوي دي او په سنتو یې اطلاق کېږي.

همدا راز سنت هغه دلایلو ته ویل کېږي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه صادر شوي وي خو له قرآن څخه نه وي او په دې کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم اقوال، افعال، تقریرونه او سکوت شاملېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رسول الله صلی الله علیه وسلم د افعالو پیروي

د رسول الله صلی الله علیه وسلم افعال (سنت) په درې ډوله دي، لومړی جبلي افعال لکه ولاړېدل، کښېناستل، خوراک، څښاک او دې ته ورته نور، هغه دي چې له انساني طبیعت سره یې سم سرته رسولي چې دا پرته له کومې خبرې ده او د ده امت ته مباح دي او په مندوبو کې نه داخلیږي.

دویم، هغه افعال چې جبلي نه دي، یعنې هغه ځانګړنې چې هېڅوک ورسره پکې شراکت نه شي کولای او نه د بل چا ځانګړنه کېدای شي، هغه چې د ده له ځانګړتیاوو څخه ثابت شوي وو، لکه په روژه کې پیوستون، یعنې د شپې او ورځې د روژو پیوستون یا تر څلورو د ډېرو ښځو په نکاح کول دا ټولې هغه ځانګړتیاوې دي چې موږ ورسره شریک نه یو او دا په اجماع سره ثابته ده چې دا د ده له ځانګړتیاوو څخه وو او په دې کې یې پر امت پیروي نشته.

درېیم، هغه افعال چې موږ ته یې د راښودلو لپاره کړی دي یا په ښکاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قول سره ثابت شوي دي، لکه چې فرمایي:

**«صَلُوا كَمَا رَأَيتُمُوني أُصَلي»** (رواه البخاري)

***ژباړه:*** *داسې لمونځ کوئ لکه زه یې چې کوم.*

یا فرمایي:

**«خُذُا عَنِّي مَنَاسِكَكُم»**

***ژباړه:*** *له ما څخه د حج لپاره مناسک واخلئ.*

دا پر دې دلالت کوي چې د ده فعل زموږ لپاره داسې بیان دی چې باید پیروي یې وکړو یا د حالاتو په قرینو راغلي وي لکه په مړوند کې د غله لاس پرې کول، چې د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبحانه وتعالی د دغه قول له مخې چې فرمايي:

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ (المائده: ۳۸)

***ژباړه:*** *نو د (غله او غلې) لاسونه پرې کړئ.*

نو د فعل دا ډول بيان چې په قول او د احوالو په قرينو سره واضح دی هغه هم د دا ډول دليلونو له مخې چې کله به فرض، واجب، مندوب او يا مباح وي.

خو هغه کارونه چې دې ته نه دي ورته او پر دې دلالت کوي چې دا هم د داسې بيان چې نه پکې نفی راغلي او نه اثبات او په هغو کې د قربت نيت يا معلوم وي او يا هم نه وي، که د قربت قصد پکې څرګند شو نو مندوب دي، چې انسان يې په کړلو ثواب اخلي او په نه کولو يې نه عذابيږي، لکه د لوی اختر سنت او که د قربت نيت پکې نه ليدل کېده، نو په مباح کې داخليږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شرعي احکامو تبني

د صحابه وو په وخت کې به مسلمانانو شرعي حکمونه پخپله له کتاب الله او سنتو څخه اخيستل. حاکمانو او قاضيانو به چې د دښمنيو او دعوو فيصلې کولې له شريعت څخه به يې په خپله حکمونه استنباطول او هر ډول پيښه به چې ورته وړاندې شوه حل کوله به يې. اميرالمومنين آن تر واليانو او نورو پورې ټولو به حکم کاوه او په خپله به يې د هرې ستونزې لپاره شرعي حل پيدا کاوه. ابوموسى الاشعري او شريح دواړه داسې قاضيان وو چې له خپل اجتهاد سره سمې به يې پرېکړې کولې. معاذ ابن جبل (رض) د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې والي و، احکام يې خپله استنباطول او اجتهاد به يې کاوه او بيا به يې په خپل ولايت کې عملي کول. ابوبکر او عمر رضى الله عنهم دواړو د خپلو خلافتونو پر مهال له خپل اجتهاد سره سم احکام استنباطول او هر يوه به د خلکو تر منځ پرېکړې کولې. معاويه او عمرو ابن العاص رضى الله عنه دواړه واليان وو او هر يوه به په خپل ولايت کې له خپل اجتهاد سره سمې پرېکړې کولې، د دوی دا ډول اجتهادونه له واليانو او قاضيانو سره هم وو. خليفه به ځانګړي احکام تبني کول او خلک يې د هغه پر عملي کولو مامور کول. نو خلکو ته حتمي وه چې دا ډول اوامر ومني او دا مهال به دوی له خپلو رايو او اجتهادونو څخه تېرېدل، ځکه چې شرعي حکم دی چې د امام امر ظاهراً او باطناً نافذ دی. له دې امله ابوبکر صديق رضى الله عنه د درې ګونو طلاقونو وقوع په يو ځل تبني کړل او په مساوي ډول يې د مالونو وېشل يې بې له دې چې فکر ورته وشي چې په اسلام کې يې څومره وخت تېر کړی دی، تبنی کړل او مسلمانانو يې هم پيروي وکړه او پر دوی يې واليان او قاضيان وټاکل. کله چې عمر رضى الله عنه راغی د دغه دواړو پېښو په اړه يې د ابوبکر صديق رضى الله عنه د رايې خلاف رايه تبني کړه. درې ګوني طلاقونه يې درې ځايه کړل او د مال وېش يې بېرته د پخوا په څېر کړ او اړتيا يې په مساوي والي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې نه بلکې په زياتوالي کې تبني کړه. مسلمانانو يې پيروي وکړه او قاضيانو او واليانو ته يې د عملي کولو په اړه لارښوونه وکړه. حضرت عمر رضی الله عنه د غنيمت ځمکې د بيت المال مال وگرځولې په داسې ډول چې د خپل اهل په لاس کې به يې وي، نه به پر محاربينو او نه به پر مسلمانانو وېشل کېږي. پر دغه هم قاضيانو او واليانو عمل وکړ او هغه حکم يې ومانه چې ده تبني کړی و. نو د صحابه وو په اجماع دا ثابته ده چې خليفه د احکامو د تبني حق لري، چې پر ټاکلو امرونو د عمل امر وکړي او په مسلمانانو يې پيروي لازمه ده، آن تر دې که اجتهاد يې ناسم هم شي. مشهور شرعي قوانين دا دي چې (للسلطان أن يحدث من الاقضية بقدر ما يحذث من مشکلات) يعنې د سلطان لپاره جايزه ده چې د قضيو په اړه دومره خبرې وکړي چې ستونزې يې رامنځته کړې وي او (امر الامام يرفع الخلاف) يعنې د امام امر اختلاف له منځه وړي او يا دا چې (امر الامام نافذ ظاهرا و باطنا) يعنې د امام امر ظاهراً او باطناً نافذ دی. له همدې امله وروسته له دې خليفه گانو ټاکلي احکام تبني کول. هارون الرشيد په اقتصادي برخه کې کتاب الخراج تبني کړ او خلکو ته يې په هغه کې د ټولو احکامو د عملي کولو امر وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دستور او قانون

د قانون کلمه یوه پردۍ کلمه ده، د پاچا د هغه فرمان او حکم په معنی ده چې د خلکو د اسانتیا لپاره یې صادروي او اصطلاحي تعریف یې داسې شوی: «قانون د هغه قواعدو مجموعه ده چې سلطان خلک مجبوروي ترڅو له دغه قواعدو سره سم خپلې اړیکې ټینګې کړي.» د هر دولت اساسي قانون ته د دستور کلمه هم راتلای شي او له هر نظام څخه لاسته راغلي دستور ته د قانون کلمه هم راغلې ده. خو دستور داسې تعریفیږي: «هغه قانون ته ویل کیږي چې د دولت شکل، د حکم نظام او د هرې قوې صلاحیتونه بیانوي.» یا «هغه قانون ته وایي چې د عام ولس واک یعنې له حکومت سره د دوی اړیکې تنظیموي او ټاکي او همدا راز د دوی حقونه او واجبات د حکومت پر وړاندې او د حکومت وجایب او حقونه د دوی پر وړاندې ټاکي.» دغه دستورونه بېلابېلې منشاګانې لري چې له هغو څخه ځینې د قانون په څېر او ځینې نور هم د عادتونو او تقلیدونو په څېر راوتلي وي لکه د انګلستان دستور، ځینې بیا یوې ډلې له وطني جمعیت څخه وضع کړی وي چې د هغه امت لپاره هماغه مهال واک ورکوي، نو دوی دستور جوړوي او د اجرا څرنګوالی یې هم څرګندوي، وروسته دغه ډله منحل کیږي او د دې پر ځای هغه واګې چې قانون بېلابېلو چارواکو ته ورکوي د هغوی ځای نیسي لکه څرنګه چې په فرانسه او امریکا کې ترسره شول. د قانون او دستور لپاره ځانګړي مصادر شتون لري چې په دوه ډوله دي:

لومړی: چې موخه یې د قانون د سرچینې نېغ پر نېغه پلي کول دي، لکه دین او عادات یا فقهي نظرونه، یا د محکمو احکام او یا د عدل او انصاف قواعد او دغه دستور ته د تشریعي مصدر درلودونکی دستور وایي لکه د ځینو لویدیځو هېوادونو لکه امریکا او انګلستان دستورونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم: هغه دستورونه چې له یو شي څخه رامنځته شوي وي یا هغه دستورونه چې له بل دستور او قانون څخه نقل شوي وي لکه د فرانسې دستور او یا په اسلامي نړۍ کې د ځینو هېوادونو دستورونه لکه د ترکیې، مصر، عراق او سوریې چې دغو ته د تاریخي مصدر درلودونکي دستورونه ویل کېږي.

دا د هغې اصطلاح لنډیز و چې د قانون او دستور معنی لري، په ځانګړې توګه هغه دولت چې له یو شمېر مصادرو څخه خپل قانون اخلي هغه که تشریعي او یا هم تاریخي مصدر وي، ټاکلي احکام دي چې تنبني کوي یې او پر هغو د عمل کولو امر کوي. دغه احکام د دولت له خوا له تبني کېدو وروسته د دستور حیثیت غوره کوي، هغه که عام او یا هم خاص احکام وي.

هغه پوښتنه چې مسلمانان دلته ورسره مخ کېږي دا ده چې آیا مسلمانان د دستور او قانون اصطلاحات کارولی شي او که نه؟ ځواب دا دی، هغه اجنبي الفاظ چې اصطلاحي معنی ولري او د مسلمانانو د اصطلاح له معنی سره اختلاف ولري، نو بیا یې کارول نه دي روا، لکه د «اجتماعي عدالت» کلمه، چې دا د ټاکلي نظام په معنی ده، چې یوازې د بېوزلو، کارګرانو او مامورینو لپاره د تعلیم او تطبیب تضمین کوي. دغه اصطلاح د مسلمانانو له اصطلاح سره توپیر لري، ځکه د مسلمانانو په نزد عدل د ظلم ضد کلمه ده او په اسلام کې تعلیم او تطبیب د ټولو لپاره مساوي دی. هغه که غني وي او که فقیر او د محتاج او ضعیف د حقونو تضمین د ټولو هغو خلکو حق دی چې د اسلامي دولت تابعیت ولري؛ هغه که مامورین وو او که نه وو، که کارکوونکي، کروندګر او یا نور وو. که د دوی په اصطلاح معنی د مسلمانانو له اسلامي فکر سره ټکر نه درلود، بیا پروا نه کوي او کارول یې جواز لري، لکه د محصول کلمه چې هغه مال ته ویل کېږي چې له خلکو څخه د دولت د ادارې لپاره اخیستل کېږي. د مسلمانانو په نزد هم داسې مال شته چې دولت یې له خلکو څخه د مسلمانانو د ادارې لپاره اخلي. نو له دې امله د محصول کلمې کارول جواز لري. همدا راز د دستور او قانون کلمې چې هغو ټاکلو احکامو ته ویل کېږي چې دولت یې تبني کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلکو ته يې ښکاره کوي او د خلکو عمل هم وربانديې لازمي کوي له همدې امله حکم وربانديې کوي، دا معنی مسلمانان هم لري. نو له همدې امله داسې څه نشته چې د قانون او دستور د کلمو له کارولو څخه مو منع کړي او زموږ معنی ورڅخه هغه احکام دي چې خليفه يې له شرعي احکامو څخه تبني کوي. دلته له نورو دستورونو او قوانينو سره د اسلامي دستور او قوانينو يو څه توپير رامنځته کېږي، چې د نورو قوانينو مصدر عادات، د محاکمو احکام او... او منشأ يې هغه جمعيت دی چې د دستور د جوړولو لپاره تاسيس شوی وي اويا هم له ولس څخه ټاکل شوي مجالس دي چې قوانين جوړوي. ولس د دوی په نزد د واک مصدر دی او سيادت هم د ولس دی. خو د اسلامي دستور او اسلامي قوانينو مصدر کتاب او سنت دي نه بل څه او منشأ يې د مجتهدينو اجتهاد دی چې خليفه ورڅخه ټاکلي احکام تبني کوي، د هغو په عملي کولو امر کوي او په خلکو يې هم پيروي لازمېږي. دلته سيادت د شرعې دی، د شرعي احکامو د را ايستلو لپاره اجتهاد د ټولو مسلمانانو حق دی او پر دوی کفايي فرض دی او پر خليفه يوازې د شرعي احکامو د تبني کولو حق دی.

دا د دستور او قانون د کلمو د کارولو د جواز په اړه وو. اما دا چې د احکامو تبني کول يوه مهمه اړتيا ده، نو هغه داسې چې د ابو بکر صديق رضی الله عنه له وخته تر وروستي مسلمان خليفه پورې د ټاکلو احکامو د تبني کولو اړتيا وه چې مسلمانانو ته د هغو په عملي کولو امر کېده. خو دغه تبني د ځانګړو احکامو لپاره وه او د ټولو او عامو احکامو لپاره نه وه چې دولت حکم وربانديې کوي. هېڅکله دولت عام احکام نه دي تبني کړي مګر په ځينو وختونو کې، يوازې ايوبيانو د امام شافعي مذهب تبني کړی او عثمانيانو د امام ابوحنيفه مذهب تبني کړی و.

دلته چې کومه پوښتنه راولاړېږي دا ده چې آيا دا د مسلمانانو په مصلحت ده چې ټول او عام قانون يا دستور ورته جوړ شي او که نه؟ د دې ځواب دا دی چې شامل او عام قوانين له نوښت او اجتهاد پرته نه شي جوړېدلی، نو له دې امله په لومړيو کې يعنې د صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو په دورو کې مسلمانانو له دا ډول کړنې څخه ډډه کړې ده. خليفه د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمونو تبني نه کوله، يوازې هغه ټاکلي احکام به يې تبني کول چې له هغو پرته به بله چاره نه وه، ترڅو حکم، تشريع او اداره واحده وي. سره له دې دا تر ټولو ښه ده چې دولت د ټولو احکامو لپاره يو شامل دستور ونه لري، ځکه د نوښت او اجتهاد لپاره به يې لاره پرانيستې وي. کېدای شي چې د عامو احکامو داسې يو دستور ولري، چې د دولت شکل پکې ټاکل شوی وي، د يووالي او پايښت لپاره يې تضمين پکې شوی وي. نور اجتهاد قاضيانو او واليانو ته پرېښودل کېږي، بې له دې چې که اجتهاد ورته آسانه وي او خلک مجتهدين وي لکه د صحابه وو، تابعينو او تبع تابعينو پر مهال. اما هر کله چې ټول خلک مقلدين وي او په دوی کې مجتهدين ډېر لږ وي، نو پر دولت دا حتمي ده چې هغه احکام چې پر خلکو دوی حکم کوي، تبني کړي. برابره خبره ده هغه که خليفه، واليان او که قاضيان وي، پر ما انزل الله حکم د واليانو او قاضيانو له خوا سختېږي، ځکه چې دوی اجتهاد نه کوي او بېلابېل او متناقض تقليد ته مخه کوي. تبني هغه وخت کېدای شي چې حادثه له معرفت او د دليل له پېژندنې سره سمه وڅېړل شي. سره له دې په واحد دولت او يوه خاوره کې د قاضيانو او واليانو پرېښودل خپل ځانګړي اجتهاد ته د احکامو د اختلاف او تناقض لامل کېږي او بالاخره د دې لامل کېږي چې پر غير ما انزل الله امر وکړي. له همدې امله د اسلامي احکامو تبني کول پر اسلامي دولت لازمي دي. اوسمهال پر اسلام ټول امت د جهل او ناپوهۍ په حالت کې دی او دا اړينه ده چې ټاکلي احکام ورته تبني شي. دا تبني به په عقوباتو، عقايدو او عباداتو کې نه، بلکې په معاملاتو کې به وي او دغه تبني به د ټولو احکامو لپاره عامه وي، ترڅو د دولت چارې لا مضبوطې کړي او د ټولو مسلمانانو چارې د الله سبحانه وتعالى له احکامو سره سمې آسانه کړي. دا پر دولت لازمه ده چې د احکامو د تبني کولو پر مهال او يا د دستور او قوانينو د جوړولو پر مهال يوازې پر شرعي احکامو باندې تقيد وکړي او له نورو څخه څه وا نه خلي. په مطلق ډول به له نورو څخه څه نه زده کوي. بې له شرعي احکامو څخه به بل هېڅ نه اخلي، هغه که له اسلام سره موافق او يا هم مخالف وي. نو دا په امت پورې نه ځانګړې کېږي، بلکې حکم د عامو خلکو ملکيت بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. نو له همدې امله واجبه ده چې احکام په شريعت پورې مقيد وي او دغه تقيد به هم په فکره او هم طريقه کې وي. اما هغه قوانين او نظامونه چې په فکره او طريقه پورې تړاو نه لري، په هغو کې کوم ځانګړې نظر نشته لکه اداري قوانين، د ادارو ترتيب او نور هغه څه چې دې ته ورته وي او له دې وسيلې او اسلوب څخه ګڼل کېږي، هغه لکه علوم، تکنالوژي او فنون چې دولت يې تر لاسه کوي او د خلکو چارې ورباندې منظموي، لکه عمر بن خطاب رضی الله عنه چې د خپل خلافت پر مهال دېوانونه جوړ کړل او هغه يې له فارس څخه واخيستل. اداري او فني توکي د دستور او شرعي قوانينو برخه نه بلل کېږي، نو په دستور کې هم ځای نه ورکول کېږي. له دې امله پر اسلامي دولت دا واجب ده چې دستور يې له شرعي احکامو څخه جوړ شوی وي. يعنې دستور يې اسلامي وي او قانون يې هم اسلامي وي. کله چې کوم حکم تبني کوي، نو هغه بايد د شرعي دليل د قوت له مخې تبني کړي، سره له دې چې له هغې ستونزې څخه يې بشپړه پوهه لرلې وي. له دې امله دا پر دولت ده چې ستونزې تدريس کړي، ترڅو لومړی ورباندې پوه شي، ځکه د ستونزې پېژندل اړين کار دی. وروسته يې بايد شرعي حکم وموندل شي چې پر دغه ستونزه پلی شي، بيا همدغه شرعي حکم بايد وښودل شي او وروسته دغه حکم د دليل د قوت پر بنسټ تبني شي. وروسته له دې چې په دې پوه شي چې دا دليل دی او په قوت يې هم ډاډ پيدا کړي، دغه شرعي احکام به يا د مجتهد له نظر څخه واخيستل شي او يا له کتاب، سنتو، اجماع او قياس څخه چې هغه به هم د شرعي اجتهاد له مخې وي، آن که هغه جزيي او يا هم د مسئلې اجتهاد وي. که مثلاً د جنس تضمين (بيمه) منع تبني شي، نو لومړی بايد دا وښودل شي چې د جنس تضمين څه دی او وپېژندل شي. بيا بايد د تملک وسايل زده شي، بيا به په ملکيت کې د جنس په تضمين (تأمين على البضاعة) کې د الله سبحانه وتعالی حکم پلی کېږي او دا ډول به شرعي حکم تبني کېږي. له همدې امله يوه دستور او قانون ته ښايي چې يوه سريزه ولري، ترڅو هغه مذهب چې هغه مادې ورڅخه پکې اخيستل شوې وي په څرګند ډول له هغه دليل سره يو ځای تشريح کړي چې باور ورباندې شوی او دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



واضح کړي چې په دغه دليل له دغه حکم څخه دغه ماده جوړه شوې ده، په داسې حال کې چې اجتهاد يې صحيح وي. ترڅو مسلمانان په دې پوه شي چې هغه قوانين او مادې چې په دستور کې تبني شوې دي، شرعي احکام دي؛ چې په صحيح اجتهاد سره استنباط شوې دي، ځکه پر مسلمانانو د هغه دولت پيروي نه لازمېږي چې له شرعي احکامو پرته بل څه تبني کړي. نو پر همدغه اساس دولت شرعي احکام د دستور او قوانينو په توګه تبني کوي، ترڅو د هغه پر اساس د اسلامي دولت پر اتباعو حکم وکړي.

مثلاً مسلمانانو ته په اسلامي نړۍ کې د اسلامي دولت دستور په لاندې ډول وړاندې کوو، ترڅو هغه مسلمانان چې د اسلامي دولت د جوړولو لپاره کار کوي او نړۍ ته اسلامي دعوت رسوي، هغه زده کړي. د يادونې وړ ده چې دغه دستور ته د يوه ټاکلي هېواد د ځانګړي شوي دستور په سترګه ونه کتل شي، بلکې دا په ګرده اسلامي نړۍ کې د اسلامي دولت دستور دی او کومې ځانګړې سيمې او هېواد ته نه خاص کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خلافت دولت دستور

دا د خلافت د دولت د دستور مسوده ده، چې مسلمانانو ته په داسې حال کې وړاندې شوې چې د خلافت د دولت د تاسیس او د ما انزل الله د حاکمولو لپاره کار او فعالیت کوي، تر څو د اسلامي دولت له واقعیت، ډول، نظامونو او له هغه څه څخه چې د اسلامي نظامونو او احکامو په پلي کولو پورې اړه لري، یو بشپړ تصویر ایجاد کړای شي.

دا دستور یو اسلامي دستور دی چې له اسلامي عقیدې څخه رامنځته شوی او له شرعي احکامو څخه د دلیل د قوت پر بنسټ اخیستل شوی دی. په یقیني توګه د هغه په اخیستلو کې په د الله تعالی پر کتاب، سنتو، د صحابه وو پر اجماع او قیاس اعتماد شوی دی؛ ځکه نو دا دستور اسلامي دی نه بل څه او هیڅ غیر اسلامي څه پکې نشته. همدا راز دا دستور په یوه ټاکلې جغرافیه یا ټاکلي هېواد پورې خاص نه دی، بلکې په اسلامي نړۍ، آن په ټوله نړۍ کې د خلافت دولت دستور دی، ځکه د خلافت دولت به د اسلام نور او هدایت ټولې نړۍ ته ولېږدوي او د هغې د چارو د سرپرستۍ، له خپل ځان سره د هغې د یو ځای کولو او پر هغوی د اسلام د پلي کولو لپاره کار کوي.

حزب التحریر دا مسوده مسلمانانو ته وړاندې کوي او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړي، ترڅو ورته کرامت ورکړي او هغه موخې ته چې د خلافت تاسیس او پر ماانزل الله حکم دی، ورسیږي؛ څو په پایله کې دا دستور د خلافت دولت اساسي قانون وګرځي او پلی کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عامه احکام

## ۱ ماده:

اسلامي عقیده د اسلامي دولت اساس او بنسټ دی، د دولت جوړښت، شکل، حسابي چارې او هرڅه باید له اسلامي عقیدې سره سم ترتیب شي، همدارنګه د دستور او ټولو شرعي قوانینو اساس باید اسلامي عقیده وي او هېڅ داسې څه باید پکې داخل نه شي چې له اسلامي عقیدې سره په ټکر کې وي.

## ۲ ماده:

دارالاسلام هغه دی چې اسلامي احکام پکې پلي کېږي، امن او امان یې په اسلام پورې تړلي وي. دارالکفر هغه دی چې کفري مقررات پکې پلي کېږي او امن او امان یې په اسلام پورې نه وي تړلي.

## ۳ ماده:

خلیفه ټاکلي شرعي احکام تبني کوي او د قانون او مقرراتو په توګه یې وضع کوي، کله چې خلیفه شرعي حکم تبني کړي همدغه بیا داسې شرعي حکم بلل کېږي چې عمل پرې واجب دی. د امت پر هر وګړي لازمه ده، چې د قانون په توګه یې په ظاهر او باطن کې ومني او عملي یې کړي.

## ٤ ماده:

خلیفه له زکات او جهاد پرته نور د عباداتو اړوند هر حکم نه تبني کوي او نه هم د اسلامي عقیدې کوم ځانګړی فکر تبني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۵ ماده:**

ټول هغه خلک چې اسلامي تابعیت ولري، د اسلامي دولت له ټولو شرعي حقوقو او واجباتو څخه برخمن کېږي.

**٦ ماده:**

دولت ته روا نه ده چې د حکم، قضا، د چارو په سرپرستۍ او دې ته ورته نورو برخو کې د خپل رعیت د وګړو ترمنځ توپیر وکړي، بلکې دولت ته لازمه ده، چې له نژادي، مذهبي او ژبني تعصب پرته ټولو ته په یوه سترګه وګوري.

**۷ ماده:**

دولت پر ټولو هغو وګړو چې د اسلامي دولت تابعیت ولري پرته له دې چې هغوی مسلمانان دي او که غیر مسلمانان په لاندې ډول شرعي احکام پلي کوي:

الف- له هر ډول استثنا پرته پر مسلمانانو ټول شرعي احکام پلي کوي.

ب- د عام نظام په پام کې نیولو سره غیر مسلمان خلک خپلې عقیدې او عبادت ته پرېښودل کېږي.

ج- له اسلام څخه په مرتد شوو کسانو د مرتد حکم پلی کېږي. خو د هغوی اولادونه او هغه کسان چې په غیرمسلمان ډول وزیږیږي، له هغوی سره د غیرمسلمان چلند کېږي او د هغوی د اصلي حالت یعنې مشرکینو او اهل کتابو له وضعیت سره سمه معامله کېږي.

د- د خوراک او پوښاک په اړوندو چارو کې له غیرمسلمانو سره د شریعت په رڼا کې د هغوی له دینونو سره سم چلند کېږي.

ه- د زوجیت او طلاق په اړوندو چارو کې د غیر مسلمانانو ترمنځ د هغوی له دین سره سمه معامله کېږي او په دې چارو کې د مسلمانانو او غیر مسلمانانو ترمنځ بیا له اسلامي احکامو سره سمه فیصله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و- له ذکر شوو احکامو پرته نور شرعي احکام او د اسلامي شريعت نورې چارې لکه معاملات، عقوبات، حکم او اقتصاد دا ټول په مسلمانانو او غيرمسلمانو باندې يو ډول عملي کوي، همدارنګه همدغه احکام په ټولو هغو کسانو هم عملي کېږي چې له اسلامي دولت سره معاهده ولري او يا يې ورسره پناه اخيستې وي او يا يې په اسلامي دولت کې ژوند غوره کړی وي. مګر سفيران، قونسلان او نور استازي مستثنا دي او ډيپلوماتيک مصوونيت لري.

**۸ ماده:**

يوازې عربي ژبه اسلامي ژبه ده او دولت به هم يوازې عربي ژبه کاروي.

**۹ ماده:**

اجتهاد کفايي فرض دی، هر مسلمان چې د اجتهاد شرايط ولري، حق لري چې اجتهاد وکړي.

**۱۰ ماده:**

ټول مسلمانان د اسلام مسووليت يو ډول پر غاړه لري، ځکه نو په اسلام کې د دين خلک نه دي ټاکل شوي او دولت ته لازمه ده، ترڅو پرهېزدي چې ديني مسووليت يوازې د دين په نامه خلکو ته ورپاتې شي.

**۱۱ ماده:**

د دولت اساسي دنده د اسلامي دعوت رسول دي.

**۱۲ ماده:**

د شرعي احکامو معتبر دليلونه يوازې قران کريم، سنت، د صحابه وو اجماع او قياس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۳ ماده:**

په اسلام کې برائت الذمه اصلي حالت دی او هیڅ ته د محکمې له حکم پرته جزا نه ورکول کیږي، د یو چا تعذیب په مطلقه توګه جواز نه لري او که چا دا کار وکړ باید جزا ووینې.

**۱٤ ماده:**

په افعالو کې اصل پر شرعي احکامو تقید دی، تر هغه باید یو عمل تر سره نه شي څو یې چې حکم ونه پېژندل شي او په شیانو کې اصل اباحت دی، تر هغه چې د تحریم دلیل یې نه وي راغلی.

**۱۵ ماده:**

د حرامو لپاره وسیله حرامه ده، د حرامو وسیله چې دا ګومان پکې غالب وي چې حرامو ته رسیږي، حرامه ګڼل کیږي او که ګومان غالب نه وي؛ بلکې ویره وي چې حرامو ته رسیږي بیا حرامه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حکومتولی نظام

## ۱۶ ماده:

حکومتي نظام د وحدت (واحد) نظام دی، نه اتحادي.

## ۱۷ ماده:

حکومت مرکزي دی او اداره غیر مرکزي ده.

## ۱۸ ماده:

حاکمان څلور دي: خلیفه، تفویضي مرستیال، والي، عامل او هغه کسان چې د هغوی په حکم کې وي. اما له دې پرته نور حکام نه، بلکې ټول موظفین دي.

## ۱۹ ماده:

جایزه نه ده چې د حکم او په حکم پورې د اړونده چارو واک، عاقل، بالغ، عادل او د اهل کفایت له کسانو پرته نور څوک پر غاړه واخلي او دا هم جایزه نه ده، چې له مسلمان پرته بل چا ته وسپارل شي.

## ۲۰ ماده:

له حکامو سره محاسبه د مسلمانانو حق او کفایي فرض دی، غیر مسلمانان چې د اسلامي دولت رعیت وي، د حاکم له ظلم او پر هغوی د اسلامي احکامو له ناوړه پلي کېدو څخه شکایت کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۱ ماده:

مسلمانان حق لري چې د حکامو د محاسبې او د امت له لارې حکم ته د رسیدو لپاره سیاسي احزاب تاسیس کړي، خو شرط به یې دا وي چې د حزب بنسټ به اسلامي عقیده وي او همدارنګه د هغوی له خوا تبني کېدونکي احکام باید شرعي وي. د حزب د جوړولو لپاره کوم جواز ته اړتیا نشته او د داسې احزابو جوړول چې بنسټ یې له اسلام پرته بل څه وي، منع دي.

## ۲۲ ماده:

حکومتي نظام پر لاندې څلورو قاعدو ولاړ دی:

۱. سیادت (حاکمیت) د شریعت دی، نه د خلکو.

۲. واکې (سلطه) باید له امت سره وي.

۳. د واحد خلیفه ټاکل پر مسلمانانو فرض دي.

٤. یوازې خلیفه حق لري چې شرعي احکام تبني کړي او په خپله خلیفه به دستور او قوانین وضع کوي.

## ۲۳ ماده:

دولت له دیارلسو جهازونو څخه جوړ شوی دی:

۱. خلیفه

۲. مرستیالان (تفویضي وزیران)

۳. تنفیذي وزیران

٤. والیان

۵. د جهاد امیر

٦. کورنی امنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷.بهرنۍ چارې

۸. صنعت

۹. قضا

۱۰. د خلکو مصالح

۱۱. بيت المال

۱۲. مطبوعات (رسنۍ)

۱۳. د امت مجلس (شورى او محاسبه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلیفه

## ۲۴ ماده:

خلیفه د شریعت په پلي کولو او سلطه کې د امت نایب دی.

## ۲۵ ماده:

خلافت د خوښې او رضایت عقد دی، هیڅوک د هغه پر منلو او اختیارولو نه مجبوریږي.

## ۲۶ ماده:

هر عاقل او بالغ مسلمان که نارینه وي او که ښځینه د خلیفه په ټاکلو او بیعت کولو کې حق لري او غیر مسلمان بیا دا حق نه لري.

## ۲۷ ماده:

کله چې د خلافت عقد د انعقاد له بیعت سره سم له یو چا سره وشي، په دې صورت کې پر پاتې کسانو د اطاعت بیعت لازم دی او ټول هغه خلک پر بیعت کولو مجبوریږي چې د سرغړاوي او د مسلمانانو د صف ړنګولو ویره ترې کیږي.

## ۲۸ ماده:

هیڅوک تر هغه خلیفه نه شي کیدای، ترڅو چې مسلمانانو نه وي ټاکلی او هیڅوک تر هغه د خلافت صلاحیتونه په لاس کې نه شي اخیستلای، ترڅو چې په شرعي توګه د نورو اسلامي عقدونو په څیر د خلافت عقد له هغه سره نه وي منعقد شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۹ ماده:

په هغه سیمه کې چې له خلیفه سره د انعقاد بیعت کیږي، باید هلته قدرت ذاتي بڼه ولري او باید یوازې له مسلمانانو سره وي، نه له کوم کفري هیواد سره، همدارنګه په هغه ځای کې باید د مسلمانانو کورنی او بهرنی امان اسلامي وي، نه کفري. مګر د طاعت په بیعت کې دا ډول شرایط اړین نه دي.

### ۳۰ ماده:

هغه څوک چې د خلافت بیعت ورسره کیږي، باید د انعقاد شرایط پوره کړي، که څه هم د افضلیت شرطونه یې نه وي پوره کړي، ځکه د انعقاد شرطونو ته اعتبار ورکول کیږي، نه د افضیلت شرطونو ته.

### ۳۱ ماده:

د خلیفه لپاره د انعقاد شرایط په لاندې ډول دي:

- خلیفه باید نارینه وي
- مسلمان وي
- آزاد وي
- بالغ وي
- عاقل وي
- قادر وي
- عادل وي
- اهلیت او وړتیا ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۳۲ ماده:

که  د خلافت منصب د خلیفه په مړینه، استعفا او یا هم عزل کېدو سره تش شي، واجب ده چې له هغه نېټې څخه تر دریو ورځو او شپو پورې بل خلیفه وټاکل شي.

## ۳۳ ماده:

موقت امیر باید تعین شي تر څو د مسلمانانو چارې سنبال کړي او د خلافت د منصب له خالي کېدو وروسته د نوي خلیفه د ټاکلو چارې په لاندې ډول تر سره کړي:

الف. کله چې خلیفه د اجل نږدیوالی یا له قدرت څخه د لیرې کیدو تصمیم احساس کړي، دا صلاحیت لري چې موقت امیر وټاکي.

ب. که خلیفه د موقت امیر تر ټاکلو وړاندې وفات یا عزل شي او یا هم د خلافت منصب د عزل او وفات له لامل پرته د بل څه له امله خالي شي، د خلیفه له مرستیالانو څخه به هغه موقت امیر ټاکل کېږي، چې د لوړ عمر خاوند وي؛ خو که هغه خپله د خلافت لپاره نوماند وي په دغه حالت کې به بل هغه مرستیال چې لوړ عمر ولري، د موقت امیر په حیث ټاکل کېږي. په همدغه ترتیب د لوړ عمر څښتن د موقت امارت لپاره لومړیتوب لري.

ج. که د تفویض ټول مرستیالان د خلافت د مقام لپاره د نوماندۍ اراده ولري، په دغه حالت کې به د تنفیذي معاونینو له ډلې څخه په ترتیب سره د لوړ عمر څښتن د موقت امیر په توګه ټاکل کېږي.

د. په هغه حالت کې چې ټول تنفیذي مرستیالان د خلافت لپاره نوماند وي، موقت امارت په دوی کې هغه کس ته ورکول کېږي، چې تر ټولو لږ عمر ولري.

ه. موقت امیر د شرعي احکامو د تبني کولو صلاحیت نه لري.

و. موقت امیر باید په دریو ورځو کې د نوي خلیفه د ټاکلو د پروسې د بشپړېدو لپاره خپله ټوله وړتیا وکاروي او د دغه وخت (دریو ورځو) تمدید جواز نه لري، خو که داسې لامل وي چې غلبه ورباندې ناشونې وي او د مظالمو محکمه توافق ورسره ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳۴ ماده:

د خليفه د ټاکلو طريقه بيعت دی. مګر د خليفه د ټاکلو عملي چارې او بيعت په لاندې ډول تر سره کېږي:

الف. د مظالمو محکمه د خلافت د منصب خالي کيدل اعلانوي.

ب. موقت امير په فوري توګه خپله وظيفه په غاړه اخلي او د خلافت د مقام نوماندي اعلانوي

ج. د مظالمو محکمه د يو قرار په ترڅ کې د هغه نوماندانو غوښتنې چې د انعقاد شرطونه يې پوره کړي وي مني او د هغو نوماندانو غوښتنې چې د انعقاد شرطونه يې نه وي پوره کړي ردوي.

د. د امت مجلس د هغه نوماندانو شمېر چې د مظالمو محکمې له خوا تعين شوي د لاندې دوو مرحلو په ترڅ کې محدودوي:

لومړی: له دوی څخه شپږ نوماندان د رايو په اغلبيت سره ټاکل کېږي.

دويم: د شپږو نوماندانو له ډلې څخه دوه کسه د خلافت د مقام لپاره د نوماند په توګه ټاکل کېږي.

هـ. د دواړو نوماندانو نومونه اعلانېږي او له مسلمانانو څخه غوښتل کېږي ترڅو له هغوی څخه يو انتخاب کړي.

و. د انتخاباتو پايلې اعلانېږي او مسلمانان هغه نوماند چې اکثريت رايې يې خپلې کړې پېژني.

ز. مسلمانان له هغه نوماند سره چې ډېرې رايې يې وړې دي، د خليفه په توګه د دې لپاره بيعت کوي چې د الله پر کتاب او د رسول صلی الله عليه وسلم پر سنتو عمل وکړي.

ح. د بيعت له پوره کېدو وروسته هغه څوک چې خليفه وټاکل شو، د هغه نوم او هغه صفات چې د ده د خليفه کېدو لامل شول په عام محضر کې اعلانېږي، ترڅو د خليفه د ټاکل کيدو خبر ټول امت ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ط. د نوي خليفه د انتخاب د پروسې له بشپړېدو سره سم د موقت امير ولايت پای ته رسېږي.

## ۳۵ ماده:

امت د خليفه د ټاكلو حق لري، مگر د ليرې كولو حق يې كه چيرې د انعقاد بيعت په شرعي توگه تر سره شوی وي، نه لري.

## ۳۶ ماده:

د خليفه صلاحيتونه په لاندې ډول دي:

الف. خليفه هغه څوک دی چې د امت د چارو د سنبالولو لپاره هغه لازم او شرعي احكام تبني كوي، چې په سم اجتهاد سره د الله متعال له كتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم له سنتو څخه استنباط شوي دي او د داسې قوانينو بڼه غوره كوي چې اطاعت يې واجب او مخالفت يې ناروا دی.

ب. همدغه خليفه د دولت د كورني او بهرني سياست دنده پر غاړه لري او لښكر رهبري كوي، د جگړې اعلان، د سولې عقد، معاهداتو او اوربند حق له خليفه سره دی.

ج. خليفه د بهرنيو سفيرانو د منلو او ردولو حق لري، همدارنگه د مسلمانانو د سفيرانو ټاكلو او عزل كولو صلاحيت لري.

د. همدا خليفه واليان او مرستيالان ټاكي او يا يې لرې كوي او هغوی ټول لكه څنگه چې د امت مجلس ته مسوول دي، د خليفه پر وړاندې هم مسووليت لري.

هـ. خليفه هغه څوک دی چې قاضی القضات او نور قاضيان ټاكي او عزل كوي يې، مگر د مظالمو قاضي په هغه وخت كې نه شي ټاكلی او عزل كولی، چې د خليفه، د هغه د معاونينو او قاضی القضات پر وړاندې قضيې څېړي. همدا راز خليفه د ادارو مشران، د لښكر قوماندانان او د بيرغ مشران ټاكي او هغوی ټول د خليفه په وړاندې مسووليت لري، نه د امت د مجلس پر وړاندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. خلیفه هغه شرعي احکام تبني کوي چې له مخې یې د دولت بودیجه ټاکل کېږي، خپله خلیفه د هغو پیسو او مصارفو اندازه ټاکي چې د هرې برخې لپاره لازم وي، پرته له دې چې هغه په عایداتو پورې اړه ولري یا په مصارفو پورې.

## ۳۷ ماده:

خلیفه په تبني کې پر شرعي احکامو مقید دی، ده ته حرامه ده چې داسې حکم تبني کړي چې له شرعي دلایلو څخه په سمه توګه نه وي استنباط شوی. هغه پر احکامو او پر هغه طریقه مقید دی چې احکام وربانديې تبني کوي. نوموړي ته جایز نه ده، چې په داسې طریقه حکم تبني کړي چې تبني له شرعي طریقې سره ټکر ولري او نه داسې حکم کولی شي چې له تبني شوي حکم سره په ټکر کې وي.

## ۳۸ ماده:

خلیفه د رعیت د چارو په سنبالولو کې مطلق صلاحیت لري، چې له خپل اجتهاد او رایې سره سم هغه سنبالوي، هغه کولای شي چې هغه مباحات تبني کړي چې د دولت او رعیت په چارو کې ورته اړتیا لري، هغه ته جایز نه دي چې د مصلحت په نامه له شرعي حکم څخه سرغړونه وکړي، د ساري په ډول هغه نشي کولای د خوراکي موادو د کموالي له امله یوه کورنۍ له یوه ماشوم څخه د زیاتو ماشومانو له زیږونې څخه منع کړي او نه پر خلکو باندې د استثمار او ناوړه استفادې څخه د ډېره کولو په پلمه د نرخ د ټاکلو له امله سختي راوستی شي او نه هم د مصلحت او د چارو د سنبالولو په خاطر کافر او یا ښځه والي کولای شي او نه دې ته ورته نور غیر شرعي کارونه سرته رسولای شي. هغه حق نه لري چې حلال حرام او حرام حلال وګرځوي.

## ۳۹ ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلیفه ټاکلې موده نه لري، ترڅو چې خلیفه د شریعت ساتونکی او د شرعي احکامو تنفیذوونکی وي او دولتي چارې پر مخ بېولای شي، د خلیفه په توګه پاتې کېږي، تر هغه چې حالت یې داسې بدلون ونه مومي چې له خلافت څخه یې وباسي او که د ده حالت له دغه حالت سره سم بدلون وموند، عزل یې واجب کېږي.

## ۴۰ ماده:

هغه څه چې د خلیفه حالت ته په داسې بڼه بدلون ورکوي، چې له خلافت څخه د وتلو لامل ګرځي لاندې درې څېزونه دي:

۱. د انعقاد له شرطونو څخه د یوه شرط کمېدل، د بیلګې په توګه ارتداد، ښکاره فسق او جنون او یاهم د دې په څېر؛ ځکه چې دا شروط هم د انعقاد شرطونه دي او هم د استمرار.

۲. د هر سبب له امله داسې عجز او ناتواني چې د هغه په موجودیت سره د خلافت مسوولیت نه شي ادا کېدای.

۳. داسې فشار چې خلیفه په خپل فکر له دې نه عاجز کړي چې د مسلمانانو چارې له شریعت سره سمې پر مخ یوسي، دغه حالت د ده د عزل کېدو لامل ګرځي، د بیلګې په توګه که خلیفه د بل چا له لوري تر داسې فشار لاندې راوستل شي چې د ده د نظر مطابق د رعیت چارې له شریعت سره سمې پر مخ نه شي وړلی، په دغه حالت کې خلیفه په حکمي ډول د دولت د مسوولیت له ادا کولو نه عاجز شوی دی، چې په پایله کې د ده د عزل کېدو لامل ګرځي او دغه مسله په لاندې دوو حالتونو کې را منځته کېږي:

### لومړی حالت:

دا چې په خلیفه له خپلو نیږدې افرادو څخه یو یا څو داسې مسلط شي چې د چارو په اجرا کې استبداد رامنځته کړي، که له تسلط څخه د خلیفه د خلاصون شونتیا موجوده وي، نو یو ټاکل شوی مهلت ورکول کېږي، خو که د هغه د خلاصون شونتیا موجوده نه وي په نوموړي حالت کې خلیفه فورا ګوښه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويم حالت:**

دا چې خليفه د قوي دښمن په اسارت کې ولوېږي، يا بالفعل اسير شوی وي يا هم د دښمن تر سلطې لاندې داسې واقع شوی وي چې د اسير حکم ورته کېږي، په دغه حالت کې که د خلاصون هيله شتون ولري، بايد مهلت ورکړل شي او که د خلاصون لپاره يې هيله پاتې نه شي، نو له قدرته لرې کېږي، که له اول نه يې د خلاصون هيله نه وه، نو فورا بايد خلع شي.

**۴۱ ماده:**

د مظالمو محکمه يوازينۍ مرجع ده چې د خليفه د حالت بدلون د دې لپاره چې د هغه د عزل کېدلو لامل کېږي او که نه، ثابتوي. يوازې همدغه مرجع د خليفه د ليرې کولو او انذار صلاحيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تفویضي مرستیال

## ۴۲ ماده:

خلیفه د ځان لپاره یو یا څو تفویضي مرستیالان ټاکي، چې د حکومت مسوولیت پر غاړه واخلي، هغه ته د چارو د تدبیر صلاحیت تفویض کېږي چې له خپلې رایې او نظر سره سم د هغه د اجتهاد پر بنسټ باید پر مخ یووړل شي.

## ۴۳ ماده:

د تفویضي مرستیال لپاره هغه شرطونه لازمي دي، چې د خلیفه لپاره لازم دي. هغه دا چې تفویضي مرستیال باید نارینه، آزاد، مسلمان، بالغ، عاقل، عادل، قادر او هم د ورسپارل شوو دندو د پر مخ وړلو کفایت ولري.

## ۴۴ ماده:

تفویضي مرستیال ته د چارو په سپارلو کې دوه ټکي په پام کې نیول شرط دي: لومړی: عمومي صلاحیت دویم: له خلیفه څخه نیابت، ځکه نو واجب ده چې خلیفه ورته ووایي چې تا ته مې د خپل ځان په نیابت هغه چارې سپارلې، چې ما ته راکړل شوې دي او یا په داسې نورو الفاظو کې ورته ویل کېږي چې دغه مفهوم ورسوي. د صلاحیت دا ډول تفویض خلیفه ته د دې شونتیا ورکوي، ترڅو خپل مرستیالان ټاکل شوو ځایونو ته ولېږي او یا یې هم له یوې سیمې نه بلې ته یا له یوه کار نه بل کار ته چې د خلیفه له معاونیت سره سمون لري انتقال کړي، پرته له دې چې نوموړي الفاظ بیا تکرار کړي، ځکه دا ټول کارونه په لومړني تعین کې ګډون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۴۵ ماده:

تفويضي مرستيال ته لازمه ده چې خليفه په هغه چارو خبر کړي چې نوموړی يې تدبير نيسي او اجرا کوي يې، تر څو په صلاحيتونو کې د خليفه په شان نه شي، هغه ته دا هم لازمه دي چې هغه څه ترسره کړي چې امر ورته کيږي.

### ۴۶ ماده:

پر خليفه لازم دي چې د تفويضي مرستيال چارې وڅيړي، تر څو له سمو چارو سره يې هوکړه وکړي او خطا يې په گوته کړي، ځکه د امت د چارو مسووليت د خليفه پر غاړه دی او د هغه په اجتهاد او رايې پورې اړه لري.

### ۴۷ ماده:

که چيرې تفويضي مرستيال د يوه کار په اړه تدبير ونيسي او خليفه هم هوکړه ورسره وکړه، بيا مرستيال ته لازمه ده چې نوموړی کار د خليفه له موافقې سره سم عملي کړي، څه زياتی او کمی پکې رانه ولي او که خليفه بېرته له خپلې رايې څخه واوښت او له هغه څه سره يې مخالفت وکړ چې مرستيال تر سره کړي، په دغه صورت کې موضوع څېړل کيږي، که دا کار په حکم کې و، نو که معاون هغه په مناسب ډول نافذ کړی وي او که د مال په اړه و چې معاون هغه په مناسب ځای کې مصرف کړی وي، نو په دغه حالت کې د معاون رايه او نظر نافذ دی؛ ځکه دا په اصل کې د خليفه نظر دی او خليفه حق نه لري چې نافذ احکام او مصرف شوي اموال مسترد کړي. که هغه څه چې مرستيال ترسره کړي وو له ذکر شوو مسايلو نه پرته بل څه وو، د بيلگې په توگه د والي تقرر يا د لښکر لېږل، نو خليفه ته جايز دي چې د مرستيال نظر ونه مني، په دغه حالت کې د خليفه نظر نافذ او د مرستيال کار لغوه کيږي، ځکه په دې برخه کې خليفه حق لري چې خپل عمل او فيصله هم مسترده کړي، نو د دې حق خو په اولی توگه لري چې د معاون کار او فيصله مسترده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴۸ ماده:**

تفویضي مرستیال په هیڅ دولتي اداره پورې خاص نه دی، ځکه د هغه صلاحیتونه پراخ او عام دي او هغه کسان چې اداري چارې په مستقیم ډول ترسره کوي حکام نه، بلکې اجیران دي او تفویضي مرستیال حاکم دی او له کارونو څخه کوم خاص مسوولیت نه لري، بلکې د ده سرپرستي او نظارت په عمومي ډول پر ټوله اداري دستگاه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنفيذي مرستيال

## ۴۹ ماده:

خلیفه د اجرایي چارو لپاره مرستیال ټاکي، چې د هغه کار به اداري چارې سرته رسول وي او د حکم کولو صلاحیت نه لري، بلکې تنفیذي مرستیال به هغه څه عملي کوي چې خلیفه یې په داخلي او خارجي چارو کې صادروي. همدارنګه د دغو شوو برخو په اړه خلیفه ته خبر ورکوي، تنفیذي مرستیال د خلیفه او نورو تر منځ واسطه دی، چې د خلیفه فرمانونه نورو ته او د نورو چارې خلیفه ته په لاندې موضوعاتو کې رسوي:

الف: د رعیت له افرادو سره اړیکې

ب: له دولتونو سره اړیکې

ج: اردو یا لښکر

د: له لښکر پرته نورې دولتي ادارې

## ۵۰ ماده:

تنفیذي مرستیال باید مسلمان او نارینه وي، ځکه هغه د خلیفه محرم او د راز څښتن دی.

## ۵۱ ماده:

تنفیذي مرستیال هم د تفویضي مرستیال په څېر له خلیفه سره مستقیمې اړیکې لري او په اجراتو کې د خلیفه مرستیال دی، نه په حکم کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# واليان

## ۵۲ ماده:

هغه خاوره چې دولت حاکمیت ورباندې لري، په بېلابېلو واحدونو ویشل شوې، چې هره برخه د ولایت په نوم یادېږي. همدارنګه هر ولایت بیا بېلې بېلې برخې لري، چې هره برخه د عمالې په نامه یادیږي، هغه څوک چې د ولایت په راس کې دی، د والي یا امیر په نامه او د ولسوالۍ یا عمالې مسوول د عامل یا حاکم په نامه یادېږي.

## ۵۳ ماده:

واليان د خلیفه له خوا ټاکل کېږي، ولسوالان یا حاکمان به د خلیفه او والیانو له خوا په دې شرط چې خلیفه ورته دا صلاحیت تفویض کړی وي ټاکل کېږي. د والیانو او حاکمانو لپاره ټول هغه شروط لازمي دي چې د مرستیالانو لپاره لازم وو، نو لازمه ده چې والي او حاکم نارینه، عاقل، بالغ، آزاد، مسلمان، عادل او په هغه څه کې چې ورته سپارل کېږي، د کفایت څښتن وي او تقوا او وړتیا ولري.

## ۵۴ ماده:

والي به په خپل ولایت کې د خلیفه په استازیتوب د حکم کولو او د اداراتو له اعمالو څخ د مراقبت صلاحیت لري. له مالیې، قضا او د لښکر له اړوندو چارو پرته نور بشپړ صلاحیت لري. هغه د خپل ولایت پر اوسېدونکو امارت لري او په ټولو هغه چارو کې چې په ولایت پورې اړه لري، د اجرا حق لري، مګر پولیس د چارو په تنفیذ کې د والي تر واک لاندې دي، نه د ادارې په برخه کې.

## ۵۵ ماده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د والي لپاره واجب نه ده چې د خپل امارت له وضعیت سره سم د اړوندو چارو د تر سره کولو په هکله خلیفه ته خبر ورکړي، مګر په خپله خوښه بیا کولای شي. که یو نوی کار تر سره کوي، د هغه په باب به خلیفه ته خبر ورکوي او د هغه له امر سره سم به عمل کوي، خو که د خلیفه امر ته د انتظار له کبله کوم کار فساد رامنځته کاوه نو په خپله والي باید هغه اجرا کړي او بیا به د دغه کار په هکله خلیفه ته خبر ورکوي او دا به ورته په ډاګه کوي چې ولې یې هغه ته په لومړي سر کې خبر نه و ورکړی.

## ۵٦ ماده:

په هر ولایت کې به د هغه له اوسېدونکو څخه ټاکل شوی مجلس وي، چې مشري به یې والي کوي، په اداري چارو کې به دا مجلس د رایې ورکولو صلاحیت لري، خو د حکم په چارو کې صلاحیت نه لري، دا مجلس د دوو موخو لپاره رامنځته کېږي:

لومړی: والي ته د ولایت له واقعیت او اړتیاوو څخه لازم معلومات ورکول او د هغه په اړه نظر ورکول.

دویم: د والي له حاکمیت څخه رضایت یا شکایت څرګندول

په لومړي حالت کې د مجلس رایه ملزمه نه ده، خو په دویم حالت رایه الزامي ده، که مجلس له والي څخه شکایت وکړي، هغه عزل کېږي.

۵۷ ماده:

غوره دا ده چې د یو شخص د ولایت موده په یوه ولایت کې اوږده نه شي، که دا ولیدل شوه چې هغه په ښار کې تمرکز پیدا کړی او خلکو ده ته میلان پیدا کړی او وربانديې مفتون شوي دي، باید له ولایت څخه عزل کړل شي.

## ۵۸ ماده:

یو والي له یوه ولایت څخه بل ته نه تبدیلیږي، ځکه ولایت د نظر له لوري عام او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مکان له لوري محدود دی، بلکې والي باید عزل او پر ځای یې بل څوک مقرر کړل شي.

### ۵۹ ماده:

والي په دریو حالتونو کې عزل کېږي:

لومړی، کله چې خلیفه د هغه عزل لازم وبولي. دویم، کله چې د امت مجلس له هغه څخه خپله نارضایتي وښيي. دریيم، هغه وخت چې د ولایت مجلس له والي څخه بېزار شي. د والي اعتزال د خلیفه له لوري کېږي.

### ۶۰ ماده:

خلیفه ته لازمه ده چې د والیانو چارې وڅارې او د هغوی سم مراقبت وکړي، د هغوی د حالاتو د معلومولو لپاره څوک وټاکي، په ځینو وختونو کې ټول والیان او د هغوی یو شمېر را ټول کړي، د خلیفه بله وجیبه دا ده چې د والیانو په اړه د خلکو شکایتونو ته غوږ ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جهاد امیر

# حربي اداره ـ لښکر

### ٦١ ماده:

نظامي اداره هغه ټولې چارې چې په وسلهوالو ځواکونو (اردو، پولیس)، مهماتو، جنګي وسایلو او نورو اړوندو چارو لکه نظامي پوهنتونونه، نظامي هیئتونه، ټول هغه ځیزونه چې د اردو په اسلامي او عمومي ثقافت پورې اړه ولري او ټول هغه شیان چې په جنګ او نظامي چمتووالي پورې اړه ولري، پر غاړه اخلي، د دې ادارې رییس د جهاد د امیر په نامه یادیږي.

### ٦٢ ماده:

جهاد پر مسلمانانو فرض دی، عسکري تمرین په هر نارینه مسلمان چې پنځلس کاله عمر یې پوره کړی وي، یو اجباري امر او فرض دی، ترڅو هغه د جهاد کولو لپاره چمتو شي، مګر عسکري خدمت کفایي فرض دی.

### ٦٣ ماده:

**اردو دوه ډولونه لري:**

**احتیاطي برخه:** په دې برخه کې ټول هغه مسلمانان شامل دي چې د وسلې د لېږدولو توان لري.

**دایمي برخه:** په دې برخه کې هغه کسان شامل دي، چې د تل لپاره په اردو کې شتون لري او د نورو مامورینو په شان د دولت له لوري معاش ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۴ ماده:**

د اردو لپاره بیرغونه او رایات ترتیبیږي، خلیفه بیرغ هغه چاته سپاري چې د اردو مسوولیت یې ورکړی، مګر رایات د لواګانو رییسان وړاندې کوي.

**۶۵ ماده:**

خلیفه د اردو مشر بلل کیږي او هغه کس دی چې د ارکان رییس، د هرې لوا امیر او د هرې فرقې لپاره قوماندان منصوبوي، مګر په اردو کې نور تعینات د لواګانو او فرقو د مشرانو له لوري ترسره کیږي، د ارکان غړي د ارکان رییس له لوري د هغوی د نظامي زده کړو ته په پام ټاکل کیږي.

**۶۶ ماده:**

ټوله اردو د یوه واحد پوځ بڼه لري چې په ځانګړو قل اردو ګانو (نظامي هډو) کې ځای پر ځای کیږي، لازمه ده چې ځینې دا ډول قل اردوګانې په بېلابېلو ولایتونو کې، ځینې په ستراتیژیکو سیمو او ځینې یې د ضربتي ځواک په ډول د تل لپاره په حرکت کې پر کار وګومارل شي، دا قل اردوګانې په ډیر شمېر نورو ټولګیو کې تنظیمیږي، چې هر ټولګې ته یې اردو ویل کیږي او هر یوه ته شمیره لکه لومړۍ اردو، دویمه اردو، دریېمه او نور لګول کیږي او یا هم له ولایتونو څخه د یو ولایت یا له عمالو څخه د یوې عمالې په نومونو یادیږي.

**۶۷ ماده:**

باید اردو ته عالي نظامي زده کړې په عالي کچه ورکړل شي، باید د اردو فکري کچه هم د امکان تر بریده پورته یووړل شي، همدارنګه د اردو هر شخص باید له اسلامي ثقافت څخه که په اجمالي ډول هم وي برخمن، شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۸ ماده:**

لازمه ده چې په هره هڅه کې په کافي اندازه لوړ رتبه افسران وي، چې د جنګي معارکو په مشرۍ او د نقشو په جوړولو کې مسلکي وي، له عالي نظامي فن او معرفت څخه برخمن وي او په ټوله اردو کې باید دا ډول اشخاص د توان تر حده زياتوالی ومومي.

**۶۹ ماده:**

لازمه ده چې اردو له ځان سره په کافي توګه وسله، نظامي آلات، تجهيزات، لوازم او مهمات ولري، ترڅو وکولای شي د يوې اسلامي اردو په شان خپله وظيفه په ښه توګه ادا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورنی امنیت

## ۷۰ ماده:

د کورني امنیت اداره هغه اداره ده چې د ټولو هغه چارو چې په امنیت پورې اړه لري او د ټولو هغه شیانو چې کورنی امنیت له ګواښ سره مخ کوي، د هغوی د مخنیوي سرپرستي پر غاړه اخلي. په ټول قلمرو کې امنیت د پولیسو له لارې تامینوي، لښکر د خلیفه له امر پرته نه استخداموي، د دې ادارې رییس (د کورني امنیت د مدیر)، څانګې یې په ولایتونو کې (د کورني امنیت ادارې) په نومونو او د ادارې رییس یې د پولیسو د آمر په نامه یادیږي.

## ۷۱ ماده:

وسله‌وال ځواکونه پر دوه ډوله دي: هغه سرتیري چې په جنګي اداره پورې اړه لري، د جهاد د امیر پیرو دي، هغه پولیس چې د امنیت د ساتلو په موخه په محکمو کې شتون لري، د کورني امنیت د ادارې پیرو دي، دواړه ډوله باید له خاص ثقافت سره سم وروزل شي تر څو وکولای شي خپله دنده په ښه توګه تر سره کړي.

## ۷۲ ماده:

ټول هغه ځیزونه چې کورني امنیت ته ګواښ بلل کیږي، د کورني امنیت اداره باید هغه معالجه کړي او هغه دا دي: ارتداد، بغاوت او حِرابت، د خلکو پر مالونو تجاوز، د خلکو په نفس او آبرو تجاوز، له هغه مشکوکو انسانانو سره تعامل چې محاربو کفارو ته جاسوسي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بهرنۍ چارې

**۷۳ ماده:**

د بهرنیو چارو اداره د ټولو هغه بهرنیو چارو سرپرستي پر غاړه لري، چې د خلافت دولت اړیکې له نورو دولتونو سره په ټولو برخو کې رامنځته کوي، دا اړیکې کېدای شي په بېلابېلو برخو پورې اړه ولري لکه: اقتصادي، صنعتي، زراعتي، تجارتي، پُستي، مخابراتي او نورې اړیکې.

# د صنعت اداره

**۷۴ ماده:**

د صنعت اداره د ټولو هغه چارو سرپرستي پر غاړه لري چې په صنایعو پورې اړه لری. هغه که درانده/ثقیله صنایع وي لکه ماشین آلات، مرکباتي جوړښتونه، برقي مواد او ماشین آلات او که خفیف یا سپک صنایع وی. کېدای شي دا کارخانې عامه ملکیت وي یا د افرادو ملکیت، خو چې په جنګي صنعت پورې اړه ولري او دا لازمه ده چې د فابریکو ټول ډولونه د جنګي سیاست پر بنسټ ولاړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قضاء

## ۷۵ ماده:

قضا د الزام په توگه د یو حکم خبر ورکول دي، قضا د خلکو تر منځ دښمنۍ او شخړې فیصله کوي، د هغه څه مخنیوی کوي چې د ټولنې حق ته ضرر رسوي یا د خلکو او دولتي اشخاصو لکه خلیفه، نورو چارواکو او د دولت کارکوونکو تر منځ رامنځته شوي خصومات حل او فیصله کوي.

## ۷۶ ماده:

خلیفه قاضي القضات له داسې اشخاصو څخه ټاکي چې نارینه، بالغ، آزاد، مسلمان، عاقل، عادل، او فقیه وي، که خلیفه هغه ته د مظالمو محکمې د قاضي د ټاکلو او عزل صلاحیت هم ورکړ، نو په دغه حالت کې لازمه ده چې مجتهد هم وي. قاضي القضات د اداري نظامونو په چوکاټ کې د نورو قاضیانو د ټاکلو، تادیب، او عزل کولو صلاحیت لري، مگر د محکمو د نورو کارکوونکو چارې په اداري مدیر پورې اړه لري، چې د محکمو د چارو د ادارې مسوولیت پر غاړه لري.

## ۷۷۱ ماده:

### قاضیان درې ډوله دي:

۱. قاضي: هغه څوک دی چې د خلکو تر منځ د معاملو او عقوباتو په برخه کې دښمنۍ حل و فصل کوي.

۲. محتسب: هغه مخالفتونه حل کوي چې د ټولنې حق ته زیان رسوي.

۳. د مظالمو قاضي: دا هغه څوک دی چې د خلکو او دولت تر منځ منازعې حل او فیصله کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷۸ ماده:

څوک چې قضا پر غاړه اخلي، هغه باید مسلمان، آزاد، بالغ، عاقل، عادل، فقیه او پر واقعیتونو د شرعي احکامو په نزول باندې پوهه ولري او د مظالمو قاضي لپاره د دغو شرطونو تر څنگ نارینه والی او اجتهاد هم شرط دي.

## ۷۹ ماده:

دا جایزه ده چې قاضي، محتسب او د مظالمو قاضي په ټولو خاورو کې په عمومي توگه د ټولو قضایاوو د حل لپاره و گومارل شي، یا هم کیدای شي دوی ټولو ته په یو ځانگړي ځای کې د ځانگړو قضایاوو حل وسپارل شي.

## ۸۰ ماده:

دا جایزه نه ده چې له هغه قاضي پرته چې د فیصلې صلاحیت لري، نور قاضیان محکمه دایره کړي، مگر دا جایزه ده چې له ده سره یو یا څو نور قاضیان هم مرسته وکړي، خو دوی ته به د حکم صلاحیت نه ورکول کیږي، دوی یوازې د مشورې او نظر ورکولو صلاحیت لري چې رایه او نظر یې هم الزامي بڼه نه لري.

## ۸۱ ماده:

قاضي ته جایزه نه ده چې د قضا له مجلس پرته بل چېرته قضاوت وکړي، بینه او یمین هم د قضا له مجلس پرته په بل ځای کې اعتبار نه لري.

## ۸۲ ماده:

دا جایزه ده چې د قضایاوو د ډولونو په نظر کې نیولو سره محکمې بېلابېلې درجې ولري، دا هم جایزه ده چې ځینې قاضیان له معین صلاحیت سره د ټاکلو قضیو لپاره وگومارل شي او پاتې شوې قضیې نور محکمو ته راجع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸۳ ماده:

د استيناف او تميز محکمې نشته، ځکه چې د پېښو په اړه د قضا فيصله د قطعيت له مخې يوه درجه لري. کله چې يو قاضي فيصله وکړي حکم يې نافذ دی، د بل قاضي حکم يې هيڅکله نه شي نقض کولای، خو په هغه حالت کې چې له اسلام پرته پر بل څه حکم وکړي يا هم د الله متعال د کتاب او سنتو له نص او د صحابه د اجماع سره په قطعي ډول په ټکر کې وي يا هم دا څرګنده شي چې د واقعيت له حقيقت سره په ټکر کې دی، بيا يې نقض کولی شي.

## ۸۴ ماده:

محتسب هغه قاضي دی چې د عامه حقونو اړوندې قضيې چې مدعي پکې شتون نه لري حل او فيصله کوي، په دې شرط چې دغه قضيې په حدودو او جنايتونو پورې اړه و نه لري.

## ۸۵ ماده:

محتسب کولای شي د مخالفت په اړه د خپل علم په پيدا کولو سره په فوري ډول په هر ځای کې چې وي د قضا له مجلس پرته حکم صادر کړي، له ده سره به يو شمير پوليس شتون ولري چې د ده اوامر به نافذوي، او حکم يې فورا نافذ کيږي.

## ۸۶ ماده:

محتسب حق لري چې د ځان لپاره داسې نايبان او استازي وټاکي چې د محتسب شروط ولري، تر څو يې په بېلابېلو سيمو کې په کار وګوماري او له دوی سره به پخپله اړونده سيمه کې د هغو چارو د محاسبې صلاحيت وي، چې په هغه سيمه يا محل کې رامنځته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸۷ ماده:**

د مظالمو قاضي د دې لپاره ټاکل کېږي چې د دولت له خوا پر خپل رعیت د ظلم او تجاوز مخنیوی وکړي، مظلوم که رعیت وي یا هم بل څوک، خو چې د دولت د سلطې لاندې ژوند کوي، د مظالمو قاضي به د دغو ټولو مظالمو مخنیوی کوي، هغه که د خلیفه او که د دولت د نورو حکامو او موظفینو له خوا تر سره کېږي.

**۸۸ ماده:**

د مظالمو قاضي د خلیفه یا قاضي القضات له لوري ټاکل کېږي خو د هغه محاسبه، تادیب او عزل کول بیا د خلیفه یا قاضي القضات (که خلیفه صلاحیت ورکړي) له لوري تر سره کېږي، خو دا به سمه نه وي چې د خلیفه یا د تفویضي مرستیال او یا قاضي القضات له خوا د تر سره شوو مظالمو د څېړلو په درشل کې له دندې عزل کړای شي، په دغه حالت کې د هغه د عزل صلاحیت د مظالمو محکمې سره دی.

**۸۹ ماده:**

دا شرط نه ده چې د مظالمو قاضي یو یا څو محدود اشخاص وي، بلکې د دولت رییس کولای شي چې د مظالمو د لرې کولو لپاره کافي اندازه قاضیان وټاکي، خو د حکم کولو صلاحیت باید یوازې له یوه قاضي سره وي او دا هم جایزه ده چې د فیصلې پر مهال له هغه سره د مظالمو نور قاضیان هم کښیني؛ خو د هغوی دنده به مشوره او رایه ورکول وي او رایه یې الزامي بڼه نه لري.

**۹۰ ماده:**

د مظالمو محکمه حق لري چې په دولت کې هر حاکم او موظف له دندې عزل کړي او خلیفه هم له خپلې دندې عزل کولای شي او دا په هغه حالت کې شونې ده چې د ظلم إذاله د خلیفه د عزل تقاضا وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹۱ ماده:**

د مظالمو محکمه صلاحیت لري چې د هر ډول ظلم څېړنه وکړي، هغه ظلم چې د دولت د اشخاصو له خوا تر سره شوی وي، که د خلیفه له خوا له شریعت څخه سرغړونه وي او که د خلیفه له خوا د شرعي احکامو د تبنې کولو پر مهال په شرعي احکامو او دستور یا قانون کې د کوم شرعي نص په معنا کولو پورې تړاو ولري او که په مالیه پورې تړاو ولري.

**۹۲ ماده:**

د مظالمو په قضا کې د قضا مجلس ته اړتیا نشته، نه مدعي علیه ته د دعوت ورکولو اړتیا شته او نه د مدعي وجود ته ضرورت شته، بلکې محکمه به د مظالمو په اړه څېړنه کوي، آن تر دې که هېڅا دعوه هم نه وي کړې.

**۹۳ ماده:**

هر انسان حق لري چې په خصومت او د ځان د دفاع لپاره وکیل وټاکي، هغه که مسلمان وي او که کافر، که نارینه وي او که ښځینه، په دې کې د وکیل او موکل تر منځ توپیر نشته او دا هم جایزه ده چې وکیل خپل موکل ته د هغه له موافقې سره سم د اجورې په بدل کې وکالت وکړي.

**۹۴ ماده:**

هر شخص که په خصوصي چارو کې وصي او ولي، په عامه چارو کې خلیفه، حاکم او موظف او یا د مظالمو قاضي او محتسب وي، د دې صلاحیت لري چې په خصومت او یا د ځان د دفاع لپاره یوازې د وصي یا ولي یا خلیفه یا د حکومت چارواکي او موظف او یا د مظالمو قاضي او محتسب په حیث وکیل وټاکي او هغه که مدعي وي یا مدعي علیه څه توپیر نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹۵ ماده:**

هغه عقود، معاملات او قضيې چې د هغه فيصله او تنفيذ د خلافت د تاسيس نه مخکې پای ته رسيدلې، د خلافت قضا هغه له لاندې حالتونو پرته نه نقض کوي او نه يې تحريکوي:

الف. هغه قضيې چې دوامدار اثر لري او د اسلام خلاف دي، نو واجبه ده چې دا ډول قضيه له سره وڅېړل شي.

ب. که قضيه پخوانيو حکامو او اتباعو نافذه کړي وي او د اسلام او مسلمانانو له اذيت سره تړاو ولري، نو په دغه حالت کې هم د خليفه لپاره جايزه ده چې دا ډول قضيې له سره وڅېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اداري جوړښت

**۹۶ ماده:**

د دولتي چارو او د خلکو د مصالحو اداره به د دولتي ادارو او اړوندو ارگانونو پر غاړه وي، چې دا ادارې به د دولت چارې سنبالوي او د خلکو مصالح به حل کوي.

**۹۷ ماده:**

د مصالحو ادارې او نورو ادارو سياست به د بسيط او ساده نظام، په کارونو کې د چټکۍ او د کارمندانو د اهليت پر بنسټ ولاړ وي.

**۹۸ ماده:**

هر څوک چې د دولت تابعيت لري او د کار کولو اهليت او وړتيا ولري، که نارينه وي او که ښځينه، مسلمان وي او که غير مسلمان د مصلحت يا ادارې پر اساس د مدير يا مامور په توگه ټاکل کېداى شي.

**۹۹ ماده:**

د هر مصلحت لپاره يو عمومي مدير او د هرې ادارې لپاره يو مدير ټاکل کېږي، ترڅو د هغه سرپرستي پر غاړه واخلي او د ادارې مسوول وي، دا ټول مديران په خپله کاري برخه کې د هماغه برخې د عالي ادارې د مدير پر وړاندې مسئوليت لري، مگر د احکامو او عامه نظام د پيروۍ په برخه کې د والي او عامل پر وړاندې مسئووليت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰۰ ماده:**

د ټولو ادارو، دوایرو او مصالحو مدیران به یوازې د ادري نظم د ساتلو له کبله له دندو عزل کېږي، خو له یوې دندې څخه بلې دندې ته بدلیدی شي. له چارو څخه توقیف کېدای شي، د دوی تعیین، انتقال، توقیف، تادیب او عزل د هغه چا له لوري تر سره کېدای شي چې د مصالحو، دوایرو او ادارو د عالي ادارې په راس کې قرار لري.

**۱۰۱ ماده:**

له مدیرانو پرته نور موظفین به یوازې د ادارو، دوایرو او مصالحو د عالي ادارې له لوري تعین، انتقال، توقیف، تادیب او عزل کیدای شي.

**۱۰۲ماده:**

بیت المال هغه اداره ده چې له شرعي احکامو سره سم د تجمع، حفظ او مصرف له مخې د عایداتو او مصارفو سرپرستي پر غاړه لري، د دې ادارې رییس «د بیت المال خازن/حزانه دار» په نامه یادیږي، په ولایاتو کې د دې ادارې اړوندو ادارو رییس ته «د بیت المال صاحب/خاوند» ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مطبوعات او رسنۍ

**۱۰۳ ماده:**

د مطبوعاتو اداراه د اسلام او مسلمانانو د مصالحو د خدمت لپاره د رسنیو د سیاست د وضع کولو او تنفیذ سرپرستي پر غاړه لري، په داخل کې به د قوي، متمسکې، اسلامي ټولنې ایجاد، د خباثتونو نفی، او د نیکیو تبارز او په بهر کې به د اسلام د وړاندې کولو لپاره د جنګ او سولې په حال کې په داسې ډول سره چې د اسلام عظمت، عدل او د اسلامي پوځ قوت او په مقابل کې یې د وضعي نظام فساد، ظلم او د پوځ ضعف څرګندوي، پالیسي وضع کوي.

**۱۰۴ ماده:**

هغه رسنۍ چې چلوونکي یې د دولت اتباع دي، جواز ته اړتیا نه لري، بلکې د نشراتي وسیلې له رامنځته کولو څخه به د رسنیو اداره د (خبر او علم) په لیږلو سره خبروي، د هرې رسنۍ څښتن او د هغه لیکونکي د هر نشر شوي مضمون په اړه مسئولیت لري او د هر ډول شرعي مخالفت په صورت کې به د رعیت د نورو افراد په څېر محاسبه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امت مجلس

### ۱۰۵ ماده:

هغه خلک چې په رایه کې د مسلمانانو استازيتوب کوي او خليفه ورته رجوع کوي، هغوی د امت د مجلس په نامه يادېږي او هغه اشخاص چې د ولايتونو د خلکو څخه استازيتوب کوي، د ولاياتو د مجالسو په نامه يادېږي. نامسلمانانو ته جايزه ده چې د امت په مجلس کې برخه ولري، مگر يوازې د دې لپاره چې د حاکمانو له ظلم او يا د اسلامي احکامو له ناسم تطبيق څخه شکايت وکړي.

### ۱۰۶ ماده:

د هر ولايت د مجلس غړي په مستقيم ډول د هماغه ولايت له خلکو څخه ټاکل کېږي، د ولايتونو د مجالسو د غړو شمير په دولت کې د هر ولايت د نفوس په نظر کې نيولو سره ټاکل کېږي، مگر د امت د مجلس غړي د ولايتونو د مجالسو له لوري په مستقيم ډول ټاکل کېږي، د امت د مجلس پيل او پای د ولايتونو د مجالسو له پيل او پای سره يو شان دی.

### ۱۰۷ ماده:

هر تبعه چې عاقل او بالغ وي، حق لري چې د امت په مجلس يا د ولايت په مجلس کې غړيتوب تر لاسه کړي، هغه که نارينه وي او که ښځينه، مسلمان وي او که غير مسلمان، خو د غير مسلمانان غړيتوب به يوازې د حاکمانو د ظلم او د اسلامي احکامو له ناسم تطبيق څخه د شکايت لپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰۸ ماده:

شورا او مشوره یوازې د رایې د اخیستلو په معنی ده، شوری او مشوره په تشریع، تعریف، فکري امورو لکه د حقیقتونو پلټنه، په فني او علمي امورو کې لزوم نه لري، مګر که خلیفه په عملي چارو او هغو اعمالو کې چې بحث او نظر ته اړتیا ونه لري، مشوره وغواړي په دغه حالت کې د مشوره ورکونکو مشوره الزامي بڼه غوره کوي.

## ۱۰۹ ماده:

شورا یوازې د مسلمانانو حق دی، له مسلمانانو پرته نور د شورا حق نه لري، خو د رایې او نظریې څرګندول د ټولو مسلمانو او غیر مسلمانو اتباعو حق دی.

## ۱۱۰ ماده:

هغه مسایل چې له خلیفه سره پرې مشوره کېږي او مشوره په هغو کې الزامي بڼه ولري، په هغو کې اکثریت معیار د عمل دی، پرته له دې چې هغه صواب لري او که خطا. خو په نورو هغو مسایلو کې چې شوری پکې الزامي بڼه نه لري، په هغه کې غوره والی معیار د عمل دی، پرته له دې چې اکثریت یا اقلیت په نظر کې ونیول شي.

## ۱۱۱ ماده:

د امت مجلس پنځه صلاحیتونه لري، چې په لاندې ډول دي:

### ۱. دوې اصلي برخې لري:

الف: له مجلس څخه د خلیفه له لوري مشوره غوښتل او د مجلس له لوري مشوره ورکول په هغو چارو او عملي امورو کې چې د کورني سیاست په برخه کې د چارو په سرپرستۍ پورې اړه لري او عمیق فکري بحث ته یې اړتیا نشته، لکه: حکومتي چارې، تعلیم، روغتیا، اقتصاد، تجارت، صنعت، زراعت، او نور چې د مجلس نظر پکښې الزامي بڼه لري تر سره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: مگر په هغو فکري امورو کې، چې بحث او تحقیق ته اړتیا لري یا په هغه امورو کې چې پوهې او درایت ته اړتیا لري او یا هم په فني، علمي، مالي، نظامي او بهرني سیاست کې خلیفه مجلس ته د مشورې لپاره رجوع کولای شي او د مجلس نظر اخیستی شي، مگر د مجلس نظر په دې برخه کې الزامي بڼه نه لري او خلیفه د هغه پر منلو مجبور نه دی.

۲. خلیفه هغه احکام او قوانین د امت مجلس ته وړاندې کولای شي چې تبني کول یې غواړي او د مجلس مسلمانان غړي کولای شي چې د هغه په اړه مناقشه وکړي او خطا او صواب یې بیان کړي، که مسلمان غړي له خلیفه سره د تبني په طریقه کې د دولت له تبني شوو اصولو سره سم اختلاف وکړي، په دغه حالت کې د مظالمو محکمې ته راجع کېږي او هغه یې حل کوي، د دې محکمې نظر په دې برخه کې ملزم دی.

۳. د امت مجلس حق لري چې د ټولو دولتي چارو په اړه له خلیفه سره محاسبه وکړي، هغه که کورنۍ چارې وي، که بهرنۍ، مالي وی او که نظامي. د مجلس رایه په هغه برخه کې الزامي ده چې د اکثریت رایه پکې الزامي وي او په هغه برخه کې چې د اکثریت رایه الزامي نه ده، د مجلس رایه هم الزامي بڼه نه لري. مگر که مجلس د هغه عمل په اړه چې بالفعل تر سره شوی، له شرعي ناحیې څخه له خلیفه سره اختلاف وکړي، نو په دغه حالت کې مسئله د مظالمو محکمې ته راجع کېږي، ترڅو د هغې د شرعي والي یا له شریعت سره یې د ټکر په اړه قطعي فیصله صادره کړي او د محکمې رایه په دې برخه کې الزامي بڼه لري.

۴. مجلس حق لري چې له مرستیالانو، والیانو او عاملانو څخه شکایت وکړي، له هغوی څخه ناخوښي څرگنده کړي او په دې اړه به یې رایه الزامي وي، خلیفه ته لازمه ده چې هغوی فورا لرې کړي. که د امت د مجلس رایه د ولایت له مجلس سره د والیانو او عمالو څخه د رضایت یا نه رضایت په اړه په ټکر کې واقع شي، نو په دغه حالت کې د ولایت د مجلس رایې ته لومړیتوب ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵. د مجلس مسلمان غړي د دې حق لري چې د خلافت لپاره د هغو نوماندانو شمېره محدوده کړي، چې د مظالمو محکمې د انعقاد شروط په دوی کې تایید کړي وي، په دې برخه کې د اکثریت رایه الزامي بڼه لري، د هغه چا ټاکل چې د مجلس په تایید شوي لېست کې شامل نه وي، سم نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټولنیز نظام

## ۱۱۲ ماده:

د ښځې لپاره اصل دا دی چې هغه مور او د کورنۍ مربي ده او هغه آبرو او عزت ده، چې باید خوندي وساتل شي.

## ۱۱۳ ماده:

اصل دا دی چې سړي باید له ښځو څخه جلا وي او له یو بل سره یو ځای نه شي؛ خو د هغې اړتیا په صورت کې مشکل نشته چې شریعت اجازه ورکړې ده، لکه حج او پېر او پلور.

## ۱۱۴ ماده:

ښځې ته هم ټول هغه حقوق ورکول کیږي، چې سړي ته ورکړل شوي دي. همدارنگه هغه څه پرې واجب دي چې پر سړیو واجب دي. مگر هغه چې اسلام په ښځه پورې خاص کړي دي یا یې په سړي پورې خاص گرځولي دي، هغه هم د شرعي دلیل له مخې، ځکه نو ښځه حق لري چې سوداگري، کرنه یا صنعت پرمخ یوسي، عقود او معاملات سرته ورسوي او هر ډول ملکیت ولري، خپلې پانگې ته په خپله یا د نورو په وسیله وده ورکړي او دا حق لري چې د ژوندانه ټولې چارې په خپله سرته ورسوي.

## ۱۱۵ ماده:

ښځې ته جایزه ده چې دولتي دندې پر غاړه واخلي، د امت د مجلس غړي انتخاب کړي او یا هم په خپله په هغو کې غړیتوب تر لاسه کړي، لکه څرنگه چې د خلیفه په انتخاب او بیعت کې ونډه اخیستی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱٦ ماده:**

ښځې ته جايزه نه ده چې د حکومت په برخه کې کار وکړي، ځکه نو نه شي کولای چې د خليفه، مرستيالې، والي، يا عاملې په توګه وټاکل شي او هر عمل چې په حکم پورې اړه ولري، ښځه هغه نه شي تر سره کولای. له همدې امله ښځه د قاضي القضات، د مظالمو محکمې قاضي او د جهاد د امير په حيث نه شي ټاکل کيدای.

**۱۱۷ ماده:**

ښځې په عام او خاص ژوند کې برخه لري، نو په عام ژوند کې له محرمو او نامحرمو سړيو او ښځو سره خپل ژوند ته ادامه ورکولی شي، خو په دې شرط چې يوازې مخ او لاس يې تر ورغوو پورې لوڅ وي او همداراز په جامو کې يې بايد تبرج او تبذل نه وي. مګر په خاص ژوند کې ښځه يوازې له ښځو او محارمو سره ژوند کولای شي او جايزه نه ده چې له نامحرمو سړيو سره ژوند وکړي او په دغو دواړو حالتونو کې پر شرعي احکامو مقيده ده.

**۱۱۸ ماده:**

له نامحرم سره د ښځې خلوت ناروا دی او همدارنګه د پرديو په مخ کې د عورت نه پټول او تبرج حرام دي.

**۱۱۹ ماده:**

نارينه او ښځې دواړو ته جايز نه دي چې داسې عمل تر سره کړي چې اخلاق له خطر سره مخ کړي يا په ټولنه کې د فساد لامل وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲۰ ماده:

د ښځې او خاوند ژوند د ډاډ او سکون ژوند او د دوی دواړو ژوند د معاشرت او ګډ ژوند دی. پر ښځه د نارينه قواميت د پالنې او سرپرستۍ په اړه دی، نه د حکمرانۍ قواميت او پر ښځه د خاوند اطاعت او پر خاوند د ښځې نفقه فرض ده، چې هغې ته د ټولنې له رواج سره سمه نفقه برابره کړي.

## ۱۲۱ ماده:

خاوند او مېرمن به دکور د چارو په سنبالولو کې په ګډه کار کوي، نارينه ته لازمه ده چې ټولې هغه چارې ترسره کړي چې له کور څخه بهر دي لکه څرنګه چې پر ښځه لازمه ده چې د کور د ننه چارې ترسره کړي او که ښځه د کور کارونه نه شي تر سره کولای، په دې سره به يې خاوند هغې ته له اړتيا سره سم خدمتګار استخداموي.

## ۱۲۲ ماده:

پر ښځه واجب ده چې د کوچنيو ماشومانو کفالت او سرپرستي تر هغه وخته پر غاړه واخلي چې کفالت ته اړتيا لري، هغه که مسلمان وي او که غير مسلمان، کله يې چې د کفالت اړتيا پوره شوه که حاضنه او ولي دواړه مسلمانان وو، ماشوم ته د دې اختيار ورکول کېږي چې له کوم يوه سره ژوند وکړي، هر يو چې ماشوم اختيار کړ پر هغه واجب ده چې هغه واخلي هغه که ښځه وي که نارينه، همدا راز توپير نه لري چې هغه هلک وي او که جينۍ. مګر که يو له دوی څخه مسلمان نه وي په دغه حالت کې ماشوم اختيار نه لري، بلکې مسلمان ته سپارل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اقتصادي نظام

## ۱۲۳ ماده:

اقتصادي سياست د ټولنې د اړتياوو پوره کولو ته پاملرنه ده، نو هغه څه چې لازم دي، هغه د اړتياوو پوره کولو ته پاملرنه ده او هماغه په ټولنه کې د اړتياوو د پوره کولو بنسټ ګرځول کيږي.

## ۱۲۴ ماده:

اقتصادي ستونزه د رعيت افرادو ته د مالونو او منفعتونو توزيع ده، تر څو هغه د انتفاع لپاره ورکړل شي او اتباع د دې وړتيا پيدا کړي چې د هغې لپاره هڅې وکړي او په خپل حيازت کې يې دننه کړي.

## ۱۲۵ ماده:

واجب ده چې د رعيت د هر فرد اړتياوې ځان ځانته په ټوليزه توګه تضمين کړل شي او همدارنګه بايد د هر فرد ثانوي اړتياوې (کمالي حاجات) هم د امکان تر بريده په تر ټولو لوړه کچه ميسرې شي.

## ۱۲۶ ماده:

مال په الله سبحانه وتعالی پورې اړه لري او انسان يې خليفه ورباندې ګرځولی او د همدغه عام خليفه والي له مخې حق لري چې د مال ملکيت ولري او الله سبحانه وتعالی انسان ته اجازه ورکړې چې په مال کې تصرف وکړي او دغه ځانګړې اجازه انسان ته دا حق ورکوي چې عملاً د څيزونو مالک وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲۷ ماده:

ملکیت درې ډوله دی: فردي ملکیت، عام ملکیت او دولتي ملکیت.

## ۱۲۸ ماده:

فردي ملکیت شرعي حکم دی، چې په عین یا منفعت پورې تړاکل شوی دی او خپل څښتن (مالک) ته د دې اجازه ورکوي چې له هغه څخه گټه پورته کړي او یا یې په بدل کې عوض واخلي.

## ۱۲۹ ماده:

عام ملکیت ټولو خلکو ته د شارع اجازه ده، چې له عین څخه گټه واخلي.

## ۱۳۰ ماده:

ټول هغه مالونه چې لگښت یې د خلیفه په رایه او اجتهاد پورې اړه لري، هغه د دولت ملکیت دی، لکه د مالیې، خراج او جزیې مالونه.

## ۱۳۱ ماده:

فردي ملکیت په منقولو او غیر منقولو مالونو کې په پنځو شرعي اسبابو پورې مقید شوی دی، چې په لاندې ډول دي:

الف: عمل یا کار

ب. میراث

ج. د ژوندي پاتې کېدو لپاره مال ته اړتیا

د. د دولت له خوا رعیت ته د مال ورکړه (اعطا)

هـ. هغه امول چې افراد یې له مال او ځو پرته تر لاسه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۱۳۲ ماده:

په ملکیت کې تصرف د شارع په اجازه پورې اړه لري، هغه که د نفقې کولو تصرف وي او که د ملکیت د زیاتولو. په دې کې اسراف، عیاشي او امساک منع دی. هغه پانګوال شرکتونه او مرستندویې ټولنې او نور معاملات چې له شریعت سره ټکر لري، منع دي. لکه څرنګه چې سود خوړل، فاحش غبن، احتکار، قمار او دې ته ورته نور ټول شیان حرام دي.

### ۱۳۳ ماده:

د عشر ځمکې د عربو جزیره او نورې هغه ځمکې دي چې خلک یې مسلمان وي. خراجي ځمکې د عربو له جزیرې پرته هغه ځمکې دي چې په جګړه یا سوله فتحه شوې وي. د عشر ځمکې د رقبې او منفعت له مخې د افرادو ملکیت دی. مګر د خراجي ځمکو رقبه په دولت او منفعت یې په افرادو پورې اړه لري او هر شخص د عشري ځمکې د تبادلې او د خراجې ځمکې د منفعت د تبادلې حق لري، البته له شرعي عقودو سره سم همدا راز د نورو مالونو په څېر له هغو څخه میراث ترلاسه کولای شي.

### ۱۳۴ ماده:

شاړې (موات) ځمکې په ابادولو سره د افرادو په ملکیت کې داخلیږي، مګر له شاړو پرته نورې ځمکې بیا یوازې د شرعي سبب لکه ارث، پېرلو او د دولت له لوري د ورکولو له لارې د افرادو په ملکیت کې داخلیږي.

### ۱۳۵ ماده:

د کرنې لپاره د ځمکې اجاره کول مطلق منع دي، هغه که خراجي ځمکه وي او که عشري او همدارنګه مزارعت هم منع دی، خو مساقات بیا په مطلقه توګه جواز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳۶ ماده:

د ځمکو مالک مکلف دی چې له ځمکې څخه ګټه واخلي او محتاج ته باید له بیت المال څخه تر هغې اندازې مرسته ورکړل شي، چې د خپلې ځمکې د کرلو وړتیا پیدا کړي او څوک چې درې کاله له ځمکې څخه ګټه پورته نه کړي او بېکاره یې پرېږدي، له هغه څخه اخیستل کېږي او بل چا ته ورکول کېږي.

## ۱۳۷ ماده:

عام ملکیت په لاندنیو دریو شیانو کې رامنځته کېږي:

الف- هر هغه څه چې خلک په عمومي توګه له هغه څخه ګټه اخلي، لکه د ښار سیمه (عامه مرافق).

ب- هغه معادن او کانونه چې دوامدار دي لکه نفت.

ج- هغه شیان چې په طبیعي ډول د افرادو ملکیت نه شي کېدای لکه سیندونه، ویالي او نور.

## ۱۳۸ ماده:

فابریکې د خپل ذات له مخې فردي ملکیت دی. مګر که فابریکې د هغه مادې حکم خپل کړي چې تولیدوي یې، که تولیدیدونکې ماده د فردي ملکیتونو له ډلې څخه وه، نو فابریکه یې هم فردي ملکیت ګڼل کېږي، لکه د اوبدلو فابریکې او که تولیدیدونکې ماده د عامه ملکیتونو له جنس څخه وه، نو فابریکه هم عامه ملکیت ګڼل کېږي، لکه د اوسپنې رایستلو فابریکې.

## ۱۳۹ ماده:

دولت ته جایزه نه ده چې فردي ملکیت پر عام ملکیت بدل کړي، ځکه عام ملکیت د مال د ډول او طبیعت له مخې ټاکل کېږي، نه د دولت په رایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۴۰ ماده:**

له عام ملکیت څخه د امت ټول افراد د ګټې اخیستنې حق لري او دولت ته جایزه نه ده چې له عامه ملکیت څخه د ګټې اخیستلو لپاره یو چا ته اجازه ورکړي چې له عامه ملکیت څخه ګټه واخلي یا یې په ملکیت کې داخل کړي او د رعیت نور افراد محروم کړي.

**۱۴۱ ماده:**

دولت ته جایز ده چې شاړې ځمکې او عامه ملکیت د رعیت د مصالحو لپاره تر خپل ملاتړ او کنترول لاندې راولي.

**۱۴۲ ماده:**

د مال پراخه خزانه کول منع دي، که یې زکات هم ورکړی وي.

**۱۴۳ ماده:**

زکات له مسلمانانو راټولیږي او له هغو نقدي، عیني، مالونو، څارویو او غلو دانو څخه اخیستل کیږي چې شریعت ټاکلي دي او له هغو مالونو څخه نه اخیستل کیږي چې په شریعت کې نه دي ټاکل شوي او همدارنګه د نصاب له هر مالک څخه اخیستل کیږي، هغه که بالغ، عاقل او مکلف وي، که غیر مکلف لکه ماشوم او لېونی. د زکات مال به په بیت المال کې په ټاکلي ځای کې ځای پر ځای کیږي او دغه مال به یوازې هغو اتو کسانو ته ورکول کیږي چې په آیت شریف کې ذکر شوي دي.

**۱۴۴ ماده:**

جزیه له ذمیانو څخه راټولیږي هغه هم له بالغو نارینه وو څخه د هغوی د توان په اندازه اخیستل کیږي، له ښځو او ماشومانو څخه نه اخستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱٤۵ ماده:**

خراج له خراجي ځمکو څخه د هغو د توان په اندازه اخيستل کېږي، خو له عشري ځمکو څخه د موجوده حاصلاتو په نظر کې نيولو سره زکات اخيستل کېږي.

**۱٤٦ ماده:**

له مسلمانانو څخه د شرعي جواز په رڼا کې د بيت المال د لګښتونو د پوره کولو لپاره ماليه راټوليږي، په دغه شرط چې دغه اخيستل کېدونکې ماليه د مال د خاوند له اړتياوو څخه زياته وي او د دولت د اړتيا په نظر کې نيولو سره اخيستل کېږي.

**۱٤۷ ماده:**

ټول هغه څه چې شريعت پر امت واجب ګرځولي او بيت المال د هغو لپاره کافي بوديجه نه لري چې ترسره يې کړي، نو د هغو وجوب امت ته انتقاليږي. د دې لپاره دولت حق لري چې له اړتيا سره سمه پر امت ماليه وضع کړي. تر څو اړونده چاره تر سره کړي او هغه څه چې د شريعت له مخې يې سرته رسول پر امت واجب نه دي، دولت حق نه لري چې په دې برخه کې ماليه وضع کړي. نو دولت ته جايزه نه ده چې د محکمو، دولتي ادارو يا نورو مصلحتونو لپاره ماليه وضع کړي.

**۱٤۸ ماده:**

د دولت د بوديجې د پوره کولو لپاره دايمي لارې شته، چې هغه شرعي احکامو ټاکلې دي؛ خو په هره ځانګه کې د پيسو مصرفول او د هر څه لپاره د پيسو تخصيص د خليفه په رايه او اجتهاد پورې اړه لري.

**۱٤۹ ماده:**

د بيت المان دايمي واردات فئ، جزيه، خراج، د کانونو پنځمه برخه او زکات دی. دولت د تل لپاره دا مالونه راټولوي، که هغو ته اړتيا وي او که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۵۰ ماده:

که د بیت المال دایمي واردات د دولت د لګښتونو لپاره کافي نه وو، دولت له خلکو مالیه اخیستی شي او دولت باید د مالیې په اخیستلو کې له لاندې ټکو سره سم عمل وکړي:

الف. د بیت المال د واجبي مصارفو د پوره کولو لپاره، لکه له فقیرانو، مسکینانو او مسافرو سره مرسته او د جهاد د فریضې لګښتونه.

ب. د بیت المال د هغو لګښتونو لپاره چې د بدل په مقابل کې یې ترسره کوي، لکه د مامورینو لګښتونه، د لښکر موکولات او د حکامو تعویضات.

ج. د بیت المال هغه واجبي لګښتونه چې د مصلحت او آرامۍ په موخه تر سره کېږي، لکه د لارو جوړول، د اوبو را ایستل، د جوماتونو ښوونځیو او روغتونونو جوړول.

د. د بیت المال د هغو لګښتونو لپاره چې د اړتیا په وخت کې تر سره کېږي لکه: پر رعیت د حوادثو او پېښو رامنځته کېدل لکه: قحطي، طوفان، زلزله او داسې نور.

## ۱۵۱ ماده:

هغه مالونه چې د هېواد له بېلا بېلو سرحدي ګمرکونو څخه تر لاسه کېږي، د بیت المال له وارداتو څخه دي، هغه مالونه چې له عامه ملکیت او دولتي ملکیت څخه لاس ته راځي او همدارنګه میراثي مالونه چې وارث ونه لري او د مرتدینو مالونه ټول د بیت المال په وارداتو کې شامل دي.

## ۱۵۲ ماده:

د بیت المال لګښتونه اته برخې لري، چې په لاندې ډول دي:

الف. هغه اته ډلې خلک چې د زکات مستحق بلل شوي دي، هغوی ته د زکات له باب څخه مصرف کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب. فقيرانو، مسكينانو، مسافرانو، مجاهدينو او قرضدارانو ته کله چې د زکات په څانگه کې مال نه وي، نو د بيت المال له دايمي وارداتو څخه به ورکول کېږي او که دايمي وارادت هم نه وو، بيا قرضدارانو ته څه نه ورکول کېږي. خو مسکينانو، فقيرانو، مسافرو او د مجاهدينو د مصرف لپاره ماليه اېښودل کېږي او د فساد د خورېدو له وېرې پور هم اخيستل کېږي.

ج. هغه اشخاص چې د دولت لپاره خدمت کوي لکه موظفين، حکام او لښکر، دوی ته به له بيت المال څخه معاش ورکول کېږي، که د بيت المال مال کفايت ونه کړي، نو ماليه به وضع کېږي او د فساد د وېرې او مخنيوي لپاره به پور اخيستل کېږي.

د. اساسي مصالح او مرافق لکه لارې، جوماتونه، روغتونونه او ښوونځي به له بيت المال څخه جوړېږي. که د بيت المال شتمني بس نه شي، ماليه به وضع کېږي.

هـ. د کمالي مصالحو او مرافقو لپاره به له بيت المال څخه مصرف کېږي او که په بيت المال کې پوره مال نه وي، نو له هغو څخه بايد مصرف ونه شي او وځنډول شي.

و. ناڅاپي پېښې لکه زلزله، طوفان او نورو پېښو لپاره له بيت المال څخه مصرف کېږي او که هغه پوره نه شي بيا به له راټولې شوې ماليې څخه پوره کېږي.

## ۱۵۳ ماده:

دولت ضامن دی چې د ټولو تابعيت لرونکو لپاره کاري فرصت برابر کړي.

## ۱۵۴ ماده:

له شرکتونو او افرادو سره په کار گومارل شوي موظفين هم د دولت د موظفينو په څېر له ټولو حقونو او واجباتو څخه برخمن کېږي، هرڅوک چې د معاش په بدل کې کار کوي موظف بلل کېږي، سره له دې چې د کار او کارگر ډول توپير هم ولري، که مزدور او د کار څښتن د مزد په اړه اختلاف وکړي، هغه ته به مروج مزد ورکول کېږي، خو که يې په بل څه کې اختلاف وکړ، بيا به د اجارې د عقد په اړه له شريعت سره سم حکم او فيصله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۱۵۵ ماده:

دا جایزه ده چې مزد د کار له ګټې سره سم وي او یا د کارګر د کار له ګټې سره برابر وي، خو د اجیر د معلوماتو او علمي شهادتنامو سره یې برابرښت شرط نه دی. همدارنګه موظفین ترفیعات نه لري، بلکې خپل ټول حقونه به یې ورکول کېږي، هغه که د کار په اړه وو او که د کارګر له خوا.

## ۱۵۶ ماده:

دولت د هغه چا د نفقې ضمانت کوي چې نه مال لري، نه کار کولای شي او نه هم داسې څوک لري چې نفقه ورکړي، همدارنګه دولت له ناتوانه خلکو، مصیبت ځپلو او معیوبینو سره مرسته کوي.

## ۱۵۷ ماده:

دولت د خپل رعیت تر منځ د ثروت د دوران لپاره فعالیت کوي او په یوه ځانګړې طبقه کې د ثروت د دوران مخنیوی کوي.

## ۱۵۸ ماده:

دولت د رعیت افرادو ته د کمالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره لار هواروي او له خپل ثروت سره سم په ټولنه کې په لاندې ډول توازن رامنځته کوي:

الف: هغه منقول او غیر منقول مالونه چې په بیت المال کې یې لري یا د فی مالونه او نور خلکو ته ورکړي.

ب:له خپلو آبادو او شاړو ځمکو څخه هغو کسانو ته ځمکه ورکوي چې کافي ځمکه نه لري، مګر هغه کسان چې ځمکه لري، خو د کرهنې لپاره کار نه ورڅخه اخلي ځمکه نه ورکول کېږي. هغو کسانو ته چې د فقر له امله کرنه نه شي کولای، باید مال ورکړل شي تر څو په کرنه قادر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: د هغه چا قرضونه چې د ورکړې توان يې نه لري، د زکات له مال، له فی او داسې نورو څخه ادا کېدای شي.

## ۱۵۹ ماده:

دولت د کرنيزو چارو او محصولاتو مراقبت کوي او له کرنيز سياست سره سم به د ځمکې حاصلات تر ټولو لوړې کچې ته رسوي.

## ۱۶۰ ماده:

دولت په ټوليزه توگه د ټولو صنعتي چارو مراقب دی او د هغو صنعتي چارو مستقيم سرپرست گڼل کېږي چې په عامه ملکيت کې داخلې دي.

## ۱۶۱ ماده:

بهرنۍ سوداگري د سوداگر له تابعيت سره تړاو لري، نه د جنس د توليد په محل پورې، ځکه نو د حربي هېوادونو سوداگر زموږ په خاوره کې له سوداگرۍ څخه منع دي، خو که ځانگړې اجازه چې يوه معين سوداگر يا مال ته ورکړل شوې وي، بيا ستونزه نشته. له معاهدو سوداگرو سره له هغې معاهدې سره سم عمل کېږي چې ورسره لاسليک شوې ده. د خپل رعيت سوداگران به د هغه څه له صادرولو څخه چې اسلامي خاوره ورته ضرورت لري او د هغه موادو له وړلو څخه چې په وسيله يې دښمن له نظامي، صنعتي او يا اقتصادي پلوه ځواکمن کېږي، منع کېږي. مگر د هر ډول مال له واردولو څخه نه منع کېږي، خو هغه دولت چې بالفعل زموږ سره په جگړه بوخت دی لکه اسراييل، هغه له دغو احکامو څخه مستثنی دی، ځکه دا ډول دولتونه په ټولو علاقاتو او اړيکو کې هغه که سوداگريزې اړيکې وي که غير سوداگريزې د بالفعل دار الحرب حکم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۶۲ ماده:**

د رعیت ټول افراد د ژوند د هرې برخې په هکله علمي لابراتوارونه جوړولی شي او دولت ته هم لازمه ده چې دا ډول لابراتوارونه رامنځته کړي.

**۱۶۳ ماده:**

افراد د هغو لابراتوارونو له جوړولو څخه منع کیږي، چې تولیدي مواد يې امت او دولت ته زیان رسوي.

**۱۶۴ ماده:**

دولت ټولو افرادو ته وړیا روغتیایي خدمتونه چمتو کوي، خو د ډاکټرانو له شخصي کار او د درمل له خرڅلاو څخه څوک نه منع کوي.

**۱۶۵ ماده:**

د بهرنیانو له مالونو څخه د دولت په خاوره کې تصرف او استثمار منع دی او هیڅ بهرني ته باید هیڅ ډول امتیاز ورنه کړل شي.

**۱۶۶ ماده:**

دولت به ځان ته ځانګړې او مستقلې پیسې چاپوي او جایزه نه ده چې دا پیسې له کومو بهرنیو پیسو سره تړاو ولري.

**۱۶۷ ماده:**

د دولت اصلي پیسه به طلا او نقره وي، هغه که مضروب وي او که غیر مضروب، او جایزه نه ده چې له دغو دوو پرته نورې پیسې ولري، مګر دا سمه ده چې دولت د طلا او نقرې په بدل کې نور څه صادر کړي، په دغه شرط چې د دولت په خزانه کې به دومره طلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نقره موجوده وي چې له صادرو شوو پیسو سره برابره وي، ځکه نو دولت ته روا ده چې له مسو، برونزو، کاغذ او نورو څخه په خپل نامه پیسې جوړې کړي، مګر د دغه شرط په پام کې نیولو سره، یعنې د عرضه شوو پیسو له ارزښت سره سم به د دولت په خزانه کې طلا او نقره شتون لري.

## ۱۶۸ ماده:

د دولت د پیسو او نورو دولتونو د اسعارو تر منځ تبادله روا ده، لکه چې د دولت د خپلو پیسو تر منځ هم په برابره توګه تبادله جواز لري او هر کله چې پیسې له بېلابېلو جنسونو څخه وي د هغو په تبادله کې تفاضل هم روا دی، په دغه شرط چې لاس په لاس به وي، مګر که نسیه وي صحیح نه دی، له کوم قید پرته د تبادلې د قیمت تغیر هم روا دی خو په هغه صورت کې چې اجناس مختلف وي او د رعیت هر فرد دا حق لري چې هغه پیسې چې خوښه یې له بهر یا داخل څخه وپېري او پرته له اجازې د هغه په بدل کې نورې پیسې او شیان وپېري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زده کړو سیاست

**۱٦۹ ماده:**

واجب ده چې د تعلیمي نصاب اساس پر اسلامي عقیده ولاړ وي، ځکه نو درسي مواد او د تدریس طریقه باید داسې عیاره شي چې هېڅ شی په تعلیم او تربیه کې له دغه اساس څخه بهر نه وي.

**۱۷۰ ماده:**

د تعلیم سیاست د اسلامي عقلیت او اسلامي نفسیت تکوین دی، نو په تعلیمي نصاب کې به هغه مواد ځای پرځای کېږي چې د دغه سیاست پر بنسټ ولاړ وي.

**۱۷۱ ماده:**

د تعلیم موخه د اسلامي شخصیت جوړول او د ژوند د چارو په اړه خلکو ته علوم او معارف ورزده کول دي. ځکه نو د تعلیم طریقه باید داسې عیاره شي چې دا موخه تر لاسه شي او ټولې هغه طریقې چې له دې موخې پرته د بل څه لامل شي، منع کېږي.

**۱۷۲ ماده:**

لازمه ده چې د اسلامي او عربي زده کړې درسي ساعتونه د نورو مضامینو د شمېر او وخت له اندازې سره سم په پام کې ونیول شي.

**۱۷۳ ماده:**

واجب ده چې په تعلیم کې د ریاضیاتو په څېر د تجربوي علومو د هغو د ملحقاتو لکه ریاضي او فرهنګي معارفو تر منځ توپیر وشي، تجربي علوم د اړتیا او حاجت پربنسټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تدریسېږي او د تعلیم په هېڅ مرحله پورې مقید نه دي، مګر فرهنګي معارف په لومړنیو مرحلو کې چې له عالي مرحلې څخه مخکې دي، له یو ټاکل شوي سیاست سره سم چې له اسلامي احکامو او افکارو سره ټکر ونه لري، تدریسېږي، مګر په عالي دوره کې د نورو علومو په څېر په دغه شرط تدریسېږي چې د تعلیم له سیاست او موخې څخه د خروج لامل ونه ګرځي.

## ۱۷۴ ماده:

د اسلامي ثقافت تعلیم د زده کړو په هره مرحله کې لازمي دی او باید په عالي دوره کې د اسلامي معارفو مختلفې برخې په خاص ډول سره تدریس شي، لکه څرنګه چې د هندسې، طب او طبیعي علومو او داسې نورو برخو کې په دې مرحله کې تخصص ترلاسه کېږي.

## ۱۷۵ ماده:

فنون او صنعتونه لکه تجارتي فنون، کرنه او کښتۍ چلونه کله له علم سره تړلي وي او له کوم قید او شرط پرته اخیستل کېږي او ځینې وخت له فرهنګ سره یو ځای کېږي او له یوه ځانګړي نظر څخه اغېزمن وي لکه تصویر او مجسمه جوړونه، دا برخه که له اسلام سره ټکر ولري، نه اخیستل کېږي.

## ۱۷۶ ماده:

د تعلیم نصاب به واحد وي، د دولت له رسمي نصاب پرته به نورو نصابونو ته اجازه نه ورکول کېږي، خصوصي مدرسې که د دولت نصاب عملي کړي تعلیمي کړنلاره پرمخ یوسي د تعلیم هدف او موخه ترلاسه کړي، مخنیوی یې باید ونه شي، مګر په دغه شرط چې په زده کوونکو او ښوونکو کې د نارینه او ښځو تر منځ اختلاط نه وي، همدارنګه په یوه ډله، ځانګړي دین، مذهب، نژاد یا رنګ پورې مختص نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۷۷ ماده:

هغه تعلیم چې د انسان لپاره په ژوند کې اړین دی پر هر فرد، ښځینه او نارینه فرض دی، ځکه نو تعلیم پر ټولو په دوو پړاوونو (ابتدایي، ثانوي) کې الزامي دی، پر دولت لازمه ده چې نوموړې زده کړې د هر نارینه او ښځینه لپاره په وړیا توګه برابرې کړي، همدارنګه دولت باید د امکان تر وروستۍ کچې پورې په وړیا توګه د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي.

## ۱۷۸ ماده:

دولت به له ښوونځیو او پوهنتونونو پرته په نورو ځایونو کې هم کتابتونونه، لابراتوارونه او د علم او معرفت نور وسایل برابروي، تر څو د پوهې مینه والو ته په بېلابېلو برخو کې لکه فقه، د فقې اصولو، حدیث، تفسیر، عقیده، طب، هندسه، کیمیا، اختراعاتو او اکتشافاتو کې د تحقیق او څېړنو زمینه برابره کړي، ترڅو په امت کې ګڼ شمیر مجتهدین، مکتشفین او مخترعین را منځته شي.

## ۱۷۹ ماده:

د تعلیم په ټولو مرحلو کې د تالیف استثمار منع دی، هېڅوک که مولف وي او غیر مولف دا حق نه لري چې کتاب چاپ او خپور شي، بیا د چاپ حق هغه ته منحصر پاتې شي، مګر که داسې افکار ورسره وي چې تر اوسه چاپ او نشر شوي نه وي ورته جایزه ده چې خلکو ته د اعطا په بدل کې پیسې واخلي لکه هغه اجره چې په تعلیم کې اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بهرنی سیاست

### ۱۸۰ ماده:

سیاست د امت کورنۍ او بهرنۍ چارې سنبالول دي، چې د دولت او امت له خوا تر سره کېږي، دولت په عملي ډول دغه چارې پر مخ وړي او امت په دې هکله له دولت سره محاسبه کوي.

### ۱۸۱ ماده:

هېڅ فرد، حزب، ټولي او جماعت ته دا جواز نشته چې له کوم بهرني دولت سره اړیکې ولري. له دولتونو سره اړیکې یوازې د دولت صلاحیت دی، ځکه یوازې دولت دا حق لري چې د امت چارې عملاً سنبال کړي او پر امت او نورو ډلو واجب ده چې له دولت سره په بهرنیو اړیکو کې محاسبه وکړي.

### ۱۸۲ ماده:

هدف وسیلې ته مشروعیت نه شي ورکولای، ځکه طریقه د فکرې له جنس څخه ده، نو د حرامو له لارې واجب یا مباح ته رسیدل جواز نه لري او دا جایزه نه ده چې سیاسي وسیله له سیاسي طریقې سره ټکر ولري.

### ۱۸۳ ماده:

په بهرني سیاست کې سیاسي مانورونه یو اړین کار دی او د هغو ځواک او قوت د اعمالو په اعلان او د اهدافو په اخفا پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۱۸۴ ماده:

د نورو دولتونو د جرایمو د کشف او افشاکولو جرئت، د ناوړه سیاست د خطر بیان، د خبیثو توطیو بربنډول، د گمراه کوونکو اشخاصو له منځه وړل د سیاست له مهمو اسلوبونو څخه گڼل کیږي.

## ۱۸۵ ماده:

د افرادو، ملتونو او دولتونو د چارو په سنبالولو کې د اسلامي افکارو د عظمت او شوکت څرگندول له لویو سیاسي طریقو څخه گڼل کیږي.

## ۱۸۶ ماده:

د امت لپاره سیاسي قضیه هغه اسلام دی چې پیاوړی دولت ولري، شرعي احکام په حسنه توگه پلي کړي او نړۍ ته د اسلامي دعوت په رسولو کې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي.

## ۱۸۷ ماده:

اسلامي دعوت هغه محور دی چې بهرنی سیاست ورباندې څرخي، پر همدغه اساس له ټولو دولتونو سره اړیکې نیول کیږي.

## ۱۸۸ ماده:

دولت به د نړۍ له دولتونو سره د لاندې څلورو ټکو په پام کې نیولو سره اړیکې ساتي:

۱. په اسلامي نړۍ کې شته دولتونه به داسې گڼل کیږي چې ټول په یوه هیواد کې دي، ځکه نو له هغوی سره اړیکې په بهرنیو اړیکو کې نه راځي او له هغوی سره اړیکې بهرنی سیاست نه بلل کیږي او واجب ده چې د هغوی د وحدت لپاره د یوه دولت په شتون کې کار او فعالیت ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. هغه هېوادونه چې اقتصادي، تجارتي، فرهنګي او د ښه ګاونډيتوب معاهدې ورسره ليکل شوې، له هغوی سره به د همغه معاهدو په رڼا کې معامله کېږي. د هغوی اتباع د خپل هويت کارت په درلودلو سره د سفر له جواز پرته زموږ خاورې ته داخلېدی شي، خو په دغه شرط چې په معاهده کې دا ټکی صراحت ولري او دوی هم بالمثل رويه ولري. له هغوی سره اقتصادي او تجارتي اړيکې د اړتيا په اندازه، په ټاکلي کيفيت او صفاتو په ټاکلو اجناسو او هغو څيزونو کې ټينګيږي، چې د دوی د ځواکمنتيا لامل ونه ګرځي.

۳. هغه دولتونه چې له هغوی سره معاهدې نه لرو او استعماري دولتونه لکه بريتانيا، فرانسه، امريکا او هغه دولتونه چې زموږ پر خاوره د يرغل اراده لري لکه روسيه، دا ټول دولتونه د حکم له مخې محارب دولتونه دي، ځکه نو بايد د دوی پر وړاندې لازم تدابير ونيول شي او جايزه نه ده چې ډيپلوماټيکې اړيکې ورسره ټينګې شي. خو د دغو دولتونو اتباع زموږ خاورې ته د دخول حق لري، مګر د سفر د جواز او خاصې ويزې په درلودلو سره هر وګړی بايد د هر سفر لپاره نوموړي شيان له ځانه سره ولري، ترهغې چې هېواد يې عملا له موږ سره جګړه پيل کړي.

۴. هغه دولتونه چې بالفعل محارب دي لکه اسراييل، واجب ده چې له دغه ډول دولتونو سره په ټولو تصرفاتو او معاملاتو کې جنګي حالت اساس وګرځول شي او داسې معامله ورسره وشي لکه چې بالفعل زموږ او د دوی تر منځ جګړه ادامه لري، سره له دې که له موږ سره اوربند ولري که يې ونه لري، د رعيت د ټولو افرادو ننوتل يې زموږ خاورې ته منع دي.

## ۱۸۹ ماده:

نظامي، سياسي او دې ته ورته نورې معاهدې، همدارنګه د هوايي ډګرونو او پوځي اډو اجاره په قطعي ډول منع ده، خو د ښه ګاونډيتوب، اقتصادي، تجارتي، مالي او فرهنګي او د اوربند معاهدې جواز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۹۰ ماده:**

دولت ته جایزه نه ده چې په هغو سازمانونو کې چې له اسلام پرته پر نورو بنسټونو ولاړ دي، لکه نړیوال سازمانونه لکه ملګري ملتونه، د عدالت نړیواله محکمه، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک او د سیمه‌ییزو سازمانونو په څېر لکه عربي ټولنه کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخلاق په اسلام کې

اسلام هغه دین دی چې د الله سبحانه وتعالی له خوا پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی، ترڅو د خلکو اړیکې له خالق، خپل ځان او نورو انسانانو سره تنظیم کړي. د انسان او رب اړیکې یعنې عقاید او عبادات؛ له خپل ځان سره د انسان اړیکې یعنې اخلاق، خوراک او څښاک؛ له نورو انسانانو سره اړیکې معاملات او عقوبات بلل کېږي.

اسلام په دې ډول غواړي چې د ژوند ټولو ستونزو ته په ټولیز ډول ځواب ووایي او انسان ته په جزیي توګه نه، بلکې په ټولیزه توګه ګوري. نو له همدې امله د یوې لارې په واسطه ستونزې هواروي او نظام یې پر روحي اساس ولاړ دی. روحي ناحیه د ټولنې او ثقافت اساس جوړوي او همدا یې د دولت او شریعت اساس هم دی.

سره له دې چې په اسلامي شریعت کې هر نظام په دقیق او تفصیلي ډول سره بېل شوی لکه د عباداتو، معاملاتو او عقوباتو نظامونه او د اخلاقو لپاره یې مفصل نظام نه و را منځته کړی، له دې امله یې د اخلاقو احکام بې له دې چې اخلاقو ته په تفصیلي نظر وګوري، په دې باور چې دا د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي دي. حال دا چې اخلاقو ته هم ځانګړی اړخ ورکړل شوی چې له نورو څخه باید تفکیک شي. د احکامو د تفصیل له مخې یې اخلاقو ته کم تفصیل ورکړی او په فقه کې یې ځانګړی باب نه دی ورکړی. نو له همدې امله موږ په هغو فقهي کتابونو کې چې شرعي احکام پکې راټول شوي دي د اخلاقو په نامه کوم باب نه دی نومولی. همدا راز فقهاوو او مجتهدینو په اخلاقي احکامو کې د بحث او څېړنې په برخه کې دومره هڅه نه ده کړې.

اخلاق د ټولنې په جوړولو کې کوم ځانګړی اغېز نه لري، ځکه چې ټولنه د ژوند پر نظام ولاړه ده او په هغه کې افکار او احساسات اغېز لري، اما اخلاق د ټولنې په جوړولو، د هغې په پر مختګ او انحطاط کې هېڅ اغېز نه لري. بلکې عام عرف چې د ژوند له مفاهیمو څخه جوړ شوی وي په ټولنه کې اغېز لري، د ټولنې لپاره اخلاق هېڅ لاره نه شي ښودلی

(c) ketabton.com: The Digital Library


او دا هغه نظامونه دي چې په ټولنه کې پلي کېږي، هغه افکار او احساسات چې خلک يې له ځان سره لېږدوي، اخلاق هم په خپل ذات کې له افکارو او مشاعرو څخه سرچينه اخلي او د نظام د پلي کولو پايله بلل کېږي.

له همدې امله دا جواز نه لري چې په ټولنه کې اخلاقو ته دعوت وشي، ځکه اخلاق د الله سبحانه وتعالى د اوامرو پايله ده او دا عقيدې ته له دعوت څخه لاس ته راځي او په عام ډول د اسلام د پلي کولو له امله رامنځ ته کېږي. همدا راز که په ټولنه کې اخلاقو ته دعوت وشي، نو له ژوند څخه د مفاهېمو د بدلون لامل کېږي او خلک د ټولنې له حقيقت او ارزښتونو څخه لرې کوي او خلکو ته فردي فضايل په تخديري توگه ورښيي چې د ټولنې د پرمختگ له حقيقي وسايلو څخه خلک بې پروا کوي.

پر دغه اساس دا گواښ موجود دی چې اسلامي دعوت به يوازې اخلاقو ته پر دعوت بدل کړي، د دې وېره شته چې خلک گومان وکړي چې اسلامي دعوت يو اخلاقي دعوت دی او له اسلام څخه فکري تصور بدلوي او پر اسلام د خلکو د نه پوهېدو لامل کېږي. خلک د اسلام د پلي کولو له يوازينۍ لارې څخه چې د اسلامي دولت تاسيس دی، لرې کوي.

اسلامي شريعت د انسان اړيکه له خپل ځان سره له خپلو اړونده اخلاقي شرعي احکامو سره سمه معالجه کړې ده؛ خو د عباداتو او معاملاتو په څېر يې ورته ځانگړي نظامونه نه دي جوړ کړي، مگر ځينې ټاکلي ارزښتونه يې په پام نيولي دي، چې الله سبحانه وتعالى امر ورباندې کړی، لکه صدق، امانت، خيانت او کينه نه کول. خو دا ټول مکارم او فضايل له يوه څيزه حاصلېږي چې هغه پر اخلاقي ارزښت د الله سبحانه وتعالى امر دی. نو امانت هغه خُلُق دی چې الله سبحانه وتعالى امر ورباندې کړی دی، نو دا واجب ده چې د دغه اخلاقي ارزښت د پر ځای کولو خيال وساتو. نو په همدغه سره اخلاقي ارزښت تحقق مومي، چې اخلاق يې بولي. اما د دغه صفتونو لاس ته راوړل چې د اعمالو له پايلو څخه لاس ته راځي لکه هغه پاک لمني چې د لمانځه په واسطه تر لاسه کېږي، يا هغه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملاتو کې د وجایبو مراعات کول لکه په بیع کې صدق، په دې کې اخلاقي ارزښت نه تر لاسه کېږي، ځکه چې د عمل موخه دا نه وه، بلکې حاصل شوي صفات د اعمالو پایلې وې او د واجب امر رعایت و، چې د مومن لپاره هغه وخت خُلُقي صفات دي چې د الله سبحانه وتعالی عبادت کوي او یا معاملات ترسره کوي. ځکه مومن په لومړي نیت سره له لمانځه څخه روحي ارزښت ترلاسه کړ او په دویم قصد سره چې معامله وه (په سوداګرۍ کې یې) مادي ارزښت تر لاسه کړ، خو همدا مهال په اخلاقي صفاتو سره هم وستایل شو.

شریعت هغه صفات بیان کړي چې نېک اخلاق او یا بد اخلاق بلل کېږي. نو ښو اخلاقو ته یې انسانان هڅولي او له بدو څخه یې منع کړي دي: صدق، امانت، ورین تندی، حیاء، له مور او پلار سره نیکي، زړه سوی، له غمونو څخه ځان ایستل، څوک چې د ځان لپاره څه خوښوي خپل ورور ته یې هم خوښ کړي او دغو ټولو ته یې د الله سبحانه وتعالی د اوامرو د پیروۍ له مخې انسانان هڅولي دي او د دغو له اضدادو څخه لکه دروغ، خیانت، کینه، فجور او نورو څخه یې د الله سبحانه وتعالی له نهی سره سمه منع کړې ده.

اخلاق د همدغه شریعت یوه برخه ده او د الله سبحانه وتعالی له اوامرو او نواهیو څخه ګڼل کېږي. د مسلمان په نفس کې یې له شتون پرته پر اسلام بشپړ عمل نه کېږي او د الله سبحانه وتعالی پر اوامرو عمل بشپړوي. بې له دې چې په ټولنه کې د اسلامي احساساتو له رامنځته کولو او د ډلې په غړو کې د اسلامي افکارو تحقق یوه اړتیا ده او په هېڅ صورت دا اخلاقو ته په دعوت سره نه تر لاسه کېږي. په دغه لاره سره تر لاسه کېدای شي، چې افکار او احساسات رامنځته شي، سره له دې چې په پیل کې غوښتنه د دې وي چې باید کتله په ټول اسلام سنبال وي. په کتله کې افراد د ډلې د برخو په څېر وي، نه داسې چې مستقل افراد وي، ترڅو په ټولنه کې اسلام په بشپړه توګه ورسوي. نو دا مهال اسلامي افکار او احساسات رامنځته کېږي، انسانان په اخلاقو کې پوځ-پوځ شاملېږي یعنې لومړی په اسلام کې پوځ-پوځ داخلېږي او دا زموږ دا خبره څرګندوي چې اخلاق د الله سبحانه وتعالی د اوامرو د پلي کولو لپاره اړینه لازمه ده او په دې ټینګار کېږي چې مسلمان باید په نېکو اخلاقو سنبال وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تحقیق سره الله سبحانه وتعالی د قرآن شریف په ډېرو سورتونو کې د انسان هغه صفات چې ضرور باید ورباندې متصف شي بیان کړي دي. نو ترلاسه کول یې واجب دي، دغه صفات عقاید، عبادات، معاملات او اخلاق دي. همدا راز دا حتمي ده چې څلور واړه صفات به سره یو ځای شتون مومي. الله سبحانه وتعالی په لقمان سورت کې فرمایي:

﴿وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ ۖ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ (١٣) وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ (١٤) وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ۚ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ (١٥) يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُن فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ (١٦) يَا بُنَيَّ أَقِمِ الصَّلَاةَ وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ ۖ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ (١٧) وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ (١٨) وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ (١٩)﴾ (لقمان: ١٣-١٩)

***ژباړه:*** *یاد کړه هغه وخت چې لقمان خپل زوی ته نصیحت کاوه، نو هغه وویل: زویه له الله تعالی سره څوک مه شریکوه، حق دا دی چې شرک ډېر لوی ظلم دی. موږ انسان ته د خپل مور و پلار د حق پېژندنې تاکید کړی دی، مور یې د کمزورۍ د پاسه کمزورۍ په حال کې هغه را اخیستی، په خپله ګېډه کې یې وساته او دوه کلونه یې په تي ورکولو ولګېدل. له همدې امله موږ هغه ته نصیحت وکړ چې، زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پر ځای کړه. همدا زما لوري ته ستا راګرځېدل دي. خو که هغوی پر تا فشار راولي چې له ما سره ته داسې څه شریک کړې چې تا ته د هغه معلومات نه وي، نو خبره یې هېڅکله مه منه. په دنیا کې له هغوی سره غوره چارچلند کوه، خو پیروي د هغه چا د لارې وکړه چې زموږ لوري ته یې رجوع کړې ده. بیا ستاسې ټولو راګرځېدل همدا زموږ لوري ته دي. په هغه وخت کې به زه تاسې ته در وښیم چې تاسې څه عمل کاوه*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*(او لقمان ویلي وو چې) زویه! یو شی (نیکي یا بدي) که د سپېلني د دانې په اندازه هم وي او په کومه لویه ډبره یا په آسمانونو یا ځمکه کې پټ شوی وي، الله به هغه را وباسي. الله باریک بین او باخبره دی. زوی کیه! لمونځ قایم کړه، په نېکۍ امر وکړه، له بدۍ نه منع وکړه او هر مصیبت چې درباندې راشي، صبر ورباندې وکړه. دا هغه خبرې دي چې ډېر تاکید یې شوی دی او له هغو خلکو سره په مخ اړولو خبرې مه کوه، پر ځمکه مغرور مه ځه، الله هېڅ یو په ځان مین او ویاړ نښکاره کوونکی انسان نه خوښوي. په خپل تګ کې میانه روي غوره کړه او خپل غږ لږ ټیټ کړه او له ټولو آوازونو څخه ډېر بد آواز د خرو وي.*

په فرقان سورت کې فرمايي:

**﴿وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا (٦٣) وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا (٦٤) وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا (٦٥) إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا (٦٦) وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا (٦٧) وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا (٦٨) يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا (٦٩) إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا (٧٠) وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا (٧١) وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا (٧٢) وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا (٧٣) وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا (٧٤) أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا (٧٥) خَالِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا (٧٦)﴾** (فرقان: ٦٣- ٧٦)

***ژباړه:*** *د رحمان اصلي بنده ګان هغه دي چې پر ځمکه ورو ځي او که جاهلان يې مخې ته راشي، نو وايي تاسې ته سلام. هغه کسان چې د خپل پروردګار پر وړاندې په سجدو*

(c) ketabton.com: The Digital Library


او قیام شپې تېروي. هغه کسان چې دعاګانې کوي، چې اې زموږ پروردګاره موږ د دوزخ له عذابه وساته. د هغه عذاب خو راپسې کېدونکی دی. هغه خو ډېر ناکاره هستوګنځی او ځای دی. هغه کسان چې کله لګښت کوي، نو نه بې ځایه لګښت کوي او نه بخیلي؛ بلکې د هغوی لګښت د دغو دواړو سرحدونو په منځ کې په منځلارۍ ولاړ وي. هغه کسان چې له الله پرته کوم بل معبود نه بولي، هغه نفس په نا حقه نه وژني، چې الله تعالی حرام کړی وي او نه زنا کوي؛ خو هر څوک چې دغه کار وکړي، هغه به د خپلې ګناه بدله ومومي. د قیامت په ورځ به هغه ته مکرر عذاب ورکړل شي او په هماغه کې به د تل لپاره ذلیل پروت وي. مګر دا چې چا (له دغو ګناهونو څخه وروسته) توبه ایستلې وي او ایمان یې راوړی وي او غوره عمل یې کړی وي؛ د دغسې خلکو بدی به الله په نېکیو بدلې کړي او الله نېه بښونکی او پوره مهربان دی. څوک چې د توبې په ایستلو نېک عملي غوره کوي، هغه نو د الله تعالی لور ته داسې راګرځي، لکه څرنګه چې د ګرځېدلو حق دی. (د رحمن بنده ګان هغه دي) چې د دروغو شاهدي نه وایي او که پر کوم بابېزه شي ورشي، نو د شریفو انسانانو په څېر ورڅخه تېرېږي. دوی ته که د خپل پروردګار د آیتونو په اورېدلو نصېحت کېږي، نو ځان ړوند او کوڼ نه ورباندې اچوي. هغه کسان چې دعاګانې کوي چې اې زموږ پروردګاره! موږ ته د خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو یخنې راکړه او موږ د پرهېزګارانو امامان کړه، دغه دي هغه کسان چې د خپل صبر مېوه به د دنګې ماڼۍ په بڼه کې ومومي. په آدابو او سلامونو سره به یې هرکلی کېږي. هغوی به د تل لپاره هلته اوسېږي. څومره ښه دی هغه استوګنځی او هغه ځای.

په الاسراء سورت کې الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (٢٣) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (٢٤) رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ ۚ إِن تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا (٢٥) وَآتِ ذَا الْقُرْبَىٰ حَقَّهُ وَالْمِسْكِينَ وَابْنَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



السَّبِيلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا (٢٦) إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ ۖ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا (٢٧) وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِّن رَّبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا (٢٨) وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا (٢٩) إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيراً بَصِيراً (٣٠) وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيراً (٣١) وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا ۖ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا (٣٢) وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۗ وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِف فِّي الْقَتْلِ ۖ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا (٣٣) وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۚ وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ۖ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا (٣٤) وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا (٣٥) وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا (٣٦) وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا (٣٧) كُلُّ ذَٰلِكَ كَانَ سَيِّئُهُ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا (٣٨)﴾ (الاسراء: ٢٣- ٣٨)

***ژباړه:*** *ستا رب پرېکړه کړې ده، چې تاسې له الله پرته د بل هېچا عبادت مه کوئ، له مور او پلار سره نېه چارچلند وکړئ. که له تا سره له هغو نه یو یا دواړه زړښت ته ورسېږي، نو هغوی ته اف قدري هم مه وایه. مه هغو ته سخت ځواب ورکوه، بلکې له هغوی سره په درناوي خبرې کوه او په نرمی او رحم سره د هغوی پر وړاندې مات غاړی اوسه او دا دعا کوه چې (پروردګاره پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی له زړه سوي او خواخوږی سره په ماشومتوب کې زه پاللی وم)، ستاسې رب ښه پوهېږي چې ستاسې په زړونو کې څه دي. که تاسې صالحان یاست، نو هغه د دغسې کسانو لپاره ښښنه کوونکی دی، چې خپل نیمګړتیاوو ته په متوجه کېدو د بنده ګۍ د سمې کړنلارې لوري ته را واوړي. د خپلوانو، مسکینانو او مسافرو حق پوره ورکړه او بې ځایه لګښت مه کوه، بې ځایه لګښت کوونکي د شیطان ورونه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی. که ته له هغو (یعنې اړو خپلوانو، مسکینانو او مسافرو) نه ځنګ وکړې، په دغه اساس چې تر اوسه د*

(c) ketabton.com: The Digital Library


*الله د هغه رحمت په لټه کې یې چې ته یې هیله من یې، نو هغو ته نرم ځواب ورکړه. نه خپل لاس تر غاړې تړه او مه یې بیخي داسې غزولی پرېږده چې پړ او بې وسه پاتې شي. ستا رب چې چا ته غواړي روزي پراخوي او چاته یې چې خوښه شي، تنګوي یې. هغه د خپلو بنده ګانو له حاله باخبر دی او هغویویني. خپل اولادونه د بېوزلی له وېرې مه وژنئ، موږ به هم تاسې او هم هغوی ته روزي ورکړو. په حقیقت کې د هغو وژل ستره ګناه ده. زنا ته مه نژدې کېږئ، هغه ډېر ناوړه کار دی او ډېره بده لاره ده. هغه نفس مه وژنئ، چې الله حرام کړی دی، مګر په حق سره او څوک چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې حق ورکړی دی. نو پکار ده چې د هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړئ، له هغه سره به مرسته وشي. د یتیم مال ته مه نژدې کېږئ، خو په ډېره ښه طریقه تر هغه پورې چې هغه د خپلې ځوانۍ منګ ته ورسېږي. د ژمنې پابند اوسئ. دا یقیني ده چې د ژمنې په اړه به تاسې پوښتل کېږئ او که په پېمانه ورکړه کوئ نو پوره یې ډکه کړئ. که تله کوئ نو په سم ترازو یې وکړئ، دا ښه کړنلاره ده او د عاقبت له پلوه هم همدا ډېره غوره ده. هغه څه مه تعقیبوه چې تا ته د هغه علم نه وي. غوږونه، سترګې او زړه هر څه هرومرو پوښتل کېږي. پر ځمکه مغرور مه ځه، ته نه ځمکه څیرولی شې، نه د غرونو هسکوالي ته رسېدلی شې، له دغو چارو نه د هر یو بد اړخ ستا پروردګار ته ناوړه دی.*

نو په درې واړو سورتونو کې دغه آیتونه د بېلابېلو صفتونو څرګندوی دي، چې د مسلمان صورت ښیي او اسلامي شخصیت په ذات کې له نورو څخه بېلوي او په وضاحت سره څرګندیږي، چې د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي دي، چې احکام یې په عقیده عباداتو، معاملاتو او ځینې یې هم په اخلاقو پورې اړه لري. خو دا ورڅخه په بشپړه توګه څرګندېږي چې دا یوازې په اخلاقو کې نه شي سره راټولېدلی، بلکې له عقیدې، عباداتو، معاملاتو او اخلاقو څخه جوړ شوي دي او دا هغه صفات دي چې اسلامي شخصیت ورڅخه جوړیږي. خو له اخلاقي پلوه نیمګړتیاوې د پوره سړي او اسلامي شخصیت نیمګړتیاوې دي. ځکه ترڅو هغه موخه ترلاسه شي چې خامخا به په روحي بنسټ ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او هغه اسلامي عقيده ده او په دې سره متصف کېدل پر همدغه عقيده ولاړ دي. نو له همدې امله يو مسلمان پر صدق په داسې شان سره نه متصف کېږي چې د صدق په ذات متصف شي، بلکې له دې امله وربانديې متصف کېږي چې الله سبحانه وتعالی ورته امر کړی دی او که کله د اخلاقي ارزښت د لاسته راوړلو مراعات کوي، نو ريښتينی وي. نو د اخلاقو په ذات سره انسان نه متصف کېږي، بلکې د الله سبحانه وتعالی د امر له مخې دا ارزښتونه ترلاسه کوي.

له همدې امله خامخا مسلمان ته پکار ده چې په داسې صفاتو ځان سنبال کړي او په خوشالۍ او غاړه اېښودلو سره چې د تقوا لامل کېږي هڅه وکړي او دا د عباداتو له پايلو څخه لاس ته راځي:

﴿...إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ...﴾ (العنکبوت: ۴۵)

***ژباړه:*** *په تحقيق سره لمونځ له فحشا او منکر څخه منع کوي.*

دا هم واجب ده چې په معاملاتو کې هم د الله سبحانه وتعالی اوامر ومني: (الدين المعاملة) "دين معامله دی." سره له دې چې ځانګړي اوامر او نواهي دي، نو دا يې د مسلمان په نفس کې تثبيتوي او لازمه شيمه او توان وربښي. نو دا په انسان پورې اړه لري چې اخلاق د ژوند له نورو نظامونو سره يو ځای کړي، سره له دې چې مستقل او ځانګړي صفات دي او مسلمان په ښه شکل سره صالح جوړوي. پر اخلاقو متصف کېدل د الله سبحانه وتعالی اوامرو او نواهيو ته ځواب ويل دي، ځکه دغه اخلاق په ژوند کې ګټه او زيان رسوي. دا هغه څه دي چې په نېکو اخلاقو تل ثابت وي او هغه مسلمان د اسلام د پلي کولو لپاره په هڅو سره ثابت کړي دي. دا هسې نه راچاپېر کېږي لکه منفعت چې له انسان څخه چاپېر کېږي، ځکه له اخلاقو څخه موخه منفعت نه دی، بلکې دا واجبه ده چې منفعت پکې نه وي، ځکه موخه مو مادي، انساني او روحي ارزښتونه نه، بلکې يوازې اخلاقي ارزښتونه دي. هېڅ جواز نه لري چې دا ډول ارزښتونه دې پکې ورګډ شي چې پر هغو په عمل کولو او يا اتصاف کې ستونزې رامنځته کړي. کومه پاملرنه چې دلته اړينه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه دا ده چې مادي ارزښتونه به له اخلاقي ارزښتونو څخه لرې ساتل کېږي او دا هم اړینه ده چې د ګټو له مخې د دغې ارزښتونو عملي کول د اخلاقو لپاره لوی ګواښ او خطر دی.

پایله: اخلاق د ټولنې له بنسټونو څخه نه دي، بلکې د فرد ارزښتونه دي. له دې امله ټولنه په اخلاقو سره نه اصلاح کېږي، بلکې په اسلامي افکارو، احساساتو او اسلامي نظامونو په پلي کېدو سره اصلاح کېږي. سره له دې چې اخلاق فردي ارزښتونه دي، خو یوازې اخلاق هم نه دي، بلکې یوازې اخلاق نه شي کولای ترڅو عقاید، عبادات او معاملات ورسره مله نه شي. نو له همدې امله دا هېڅ اعتبار نه لري چې د یو چا اخلاق ښه وي، خو عقیده یې غیر اسلامي وي، دا پر دې مهال هم کافر دی او له کفر وروسته بله ګناه نشته. همدا راز که د چا اخلاق نېک وي، خو عبادات نه کوي او یا یې معاملات د شریعت له مخې نه وي، کوم ارزښت نه لري. نو د یوه فرد په جوړښت کې عقیده، عبادات، معاملات او اخلاق ټول ونډه لري. شرعا دا روا نه ده چې یو څوک یوازې اخلاقو ته پام وکړي، خو پاتې نور صفات پرېږدي. دا روانه ده چې په عقیده کې یې ډاډ نه وي ترلاسه کړی، په نورو برخو کې هڅه وکړي. په اخلاقو کې اساسي امر دا دی چې بنسټ به یې پر اسلامي عقیده ولاړ وي او له دې امله مومن پر اخلاقو متصف کېږي، چې د الله سبحانه وتعالی اوامر او نواهي دي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

امت کتاب
www.ummatproduction.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**